درملو په مرسته لري شي نو دغه تګلاري ته برانکوسپزموليز
ويل کيږي
Bronchospasmolytika هغه درمل چې د برانښيل د عضلاتو
شخي يا کرمپ له مينځه وړي



www.ketabton.com

Bronchospamus د برانښو (برانکو) یا هوایی لارو تشنج یا شخي

Bronchostenose د برانښ تنګوالئ

Bronchotomie د جراحی عملیات په مرسته د برانښو پرانستل

bronchus د هوایی یا تنفسي لارو بنسټیز یا اصلي څانګه یا شاخچه

bulbus (lat.) له لاتینې کلمې څخه اخستلې شوې چې د پیاز معنی ورکوي او په اناتومي کې پیاز ته ورته جوړښت یا د اورګان یوې برخې ته وایي چې ورته نوم یا متشابه نوم یې میډولا اوبلانګاټا دئ

bursa کڅوړه یا خلطې ته ورته یوه خالي سیمه، خالي کوټه یا خالي جوف له موکوز مخاط څخه ډکه جوړه شوې کڅوړې ته وایي لکه بورسا سینیوویالیز، هغه اوبه یا مایع چې د مفصل له کپسول څخه افراز کېږي

**C**

Caecum, Colon, Rektum) لویې یا غټې کولمې له درې برخو جوړې شوې: چې عبارت دی له خیکم یا کیکوم یا ړنده کولمه، کولون او ریکتوم

caeco ـ ( lat. caecus), caeko- کیکو له لاتنې کلمې کیکوس څخه اخستلې شوې چې دکلمې هغه برخه ده چې ړوند معنی ورکوي

caecal هغه څه چې خیکوم یا ړندې کولمې پورې اړه لري

Caecum ړنده کولمه چې تقریباً 7 سانتي متره اوږدوالئ لري

Caecum altum congenitum د زېږون له وخته په غیر اناتومیکه سیمه کې یعنې پورته یا لوړه سیمه کې دې خیکوم شتوالئ یا ځای



www.ketabton.com

Caecum cupulaer د ړندې کولمې کوپړۍ، ګونبده
Caecum mobile هغه څیکوم چې غیر نورمال
اوږدوالئ لري، په تېره یو ښوریدونکې یا متحرکه ړنده کولمه
Caecus (lat.) کیکوس لاتینی ژبې څخه اخستلی
شوی ده چې ړوند معنی ورکوي د وړو کولمو پای او د لوی
کولمو پیل ته څیکوس یا څیکوم نومولئ شوی

calcaneo- ( lat. Calcaneus) = Ossa tarsi د پښې تلې، د
پښې د تلې هډوکئ
calcaneus = Ossa tarsi د پښې دې تلې یو هډوکئ دئ
caliculus خوند، مزه، ذوق، سلیقه
calix (lat.) یوه پیاله (چې ډیره له شیشی څخه جوړه
شوي، چې لاستئ ونلري)، شیشې ګیلاس، جام
ګلدان او په بدن کې د یوه خالي یا جوف لرونکی اورګان یوې
برخې ته ویل کېږي
Calix renalis دې بډوډۍ کالیکس، کالیکز
callositas ( lat. Callus) کلک، سخت پوستکئ یا جلد
Hyperkeratose د اپیدرمیز دې ستراتوم کورنیوم
ډبلوالي یا پاړسوب ته وایي بې له دې چې دې پوستکي
ټېټې برخې مصاب شوې وي
calor (lat.) لاتینه کلمه ده چې تودوالئ یا ګرمي معنی
ورکوي چې دې سړو ضد دی
calorie (1cal, international unitysystem = 4,1855 J) J = Joule
یو کالوري چې یو نړیوال ستندرد سیستم دئ چې
مساوی ده له 4،1855 ژوال سره
color رنګ ته وایي



www.ketabton.com

calx, calcis: یوه معنی یې د پښې وروستي برخه یا پونده. 2. دویمه معنی یې له منګ څخه جوړې شوې تیږې دي

canaliculus وړوکئ کانال

canalis (lat. ) کانال

Canalis analis د انال کانال چې له کولومنا انالیز څخه تر انوس پورې رسیږي

capillare د وېښتو په شان نري یا نازک د وینې رګونه

capillaris هر هغه څه چې وېښتو ته ورته نري د وینې رګونو پورې اړه لري

capillus (lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې اصلي وېښته، دې بریتو وېښته ، دې سر وېښته

caput د سر یا کوپړۍ معنی لري (همدارنګه د بندونو او د ) عضلاتو سر ته هم ویل کېږي

Caput costae د پوښتۍ ککره یا سر

Caput humeri د لاس د پورتني برخې د هډوکي سر

Caput pancreatis د پانکریاس سر

Carcinoma in situ د کارسینوم هغې مرحلې ته ویل کېږي چې تومور یوازي په اپیتیلیوم پورې اړه او یا محدود پاتي وي او له پولې بلې خوا ته نه وي اوښتئ او همدارنګه یې لېږدونه یا میتستاز هم نه وي ورکړئ

cardio- , cardi زړه، د زړه خوني یا د زړه بطینات

cardia د ګېډې یا معدې لومړنۍ یا پورتنۍ خوله چې د خوړو له تولۍ یا مرۍ سره نښتې ده

caries وروست، پوده، خرابشوی، د هډوکو د خرابېدلو پروسه لکه په غاښوو کې



www.ketabton.com

caro غوښه معنی ورکوي
caroticus د پاکې وینې یا اکسیجن لرونکې وینې هغه رګونه چې سر یا کوپړۍ پورې اړه لري
Glomus caroticum دې ارتیریا کاروتز کومونیز په ویشل شوې سیمه کې یا په هغه سیمه کې چې د ستوني یا ورمېږه د وینې ګډ رګ چې په دوه برخو یو دننه خوا او بل د باندې خوا ویشل کېږي په همدغه ځاي کې د ښیموریسپتور یا شیموریسپتور شتوالي ته وایي چې د پاراګانګلیون ضد دي
Glomus د تارو کلوله، ټولنه، جمیعت، ګروه
carotis (lat. = gr.) د غاړې د پاکې وینې لرونکئ رګ، تیګې وهوونکئ رګ یا ضرباني رګ چې درې رګونه سره یوځای کېږي چې بیا ورته ارټېریا کاروتس کومونز نوم ورکول شوئ دی لکه دا لاندې
Arteria carotis د غاړېیا ورمېږ شریان
Carpometacarpeus د لاس د ورغوي د هډوکو له جملې څخه دئ یاد لاس ورغوي پورې اړه لرونکئ
Ligamentum carpometacarpeum هغه لیګمنټوم یا بندونه چې د لاس د ورغوي د هډوکو تر مینځ شتون لري
carpus = Ossa carpi د لاس ورغوئ، کف دست البته د اناتومي جوړښت له مخې
cartilagineus غضروف ډوله، غضروفي
cartilago غضروف
Cartilago arytenoidea د اناتومي کتاب د کتنې وړ دئ چې د لارینګس په سر د میشته وړو غضروفونو ته وایي
Cartilago cricoidea د لارینګس یا حنجرې یا حلق ګرده یا حلقوي غضروف
Cartilago thyroidea د جاغور یا د تیروئید د غدې غضروف



www.ketabton.com

casus (lat.) لاتینه کلمه ده چې پېښه، حالت د ناروغي پېښه معنی لري

Casus communis یعنې کله چې څو پېښې په یوه وخت پېښې شي، ګډې پېښې

catheter کتیتر یا سونډ هغه ټیوب یا نلکه ده چې مینځ یې خالي ده او د هغه په مرسته د بدن دننه غیر طبعی اوبه او ځوې یا چرک لکه د آبسې یا وروسته له جراحي عملیات څخه بهر ته باسي

cauda لکۍ، د یو اورګان وروستۍ سیمه یا برخه

Cauda pancreatia د پانکریاس لکۍ

caudalis هر هغه پېښې چې لکۍ پوري اړه لرونکې وي

caverna هغه څه چې تشو، خالي او یا مجوفو خونو پورې اړه لري

cavernosus هغه سیمه چې له تشو، خالي کوټو یا خونو څخه ډک وي

Cavitas یو خالي یا تش ځاي یا خالیګاه، تشه خونه، جوف

Cavitas cranii د کوپړي جوف

Cavitas dentis د غاښ جوف

Cavita nasi د پوزې یا پزې جوف

Cavitas oris = Vestibulum د خولې جوف

Cavitas peritonialis د پیریتوانیال جوف

Cavitaspulparis = Cavitas subarachnoidea کاویتوز پولپاریز د غاښ د کرون یا تاج کې د سورکې شتوالي ته وایي خو په اناتومي کې بیا د سب ارکنوئیدیا جوف یا خالي سیمه ښودله شوې ده

Cavitas uteri د رحم جوف



www.ketabton.com

Cavitas glenoidalis دا د ولي يا شانه د بند
يا د مفصل هغه هواره سيمه يا کړايي ډوله جوړښت يا طبی
ته ورته جوړښت ده چې د متې هډوکي سره يا د
هيوميروس له هډوکي سره په اړيکه يا تماس کې ده
Cavitas thoracis د ټټر، صدر يا تورکس جوف
Cavum( lat. ) = Cava, Cavus, Cavitas تش او خالي
ځای، جوف، تشه خونه، خالي خونه
Cavum conchae د غوږ په پورتنۍ سيمې کې
د شخو او نوې پيدا شوې ګونجو ته واي
Cavum Douglasi د دوګلاس خونه يا جوف
Cavum tympani د غوږ د مينځنۍ برخې جوف
ته وايي چې په هغه کې د اورېدلو واړه هډوکي شتون لري
cecum ړنده کولمه چې له کيکوس، کيکا چې ړوند
cecus, ceca معنی ورکوی اخستلی شوی ده
Cele ( gr. -kele) ماتېدل، چوره يا فتق يا هيرنيا

-cele(gr. kéle) له يوی يونانی کلمې (کلي) څخه
اخستلې شوي ده چې په ابدومن کې د ابدومينال د ديوال د
ځينيو کمزورو سيمو څخه د باندي راوځي چې عوام خلک
چوره يا فتق ورته وايي
Cyctocele د ادرار يا ميتيازو د ټوليدنې د کڅوړې يا مثانې
چوره يا بهر ته ځوړنديدلو ته وايي
Rectocele د لويو يا غټو کولمو د پاي برخې
يا ريکتوم چوره چې دغه ټولې چورې د ابدومن د دننه فشار
له کبله مينځ ته راځي
cele, celeris, celer (lat.)،(Pulsus celer) لکه ګړندئ نبض،
ګړندئ، چټک، تيز
celiacus د ابدومن د جوف سره اړيکې لرونکي



www.ketabton.com

cella ( lat.) ژوانکي، حجري، خالي کوټه، جوف لرونکې کوټه

Cementum (lat. Caementum) ټوټه شوې تيږه، سيمټې
خښتې

Cement سيمينټ څخه دلته هدف دغاښ دئ

cephalo- (gr. Kephale) سيفلو له يوې يوناني کلمې کيفلو
څخه اخستلې شوې ده چې سر يا ککره نومېږي

cerato-, (kerato-) سخت پوستکئ، اهکي مواد لکه
ښکر يا شاخ

Cerebellum ( lat.) وړوکئ مغز، وړوکئ دماغ

cerebro- (lat. cerebrum) سيريبرو له يوی لاتينی کلمه
سيريبروم څخه اخستلې شوې ده چې لوي مغز يا لوي دماغ
نومېږي

Cerebrospinal مغز او حرام مغز يا شوکي نخا

Cerebrum = syn. Telencephalon مغز يا دماغ

aqueductus د اوبو د بهيدلو نلونه يا هغه نلونه چې
اوبه په کې بهېږي

Aqueductus cerebri = Aqueductus mesencephalie

Cerumen, ceruminis هغه زېړ رنګه، پاسته يا نرم مواد
چې په غوږ کې جوړيږي سيرومين نومېږي

cervico- (lat. Cervix) سيرويکو له لاتينې ژبې سيروکس
څخه چې غاړه، ورمېږ نومېږي اخستلي شوي

cervicis uteri / cervix uteri د رحم غاړه، هغه
واټن ده چې د رحم د تنې(کارپوس) او اخرينی برخې يا
پورسيو تر مينځه پرته ده

Cervix vesicae د مثانې ورمېږ، غاړه

cheilo-, chilo-(gr. heilos) ښيلو يا شيلو له يوناني کلمې
ښيلوز څخه چې شونډې نومېږي اخستلې شوې ده



www.ketabton.com

Cheilitis د شونډو التهاب
Cheilognathopalatochisis په شونډو، پورتنۍ ژامې
يا مكزيلا او تالو كې چاودونه، درز يا درزونه ته وايي
چې دغه حالت بيا دې اوبو او خوړو په تيرولو كې ستونځې
مينځ ته راوړي او وروسته ورسره په غړېدو كې ستونزې
مينځ ته راځي
Gnatho- ژامې (مكزلا او منديبولا) ته ويل كېږي
palato-،Gaumen په خوله كې پورتنۍ ژامه، تالو يا كام
Cheilognathochisis د شونډو، ژامې، درز، چاودونه
يا په دو برخو بېلېدنه
-chisis چاودونه درز، بېلېدنه، وېشنه
Cheilochisis د شونډو په مينځ كې درز يا چاودونه
cheilotomie د شونډو پرانستل يا شق كول البته د
جراحي عمليات په مرسته
cheiro-, chiro-(gr. cheir) له يوناني كلمې ښېر څخه
چې لاس، لاسي كار نومول شوئ اخستلې شوې ده چې
هدف ترې جراحي عمليات يعنی د لاسو په مرسته درملنه ده
Cheiromegalie لويه يا پراخه جراحي

Chemotaxis (-taxis, gr. Taxis) ټكسيز په يوناني ژبه
كې سمېدل، رغېدل، منظم كېدلو ته ويل كېږي
ښيمو ټكسيز يعني د ښيميايي موادو په مرسته درملنه.
Chirotherapie د لاسی كار يا جراحي عمل په مرسته درملنه
Chirurg جراح
Chirurgie هغه پوهه يا علم ده چې له لاسي كار څخه
په درملنه كې تري كار اخستلئ كېږي
Cholagoga د تريخي دې ترخو موادو
يا صفراوي موادو خوځونكي يا محركو موادو ته خولاګوګا وايي



www.ketabton.com

هغو موادو ته ویل کېږي چې د خوځونکي، -agoga
تحریکونکي عمل اثر لرونکي وي
هغه لار یا قنات چې د تریخي cholangio-
ترخه مواد ترې تېرېږي صفراوي قنات یا خولانجو ښودل شوي
د رادیولوژي یا د وړانګو په Cholangiographi
مرسته د خولانګیو، خولانجیو (صفراوي قنات) ښودنه
د خولانګیو پاړسوب Cholangiom
یوه ریتروګراد Cholangiopancreaticographie
یا په مخالف جهت د صفراوي قنات او پانکریاس ښودنه
د صفراوي قنات یا د خولانجیو ناروغیو Cholangiopathie
ته ویل کېږي.
د خولانجیو التهاب Cholangitis
خول، خولو له یوناني کلمې chole-, cholo- (gr. cholos)
خولوز څخه چې د تریخي ترخو موادو ته وایي
د جراحي عملیات Choledochodudenostomie
په مرسته د خولیډوکوس یا صفراوي لارېږ یا قنات او
ډیډینوم تر مینځ یوې نوې اړیکې ته وایي
خولیډیکوس لاتینه کلمه ده چې Choledochus
د صفرا د لېږدونې دنده په غاړه لري یا صفراوي لاره یا قنات
د صفراوي موادو choledocho-(Ductus choledocus)
د لېږدونې اصلي یا ټولیزه لاره
د صفراوي لارو یا لارې کاڼي Choledocholithiasis
د خولیدیکو لیدنه د اندوسکوپ Choledochoskopie
په مرسته
د خولیدوکوس تنګوالئ Choledochusstenose
صفراوي کاڼي،تیګې Cholelith



www.ketabton.com

litho- (gr. lithos) لیتو له یوناني کلمې لیتوز څخه
اخستلې شوې چې کاڼي، تیګه معنی ورکوي
-iasis د کلمې هغه وروستی برخه ده چې د یوې ناروغۍ
حالت څرګندوي لکه لیتیازس
Cholelithiasis د صفراوي تیګو له کبله ناروغۍ
Cholelitholyse د صفراوي تیګو ټوټه کول
او له مینځه وړل په بېلابېلو تګلارو یا طریقو سره

lyso-(gr. Lyein) لیزو له یونانی کلمې لایئن څخه
چې منحل کول او بېلول معنی ورکوي اخستلې شوې ده
Cholelithotripsie د صفراوي تیګو ټوټه کول، میده کول
-tripsi (gr. tribein) له یوناني کلمې تریبین څخه اخستلې
شوې ده چې پسته ول ،میده کول ټوټه کولو ته وایي
Cholestase (Cholostase) د صفرا بندېدل، ټولېدل، دمه کېدل
Stase (gr. stasis) ستاز له یوناني کلمې ستازیز څخه
اخستلې شوې چې په ټپه دریدلو، بندښ معنی لري
cholecyst/o د خولیو یا صفرا کڅوړه یاکیسه
Cholecystektasie د صفراوي کڅوړې پلنوالئ، پراخوالئ
Cholecystektomie د صفراوي کڅوړې پریکول
Cholecystitis د صفراوي کڅوړې التهاب
Cholecystographie د صفراوي کڅوړې ښودنه
د رادیوګرافي په مرسته
Cholecystotomie د صفراوي کڅوړې پرانستل

chondro-(gr. Chondros = lat. Cartilago) خاندرو یا
ښاندرو له یوناني کلمې خاندروز څخه چې په لاتینه ورته
کارتیلاګو ویل کېږي غضروف معنی ورکوي
Chondritis د غضروف التهاب



www.ketabton.com

Chondrom = syn. Chondroblastom د غضروف يا هډوکي تر
ډېره حده يو سليم پاړسوب يا تومور
Chondromalazie د غضروف پوستوالئ يا نرم والئ
Chondromatose په هډوکو او بندونو کې دې
ډېر شمير ښاندروم يا غضروف جوړېدنه يا مينځ ته راتلل
Chondropathie د غضروفي ناروغۍ پېژندنه
Chondrosarkom د غضروفو يو ډول
سرطاني ناروغۍ يا سرکوم
Chondrose د غضروفونو ناروغۍ
chorda په اصل کې کولمې، د بدن هغه قوي
بندونه دي چې عضلات له هډوکو سره نښلوي چې ورته
د عضلاتو اوتار وايي لکه د اخيليس وتر، همدارنګه د غضروفو
او عصبي ستون ته وايي
Choroidea د سترګې د جوف منځنۍ برخه ده
چې دغه کوروئيډيا سترګې ته
آکسيجن، غذايي مواد رسوي او حرارت خپرونکې ده
Choroiditis د کوروئيډيا د سيمې التهاب
-chrom د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې رنګ،
رنګونه معنی ورکوي
chroma رنګ، رنګونه
chromato- رنګه، رنګ لرونکئ، رنګوالئ
Chromatopsie يو شئ رنګه ليدل
Chromo- = Chromato- ( gr. Chroma, Chromatos)
رنګ، پيګمنټ، د پوستکي رنګ
chromophil يو لږشانته رنګ اخستونکئ، يو لږشانته دې رنګ
د اخستلو استعداد، قابليت
chromophob په سختي سره رنګ خوښول يا رنګ اخيستل
د رنګ د اخستلو ښه استعداد نه درلودل
Chromosomen دې ارثيت لېږدونې واړه اجسامو ته ويل شوي



www.ketabton.com

chron, (lat. Chronos) کرون له یوې لاتینې کلمې

کرونوز څخه ده چې د وخت او د زمان ښودونکې ده

Chronic مزمن، پخواني، اوږدمحله ناروغي، له ډېر اوږده وخته

دې ناروغۍ شتوالې

chronicitaet هغه ناروغي چې په تدریجي ډول

مخ په زیاتېدونکي توګه په مخ ځي

Chronobiologie هغه پوهه یا علم ده چې

دې بدن د دندې د وخت د پلان، پروګرام او نظم یا ریتم بهیر

یا سیر، جریان، روند څخه بحث کوي

isochrom یورنګ، یورنګیز، متجانس رنګ

isochron په یوه وخت، همزمان

cicatrix د یوه ټپ یا پرهار نښه، چاپ، ندبه

ciliaris هغه څه چې بڼو پورې یا بڼو ته ورته وېښتو

پورې اړه لري

Zonula ciliaris = Fibrae zonulares

cilium(lat.) باڼه، مژه

cingulum (lat.) ملاتړئ، تراټ بند، ملا تړونکئ، کمربند

circulus (lat. ) دایره، حلقه

clavicula ترقوې هډوکئ، کاسې ته ورته هډوکي

clavis کاسه، تر ډېره حده د وینې رګونه چې

غوچ یا عمیق او ګرد وي ویل ګېږي

cleido- / kleido- کونجی، کلید، دستور، نظام لیک

clivus غونډۍ، بلی، تپه

clunis(lat.), Pl. clunes

coccygeus موخه ترې د کوککیګیوس یا کوکسیجیوز

هغه عضله ده چې د لیواتور اني د شا په څنډه پرته ده

Foveola coccygea



www.ketabton.com

coccyx لنګوچئ، د ملا د مريو يا د تير وروستی
برخه يا لکی نومولې شوې ده لکه دا لاندې
Os coccygis ( Vertebra coccygeae I-IV )دنبالچه ، لنګوچئ
دې ملا دې څلورو ورستيو مريو له ودې لويدل او
يو تر بله يوځاي کېدلو، ائتلاف کولو ته وايي
cochlea د غوږ د ننه برخه (کيشته غواګي، اهکي ګوک
حلزون)ته وايی
coeli-
Coeli celiacus هر هغه شئ چې د ګېډې جوف يا ابدومن
پورې اړه لري
coitus د نارينه او ښځينه جنس د جنسي يوځايوالي
ته وايي
colicus د غټو کولمو يا کولون پورې اړه لرونکي
ته وايي
Colitis ulcerosa د غټو کولمو التهاب چې د پرهار
په ډول پرمختللي وي
colliculus ( lat. Collis) له لاتينې کلمې څخه اخستلې
شوې ده چې يو لږ شانته يا ډېر وړوکئ يوځايوالئ، اتحاد ته
ويل شوئ
Collis هغه څه چې کولمو پورې اړه ولري
collum (lat.) کولوم له يوې لاتينې کلمې څخه چې
غاړه يا ورمېږ نومېږي اخستلې شوې ده، ديوه اورګان ورمېږ
ته ورته يوې برخې ته وايي
Collum scapulae د سکپولا يا د راشپيل د هډوکو
ورمېږ،غاړه
Collumcarcinom د رحم د غاړې يا ورمېږ، ګردن
سرطان يا کارسينوم
Collumpolyp د رحم د غاړې يا کولوم پوليپ



www.ketabton.com

colo- د کلمې هغه مخکنۍ برخه ده چې
غټو یا پلنو کولمو څخه موخه یا هدف دئ
Colitis د لویو یا پلنو کولمو التهاب
Colon (gr. Kólon) یوه یوناني کلمه ده چې پلنې کولمې
نومېږي
Colon ascendens د کولون هغه برخه ده
چې له چکم څخه پیل او د کولون ښۍ زاویې پورې رسېږي
چې له کولون ترنسورز یا مستعرض سره یې جوړوي
یعنې لاندي خوا څخه مخ پورته پرته کولمه ده
Colon descendens د کولون له کینې زاویې څخه
پیل تر سیګموئید پورې رسېږي
Colon sigmiodeum سګموئید له کولون دیسندز
څخه پیل او تر ریکتوم پورې رسېږي
Colon transversum د ابدومن په پورتنۍ برخه
کې په پرتو یا عرض، مستعرض یا پروتې پرته کولمه ده
Coloncarcinom د کولون کارسینوم
Colondiverticle د کولون د ټولو برخو څوړندیدل د
Coloni (lat. Colonia) کڅوړې یا برامدګي یا په څېر بهر خواته
کولوني له لاتینې کلمې کولونیا چې کرنڅې سیمې یا د
شنو بوټو ښار اما دلته ترې د باکتري کولوني، یوځایوالي یا
پنډ غاړئ مقصد دئ ښي
Colopexie د جراحي عملیات په مرسته
د کولون ټینګول، تثبیت کول
Color رنګ
Colorectal کوم چې کولون او ریکتوم پورې اړه لري
Coloscopie د اندوسکوپ په مرسته د کولون دننه لیدنه
Colostoma د یوه مصنوي مقعد یا د کولمو
بهرني لاري لپاره د جراحي عمل په مرسته کولاي شي چې
پلنو کولمو یا نریوکولمو له حلقو څخه کار واخستلي شي



www.ketabton.com

columnae (lat.) تیر یا ستون، پایه، ستون ته ورته غړئ یا اورګان

Columnae analis د انال په کانال کې په اوږدو پراته د موکوز یا مخاطي غشا ګونجې

Columnae vertebralis د ملا د مریو تیر د فقراتو ستون

commissura (lat.) اړیکې، یوځاي کېدل، ارتباط

Commotio (lat. Commovere) له لاتینې کلمې کوموویر څخه اخستلي شوي چې ښورېدنه، ټکان معنی ورکوي

Commotio cerebri لغوي معنی یې د یوه اورګان ښورېدنه یا ټکان د یوې پخې یا کند تراوما یا ضربې له کبله پېښېږي چې داشونې یا ممکنه ده چې د دندو د ستونځو دې له مینځ ته لامل وګرځي بې له دې چې په جوړښت یا مورفولوژۍ کې بدلون رامینځ ته شي، د دماغ یا مغز ښورېدنه یا ټکان

communicans ( lat.) arteria, ramus = څانګي، شریانون یوځای کوونکئ، یوځای کېدونکئ، اړیکې لرونکې لکه دغه لاندې بېلګې:

Arteria communicans د ارتیریا یا شریانو یوځایوالئ

Ramus communicans د څانګو یوځایوالئ

communis (lat.) یوځاي، په ګډه، مشترکه

Casus communis یوه ګډه پروسه، مرحله، حالت

concha (gr. Kòncha ) موشل، صدف

condylus (gr.) له یوناني کلمې څخه چې واړه هډوکي نومول شوي اخستلې شوې ده خو دلته موخه ترې د ورانه د هډوکي یا د فیمور د هډوکي هغه لاندنۍ برخه چې د زنګانه بند یا مفصل جوړوي ده



www.ketabton.com

conjunctivo-(lat. Conjungere) له لاتيني کلمې
کانجونګير څخه اخستل شوې چې اړيکې يا ارتباط نومول شوې

constrictor يوځای نښلوکئ، تقلص ورکونکئ

contortus (lat.) تاوشوئ، پيچلئ، پيچيده، تابدار لکه دغه لاندې بيلګې

Tubuli seminiferi contorti

Contra (lat.) = Kontra مقابل، تضاد، مخالف

Contusio-( lat. contundere) له لاتيني کلمې کانټونډير
څخه چې ځپل شوئ، وهل شوئ، ځيځېرل، ټوټه کول يا ميده کول معنی ورکوي

Contusio cerebri د مغز يا دماغ ځپل کېدل

conus مخروط، مخروط ډوله يوه سيمه يا برخه

cor په اصل کې زړه، قلب نومول شوئ ده(اما کارديا د معدې لومړني يا دننوتولارې ته وايي)

coraco- هغه لوي مرغه چې کارغه نومېږي

-processus coracoideus د کارغه مښوکې ته ورته
جوړښت، لړي، دنباله يا د کارغه د مښوکې په شان يو شکل يا ساختمان لکه دغه لاندې بيېلګې

coracoacromialis:

Ligamentum coracoacromiale

Coracobrachialis:

Musculus coracobrachialis

Coracoideus:

Processus coracoideus

Corium, Dermis د ژويو يا حيوانات د پوستکي په ډول کلک پوستکئ يا جلد

Cornea د پوستکي پټوکي يا اهکي مواد



www.ketabton.com

Corneus = lat. لاتینه کلمه ده چې اهکي ډوله شیانو یا موادو معنی ورکوي

Cornu آهک، د ژویو یا حیواناتو ښکر یا ورته مواد

corona تاج، د سر تاج

Corona dentis د غاښ تاج

coronarius موخه ترې سیلکوس کوروناریوز کوردیز ده چې د یوې ویالې په شکل سیمې ته ویل کېږي چې د زړه په باندنۍ برخه کې د اټریوم یا اذین او وینټریکول یا بطین تر مینځ پرته ده

Sinus coronarius دا یو په ګډه جوړ شوئ له ټولو هغو ناپاکه وینه لرونکي یا وریدي رګونو څخه چې ناپاکه وینه ښۍ زړه ته رسوي. د زړه د شا په برخه کې (فاسیا پوسټېریور) چې د زړه محور په مستعرض ډول غوڅوي یا قطع کوي او په هغه سلکوس کې چې د کین اټریوم او کین وینټریکولوم تر مینځ شتون لري پروت دئ

corpus ( lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې تنه یا بدن، جسم ته وایي

Corpus- Corpora (lat. ) تنه ، بدن

Corpuscarcinom د رحم دتنې یا دې کارپوس یوټېروس کارسینوم

Corpus gastricum د معدې تنه یا جسم

Corpus ossis pubis د پوبیس د هډوکي تنه

Corpus pancreaticum د پانکریاس تنه، جسم

Corpuspolyp د یوټېروس په دننه تنه کې د موکوز یا مخاطي طبقې ډیر ګړندۍ غیر طبعي وده او پاړسوب یا تومور چې تر ډیره کچه سلیم وي

Corpus radii د راډیوس د هډوکي تنه

Corpus uteri د رحم جسم،تنه

Corpus vertebrae د ملا د مریو یا فقراتو تنه



www.ketabton.com

Cort ځنډې، کنار

cortex (lat.) لاتینه کلمه ده چې ځنډې معنی ورکوی

Cortex renalis د بډودو یا پښتورږو ځنډې

Cortical ځنډه، ځنډې لکه د لوي دماغ
ځنډې، د حرام مغز ځنډې

Corticospinal د لوی مغز یا دماغ له ځنډو څخه
د حرام مغز یا میالو خواته

Corticotrop انګیزه د ځنډو د طبقو محرک، تحریک کوونکئ،

Cortison(lat. Cortex) = kortison یوه له لاتینه کلمې
کورتیکس څخه اخستلې شوې ده چې ځنډه، کنار،
لبه نومېږي، یو ستېروئید هورمون دئ چې په لومړي ځل
په 1935 میلادي کال کې د انسان دغه مواد د بډوډي د څنګ
په ځنډه کې وموندل شول یا کشف شول

costae پوښتی، قبرغه

Caput costae د پوښتیو سر، تندئ

Crista capitis costae

Crista colli costae

Sulcus costae د پوښتیو یا فقراتو د هډوکي په اوږدوالي کې
ویاله، جوي

Costaoxiphoideus

Ligamenta costoxiphoidea

Ligamentum costoxiphoideum

Costao- (lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې پوښتۍ معنی ورکوي

Costal هر هغه ناروغۍ چې بوښتیو پوري اړه لري

Costotomie د پوښتیو پرانستل یعني پوښتی په اوږدو کې
شق کول

coxa , Pl. Coxae د حوصلې دې هډوکو تر مینځه
جوړه شوې سیمه، لګن خاصره



www.ketabton.com

cranialis , kranial د سر په جهت یا د کوپړئ په اسقامت
شتون لرونکئ یا قرار لرونکئ
cranium په مجموعي یا ټولیزه توګه هډوکي لرونکي،
استخواني معنی ورکوي، د سر هډوکي، دسر کوپړۍ
Neurocranium د کوپړۍ هغه برخه ده چې دماغ په
کې شتون لري
Viscerocranium د کوپړۍ هغه برخه چې د مخ
خواته قرار لري او په هغه کې سترګې،پزه او د خولې جوف او
نور شتون یا قرار لري
Ossa cranii د کرانیوم هډوکئ
Cremaster (gr. Kremastòs) ځوړندول،ځوړندونکئ،معلق،
نوساني همدارنګه لکه د کرېمیسټر عضله
Crico- (gr. Krìkos) یوه ګرده حلقه
cricoarytenoideus
Cricoideus حلقې ته ورته شکل لکه
کارتیلاګو کریکوئیدیا = Cartilago cricoidea
Cricothyroideus د ټایراید یا تیروئید د غدې حلقې
Musculus cricothyroideus د تیروئید حلقوي عضلې
Cricotrachealis د تراخیا حلقې
Ligamentum cricotracheale د تراخیا ګردې یا حلقوي
بندونه، پړي یا تسمې
Crista (lat.), Pl. Cristae لکه ږمنځ(د چرګ کرکره)،
باریکه، د دیوال خنډه، حاشه، د یوه اورګان ږمنځ ډوله سیمه
Crista capitis costae د پښتیو د سر کرستا یا ږمنځ ډوله
خنډه

Crista colli costae
Crista sacralis mediana



www.ketabton.com

Crus (lat.), Pl. Crura لینګئ،د لینګي د لاندنۍ برخې
هډوکئ یا د پونډۍ د برخې هډوکئ، د یوه اورګان کروس
ډوله برخه اما دلته موخه یا هدف ترې د ټیبیا هډوکئ ده چې
مخه یې تیره ده
Crus penis
CT= Computer Tomographie کمپیوتر توموګرافي
Cubitus (lat. = gr. kybiton) لیچې، د لیچو قوس، آرنج
Cuboideonavicularis د پښې د هډوکو له ډلې څخه دي
Ligamentum cuboideonaviculare هغه پړي
یا وتر چې د کوبوئید او ناویکولا ّڅوکو باندې پراته دي یایې
سره ټینګوي
cuboideus مکعب ته ورته شکل لکه اوس کوبوئیدیوم یا
مکعب ته ورته هډوکئ
Os cuboideum مکعب ډوله هډوکئ چې په
پښه کې شتون لري
cubus مکعب، مکعب ډوله هډوکئ د لوبو هغه مکعبي بېډي
Culmen (lat.) څوکه، لوړه څوکه، ریس، مشر
Cuneiformis
Os cuneiforme
Cuneocuboideus
Ligamentum cuneocuboideum dorsale
cuneus (lat.) یوه پرخچه، یو جوړښت چې مینځ یې خالي
وي، یو تېره څوکه جوړښت چې تر ډیره له لرګي یا له
اوسپنې څخه جوړه شوې وي

Cura (lat. ) لاتینه کلمه ده چې پالنه، پرستاري، مراقبت
Curvatura د معدې یا ګستر قوسونه، انحناوي
Curvatura major د ګستر لاندنئ یا لوي قوس
Curvatura minor د ګستر پورتنئ یا وړوکئ قوس



www.ketabton.com

Cuspis خوکه، سر، قله، لوړه

Cutaneus پوستکی یا جلد پورې اړه درلودل

Cutis پوستکئ، جلد

Cycto-, kysto- (gr. kystis) کیستو له یوناني ژبې کیستز
څخه چې د ادرار کڅوړه یا مثانه نومېږي

Cystektomie په مکمله توګه د مثانې پرېکول
او لرې کول

Cystographie ادرار د کڅوړې ښودنه د رادیوګرافی
په مرسته

Cytoplasma سیټوپلازما یوه داسې مایع ده چې د جیلي
ډوله قوام لرونکې،د ژوانکې د میمبران یا پردې په مینځ کې
پرته او د بېلابېلو موادو لرونکې لکه آیونونه او نورو موادو شتوالئ

Cystoskopie د کیستو لیدنه او پلټنه د اندوسکوپ
په مرسته

Cystotomie د جراحي عملیات په مرسته
د کیستو پرانستل، تر مینځ بېلول

**D**

dakryo- (gr. = lat. Lacrima ) دکریو یوناني کلمه چې
په لاتینه ژبه ورته لکریما چې اوښکې نومېږي معنی لري

Dakryorrhoe په غیر عادی توګه ډېرې زیاتي، شدیدې
اوښکې بهېدل

-rrhoe بهیر، جریان، سین، رود

Dakryostenose د اوښکو د نلکو یا لارو تنګېدل

daktylo-(gr. dáktylos) دکټېلو له یوناني کلمې دکټېلوز
څخه اخستلې شوې چې د لاس ګوتې معنی لري ویل کېږي



www.ketabton.com

Daktylogramm دې ګوتو نښې،دې ګوتو چاپ
decem يو کاردينال عدد نوم د لسو لپاره ښودل شوئ
(X)
Decerebration
Decimus
declive د واړه يا وړوکي دماغ کې د چينجئ ډوله برخه، ځوړئ، شيب، مايله سطحه
decubitus د بستر پرهار، د فشار لاندې مينځ ته راتلونکئ پاړسوب، پرهار
decussatio دو بېلابېلو نسلونو يا نژادونو يوځايوالئ يا ( چې د رومي عدد 10په اميزش(ژوي)، څلور لاري، صليب اساس يا ښنه ،چې ديکوسيز څخه اخستلي شوي röm. 10 = X decussis)
deferens ( lat.) مخښکته رهبري کول، مخښکته بهير رهنمايي کول
Ductus deferens د خصيه تر څنګ د لارې لړئ، نلکې يا لکۍ يا دنباله
Defloration, (lat., deflorare ) د غوټيو ټولول، شکول، د نجونو د بکارت په هايمن يا د بکارت په پرده يا غشا کې درز او بېلېدنه په يوه لاس نه خوړلي هايمن وروسته له لومړنۍ جنسي اړيکې څخه
Deka (10) Cardinalzahl
Delirium = lat. delirare = له سيخې يا مستقيمې ليکې يا خط څخه کږېدل، انحراف، په حاده توګه رواني ستونځې چې له دماغي يا حواسي اختلال سره يوځاَي وي
deltoideus دلتا ډوله يا دلتا ته ورته جوړښت



www.ketabton.com

Dens غاښ ته ويل کېږي
Apex radicis dentis د غاښ د ريښې څوکه
Corona dentis د غاښ تاج
Dens molaris د ميده کولو غاښ
Radix dentis (lat.) د غاښ ريښه
dento-, (lat., dens, dentis) دينتو له لاتيني ژبې دينس
دينټيز څخه اخستل شوې ده چې يوه لومړنۍ يا مخکښه
کلمه د غاښ لپاره ښودل شوې ده
dental هر هغه څه چې غاښ پورې اړه لري
dentalgie د غاښ خوږ يا = Odontodynie او Odontalgie لکه
درد
Dentin (lat.), Dentinum د غاښ هغه برخه يا طبقه ده
چې د غاښ د مينا يا پورتنۍ برخې څخه لاندې قرار لرونکې
جوړښت دئ، د غاښ د هستې محتوي جوړوي
Dentinogenese د غاښ د هډوکي جوړونکې پروسه
Dentition د شيدو يا شيرۍ غاښونو ماتېدل او وروسته
دغه پاتې شوي غاښونو ته دينتيشن ويل کېږي
dentogen له غاښونو څخه راوتلي، له غاښونو څخه
سرچينه نيونکي
depressor مخ ښکته فشار ورکونکې، له ارزش او اهميت
څخه غورځونکې
depressor septi
Depression (lat. Deprimere, depressus) مخښکته خواته
فشار ورکول

Derma, -derma, dermato-, dermo- ډيرما، ډيرماتو، ډيرمو
پوستکي، د ژويو پوستکي
Dermatitis د پوستکي يا جلد التهاب



www.ketabton.com

Dermatomykose د پوستکي فنجایی یا میکوتیکي ناروغي

Dermatose او Dermathopathie ډیرمتوز او دیرمتوپتي دواړه یوه معنی لري چې د پوستکي ناروغی ښي

Dermatotrop هر هغه حالت یا ناروغی سره چې پوستکئ یا ډیرماټو مخامخ وي یا اړیکې ورسره لري

Dermis = Corium د بدن د پوستکی هغه برخې ته ویل کېږي چې د اپیډیرمز یا د پوستکي د پورتنی برخې او د سب اکوت یا لاندنی برخې تر مینځ پرته یا شتون لري

Dermatopathie د پوستکي ناروغی

Descendens مخ ښکته ځوړندېدل، ښکته کېدل

Arteria descendens د پاکې وینې د رګونو مخ ښکته ځوړندېدل

Ramus descendens یوه مخ ښکته پرته څانګه یا شاخه

Descensus ځوړئ، مخ ښکته، نشیب، له پاڼې، صفحې یا صحنې څخه وتل، له سیمې یا لوبې وتل

Descensus testis له اناتومیکې یا اصلي سیمې څخه د خوټو یا خصیه ځوړندېدل یا مخ ښکته بې ځایه کېدل

-dese, (gr. Deín) ډېز د کلمې هغه د پای یا اخرینی برخه ده چې له یوناني کلمې ډاین یا ډین څخه اخستل شوي چې یوځایوالئ، سره تړل یا وصل کول معنی ورکوي

deuteros ډایټیروز یا ډیوټیروز د دویمه، دویم معنی ورکوي

dexter, dextra, dextrum ښئ، ښی خوا چې د کینې خوا په مقابله خوا

di- د کلمې هغه لومړنی یا مخکښ ده چې دې دوه وارې، دوه ځله یا دوه چنده، دواړه، دواړه خواوې معنی ورکوي

Dicephalus یو غیر طبعي یا غیر نورمال جوړښت دئ چې دوه سرونو یا ککرو ته وایي



www.ketabton.com

Diplegie په متناظر ډول د دواړو خواو فلج کېدل
د بدن په هم هغه نیمایی تنه کې لکه د میالو یا شوکي نخاع
د ژوبلېدلو یا تراوما له کبله د دواړو پښو یا لینګیو فلج کېدل

dia- د کلمې هغه لومړۍ برخه ده
چې له مینځه له وسطه، هغه وخت، د یوه کار په جریان کې
Diabetes mellitus ډیابیټیز میلیټیز هغه ناروغي ده چې
د خوږې یا د شکرې د ناروغۍ په نامه هم یادېږي او دوه
ډوله یې پېژندلې شوې ده چې لومړی ډول او دوهم ډول
نومول شوي دي چې تر ډېره اندوکریني ستونځې بللې
شوې دي
diabetogen هر هغه لاملونه چې په میټابولیزم
کې بدلون راولي یا هر هغه لاملونه چې د شکرې د ناروغۍ
په مینځ ته راتللو کې برخه لري ویل کېږي او دغه مواد یا
سوبسټان دا دي لکه ګلوکاګون، اس ټې اچ، ادرینالین،
ګلوکوکورتیکوئید (له ټولو ډېر کورټیزول)، تیازید او داسې نور

Diagnostik (Diagnose) هغه علم ده چې
له ناروغۍ پیژندنې څخه بحث کوي، هغه څه چې په تېره بیا
د ناروغیو بېلونې پیژندنه یا تفریقي تشخیص کې ډیر د
(Differantialdiagnos) پاملرني وړ وي
Diapedese ډیاپیډېزه هغه تګلاره یا پروسه ده چې
یو مالیکول په یوه ژوانکه کې له یوې خوا ننوځي  او له بلې
خوا وځي

-pedese ننوتل، پښه ایښودل ، ګام ایښودل
بېره درلودل، خیز وهل
Diaphrama بېلونکئ دیوال، هغه دیوال یا پرده
چې ابدومن له تورکس  څخه بېلوي



www.ketabton.com

Diarrhoe اسهلات، نس ناستئ

Diastema یوه خالیگاه، د یوه شي نشتوالئ

چې په اصل کې یې باید شتون درلودلئ

Diastole(gr. Diástole ) دیاستول یوه یوناني

کلمه ده چې پراخېدلو ته وایي او موخه ترې دې زړه د

وینټریکول کارېدل، آرامېدل یا پراخېدل او د هغوي ډکېدل له

وینې څخه چې برعکس د سیسټول عمل او فعالیت کوي

چې په سیسټول کې د زړه وینټریکول سره نزدې کېږي یا

تقلص کوي او وینه لرې کوي یایي باندې لېږدوي

dicho- د کلمې هغه لومړی برخه ده چې

په دو برخو ، یو شی په دو برخو ویشل شوئ معنی ورکوي

Dichotomie دوه ټوټې، دوه برخې

dies ورځ ، روز pro die ورځنئ یا هره ورځ، د ورځې

difficilis ستونزمن، دشواري، سختي

diffirencial diagnose تفریقي تشخیص یا د بېلابېلو

ناروغیو پیژندنه او بېلونه

digitalis گوتو پورې اړه لرونکئ، هر هغه څه سره

چې گوتې ورسره مخامخ وي

digitus د لاسو او پښوو گوتي

Digitus annularis د حلقې گوته

extensor digitorum گوتو سیخ یا مخ شاته

تاوېدل، قاتېدل

flexor digitorum د گوتو دننه خواته قاتېدل

dilatator پراخوونکئ، خپورونکئ

dilatator pupillae د سترگو دلېمو، د سترگو

دحدقې پراخوونکی



www.ketabton.com

Dephtherie دیفتري یوه انفیکتوزه یا انتاني ناروغي ده چې د تنفسي لارې یا سیستم پورتنۍ برخه د یوه انفیکت یا انتان چې ګرام منفي کوریون باکتریا نومول شوي دي مینځ ته راځي چې تر ډېره ماشومان پرې اخته کېږي

Diplegie د شوکي نخاع د ژوبلېدو له کبله د دواړو پښوو فلج

Dipsomanie = Alkoholismus د ناروغۍ په ډول الکوهولي مشروباتو ته هڅول او د هغوی څښل

Discus (gr. dískos) له یوناني کامې څخه اخستلې شوې کلمه ده چې یوې ګردې، پلنې، هوارې سیمې ته ویل کېږي، د بندونو هغه سیمې چه غضروفي وي ورته دیسکوز ویل کېږي

Discus intervertebralis د ملا د مریو تر مینځ غضروفي پلنه سیمه

Discusprolaps د دغه دیسکوز د باندې وتل له خپل اصلي یا اناتومیکې سیمې څخه ته ډیسکوز پرولاپس نومول شوئ

Diskektomie د هغه ناروغۍ له کبله دې چې ډیسکوز ورسره مخامخ وي د هغه ډیسکوز لري کولو ته وایي

Diskolyse دې دیسکوز ټوټه کېدل یا خوړینېدل، سولېدل او له مینځه تلل

distalis له سیمې لریوالئ، له مرکزي برخې څخه لري پرتې سیمې

Divertikel, Diverticulum د زېږون له وخته او یا په کسبي توګه د مرخېړي په شان (سمارق)، ناک ډوله او یا د کځوړې په شان د یوه خالي یا جوف لرونکي اورګان د دیوال د یوې برخې څخه له دننه بهر خواته ځوړندېدلو ته وایي

dodeka = 12 د دولسو عدد ته وایي



www.ketabton.com

dolor (lat.), Pl. dolores خوږ، درد
dorsal (lat. Dorsum ) د شا خوا، پشت سر
dorsalis هغه څه چې شاخوا سیمې پورې اړه لرونکې
وي ،د ملا خواپورې اړه لري چې د مخې خوا پورې اړه لرونکې
مخې خوا یا ابدومن venteral = په مقابل جهت معنی ورکوي
مخکې سیمې پورې اړه لرونکئ خواته
Ligamentum cuneocuboideum dorsale
Ligamentum dorsale
Ligamentum radiocarpeum dorsale

dorsum (lat.) ملا، شاته، د شا سیمه
Dorsum nasi دې پزې بهر خواته پورتنۍ برخه،د پزې شا
Douglas-raum (Excavatio rectouterina) = ( Excavatio
rectovesicalis) د دوګلاس جوف، په ښځینه جنس کې
د ابدومن دې جوف په ټیټه یا لاندنۍ برخه کې پرته سیمه
چې د یوټیروس او ریکتوم تر مینځ قرار لري او په نارینه جنس
کې بیا دې مثانې او ریکتوم تر مینځ پروت دئ

Ductulus وړې لارې، قناتونه، مجراوې
Ductuli biliferi د تریخي یا صفراوي وړو رګونو
انترالوبولیر او د دوکتوس انتیرلوبولاریز بیلیفیر تر مینځ اړیکې
جوړونکي دي
Ductus (lat. ) Pl. Ductus یوه د اوسپنې پټلي، یوه لاره
دې دو لارو تر مینځ اړیکه لرونکې لاره
Ductus arteriosus = Ductus aorticus = Ductus arteriosus
Botalli هغه کانال چې د اورتا دې قوس او
د ټرنکوس پولمونالیز تر مینځ اړیکه جوړوي
Ductus pancreaticus accessorius
Ductus biliaris د صفراوي موادو لاره



www.ketabton.com

Ductus choledochus د صفراوي موادو د لېږدونې هغه کانال چې د دوکتوس کیستیکوز او د دوکتوس هیپاتیکوز کومونز تر مینځ اړیکې جوړوي

Ductus deferens = Ductus ejaculatorius

Ductus hepaticus د ينې يا لړمانه کانالونه يا لارې

Ductus lactifer د شیدو لارې يا قناتونه

Ductus pancreaticus د پانکریاس لارې

-duktion (lat. Ducere ) له لاتینې کلمې ډوکیر یا ډوسیر چې رهبري ، مشري معنی ورکوي اخستلې شوې ده

abduktion له مرکز څخه لريکول

ab- له مینځنۍ برخې لريوالی، له محور څخه لرې

adduktion مرکز ته نږدې کول

ad- مینځنۍ سیمې يا محور ته نږدې

dulcis خواږه، شريني

duo, duae = II دوه په رومي شمیره

duodecim = XII دولس

duodecimus

duodeno-,lat. Duodeni په لاتینه ژبه دولس، هر دولس ته وايي دلته هدف ترې د کولمو هغه لومړنۍ برخ ده چې د ګستر له پای څخه پیل او د دولسو ګوتو ډول یا جوړښت لري چې د نریو یا وړو کولمو تر پیله پورې پرته ده

duodenal- له ډوډېنال سره اړیکې لرونکئ

-al= د کلمې هغه وروستۍ تورئ یا برخه ده چې یو شی پورې اړه لرونکئ، یو شی پورې تنظیم شوی وي

Duodenalkarcinom د دولسو ګوتو ته ورته کولمو سرطان یا د عوامو په ژبه بده دانه

Duodenalstenose د دولسو ګوتو ته ورته کولمو تنګوالئ



www.ketabton.com

Duodenitis د ډوډينوم التهاب

Duodenojejunostomie د ډوډينوم او د جيجونوم تر مينځ نوې
لاره د جراحي عمليات په مرسته

Duodenopancreatektomie د ډوډينوم او پانکرياس پرېکول،لرېکول

Duodenotomie د ډوډېنوم پرانستل د جراحي عمليات په مرسته

Duodenum دولسو ګوتو ته ورپه کولمې

durus کلک ، ټينګ، سخت

dynamic اتلوالي، قدرتمندی، توانمند

dynamo- قوت، اتل، توانا

dyo = 2

dys-(gr. dys)-: ډېر يوه يونانی کلمه ده چې د يو شی
واقعيت نه درلودل، نشتوالئ، تخريب شوئ حالت لکه
د نورمال روان نشتوالئ، نه منوونکې يا نه تحمل کوونکې
ناروغي

Dysgenese يوه له مينځه تللې وده او پرمختګ يا
دې يوه اورګان د ودې نشتوالئ

Dysgenesie د ودې يا پرمختګ ناخوالې اوس ،
د ډيسګينيز يا ډيسجينيز په ځای ډيسګينيزي پکارول کېږي

Dysmenorrhoe درد،د ابدومن د لاندني برخي شخوالئ
کرمپ او په ټوليزه توګه په ښځينه جنس کې د مياشتنی
وينه بهېدنې په وخت کې شکايتونو شتوالي ته چې نورمال
نه وي ډيزمينورو وايي

Dyspepsie په ګستروانتستينال سيستم کې
د هضم او جذب ستونځې يا سوئ هاضمه

Dysphagie د اوبو او خوړو دې تېرولو ستونځې

Dysphonie د غږ په جوړښت يا پيدا کولو کې ستونځې لکه
د غږ برګېدل، ټيټ غږ، عوام خلک وايي غږ يې ناست دئ

Dysplasie غير طبعي جوړښت، انومالي، په غير طبعي ډول
د يوه اورګان وده يا جوړښت



www.ketabton.com

Dyspnoe په نورمال یا طبعي هوا اخستلو
یا تنفس کې ستونځې لکه ساه لنډي، نفس تنګي
Dystonie د انسان د طبعي جوړښت
په استواري،ویښتیا او بشارت کې د ستونځو مینځ ته راتګ
لکه د بدن سستي، ویده ډوله یا خواب الودګي
Dystop د صفت لپاره یو لغت دئ چې غیر طبعي سیمه
یا نه غوښتلې شوې سیمه وي
Dystopie په بدن کې د یوه غړي یا اورګان په غیر
اناتومیکه سیمه کې وده کول
Dystrophie د غلطې تغذیې له کبله مینځ ته
راغلې ستونځې یا پیښې
Dysurie هغه ناروغی ته وایي چې ناروغ له
ستونځمن، درد لرونکي ادرار کولو څخه شاکي وي

**E**

ECG, EKG (Electo Cardio Gramm) د زړه د ګراف
د رسمولو بریښنایي ماشین
EEG (Electro Encephalo Gramm) د دماغ د ګراف
رسمولو یو بریښنایي ماشین
efferens( lat. Efferre, vas) = efferent له لاتینې کلمې
څخه اخستلې شوې ده چې یو شئ له یوه ځایه د باندې
کېږي یا ویستل کېږي البته دلته موخه ترې د وینې له هغو
رګونو څخه ده چې له مرکز څخه اطرافو ته یعنې له زړه څخه
لاسو او پښو خواته وځي یا روان دي یا په بل عبارت
د افیرینس په مقابل جهت کې
vas efferens



www.ketabton.com

efflorescence(lat. Efflorescere) یوه لاتینه کلمه ده
چې غوټۍ کولو، غوټۍ غوړېدلو یا شګوفه کولو، د بدن
د پوستکي غوړېدلو ته وایي

Ejakulation = Effluvium seminis; Samenerguss

ek-(gr. Ektós ) = Ec- له یوناني کلمې ایکتوز څخه
چې لرې کول، پریکول، بهر کول، افراز کول معنی ورکوي
اخستلې شوې

Ekkrin لرې اچول، ترشح کول،لرېکول، بېلول

-ektasie(gr. Éktasis) , Pl. Ektasen له یوناني کلمې اکتازیز
څخه چې د بدن دیوه خالي یا مجوف اورګان د مینځ پراخیدلو،
لویدلو ته ویل کېږي لکه د ګستر پراخوالئ یا ګستریکتازي،او د
برانښو پراخوالئ یا برانښووایکتازي یا برانکووایکتزي
(Gastrektasie,Bronchiektasen)

ekto- (gr. Ektòs) له سیمې بهر، باندې

Ektoderm له پوستکي بهر، د پوستکي له درې طبقوو
څخه د باندې، د پوستکي سطحي برخه

Ektomie د جراحي عملیات په مرسته د یوه اورګان
یا د یوه اورګان د یوې برخې لرې کول

-ektomie لرې کول، همدارنګه د یوه اورګان پریکول یا لرې کول
په مکمل ډول د جراحی عملیات په مرسته

Appendektomie د اپندکس لرېکول هغه وخت
په التهاب اخته وي یا اپندیسیټیز د جراحي عملیات چې یا
د لپراتومي یا لپراسکوپي په طریقه تر سره کېږي او
وروسته خوله یي لکه د تنباکو د کځوړې په شان ګنډله کېږي

Lobektomie د جراحي عملیات په مرسته د سږي
یا شش یوه ټوټه پرېکېدل



www.ketabton.com

Nephrektomie د بډوډي لرې کول البته
د جراحي عمليات په ذريعه

-ektopie, Ektopie= Eversion, Extroversion د زېږون له وخته
د بدن د جوړښتونو او يا اورګانونو بې ځايه کېدل،لېږدېدل،
سيمې بدلېدلو ته وايي
Ektoplasma د سيتوپلازما د طبقې څخه د باندې شتون
ته وايي
Korektopi (gr. Kòrektopos) = Ektopia Pupillae د سترګو
د تور يا ليمو بې ځايه کېدل چې دغه موقعيت تر ډېره
د سترګې په دننه او پورتنۍ برخه کې وي
Elektoencephalographie دماغ د دندې يا فعاليت ښودنه
د برېښنايی ماښين په مرسته
Elektrokardiogramm د زړه د ګراف رسمېدلو
يو بريښنايی ماشين
Elektrokardiographie د ماشين په مسته د زړه
د وينې د بهير يا جريان دښودنې ګراف
Elektromyographie د بريښنايی ماشينو په مرسته د
عضلاتو د فعاليت دښودنې ګراف
Embolektomie= intraluminale Desobliteration د جراحي
عمليات په واسطه په سيخه يا مستقيمه يا غير مستقيمه
توګه د ارټيريوټومي يا بالون کټيټر په مرسته د شرياني
آمبولوس يا غوټه شوې وينې لرې کولو ته وايي

Embolie(gr. émbolos) په اکوټ يا حاده توګه د وينې د رګ يا
رګونو بندېدل دې آمبولوس، غوټه شوې وينې
يا لخته شوې وينې د شتون له کبله پېښېږي



www.ketabton.com

embryo (gr. émbryon) یوه یوناني کلمه ده چې د حمل
عمر، موده د څلور تر اتو اونیوو یا هفتوو(4 – 8 اونیوو) پوري وي
Embryonalperiode د امبریو، یا امبریون دوره ،دوران

Emesis, (gr. Émesis = Vomitus ) امیزیز یوناني کلمه ده
چې د خوړو او یا مایعاتو بیرته ګرځول، کانګې یا استفراغ
معنی ورکوي
-emeso د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې کانګو یا
استفراغ ته هدف دی
Haematomesis د وینې ګرځول یا وینې لرونکې کانګې
یا استفراغ
Kopremesis = Syn. Miserere (Ileus) هغه کانګې چې غایطه
مواد ورسره شتون ولري یا غایطه مواد لرونکې کانګې لکه په
الیوز(الیوس) یا د کولمو په بندېدلو کې
Hyperemesis له حده ډیر یا کتلوي کانګې یا استفراغ
Emeticum هغه مواد یا درمل چې د کانګو یا استفراغ
لامل ګرځي
eminentia (lat. Eminere ) له لاتیني کلمې ایمینیر څخه
اخستلې شوې چې برجسته والي، مخکې راتلونکي ته ویل
کېږي
Empyem (gr., empýema) امپییم، امپیوم له یوناني کلمې
امپیما څخه چې د چرک، ځویو تولېدل د بدن په یوه تشه یا
خالیګاه، جوف کې وي نومېږي
Pleuraempyem د پلورا په جوف کې د ځویو، زویو تولیدنه
en- (gr. en) په دننه کې، د هغه په دننه کې، دننه
Enamelum ( english= eng. Enamel) ځلا، لعاب، مینا
لکه د غاښ ځلا یا مینا
Enarthron په بندونو یا په ارتروم کې د پردیو شیانو
یا اجسامو شتوالئ



www.ketabton.com

Encephalitis د مغزو التهاب ته ویل کېږي
encephalo- (gr. Enképhalos) انسیفالو له یوناني کلمې
انکیفالوز څخه اخستلې شوې ده چې مغز یا ماغزه معنی ورکوي
Encephalomyelitis د مغزو او د میالو یا شوکي نخاع التهاب ته ویل کېږي
Encephalomalazia د مغرو یا دماغ نرموالئ
encephalon انسیفالون دماغ یا مغزو ته وایي چې دې کوپړی په دننه کې شتون لري
Encephalorrhagie په مغزو کې وینه بهېدنه یا دماغي خونرېزي

endo-, ento- (gr. éndon) انډو، انټو له یوناني کلمې
انډون څخه چې دننه، په یوه ټوله شوې سیمه یا محدوده کې په یوه ظرف کې نومېږي اخستلې شوي
Endogen هغه شئ چې د بدن په دننه کې مینځ ته راځي یا دې داخلي لاملونو له کبله مینځ ته راغلي وي
Endokard د زړه هغه پرده یا برخه چې د زړه دننه سیمه یې پوښلې ده
Endokardfibrose د زړه دننه پرذه د بېلابېلو ناروغیو له کبله بدلون مومي چې خپل لومړنئ فریولوژیکي خاصیت له لاسه ورکوي چې شخ او ریښې ډوله شکل ځان ته نیسي چې خپله دنده نشي سرته رسولای
Endokarditis د اندوکارد یا د زړه د دننه پردو یا ممبران التهاب نومول شوي
endokrin هغه غوټې یا غدې چې په وینه کې دننه افرازات لري یایي کوي



www.ketabton.com

Endokrinopathie د اندوکرین د غدو ناروغی، هغه ناروغۍ
چې په دغه کې د هورموني ستونځو له کبله مینځ ته راځي
Endometriose (gr. Mètra) اندومیتر ته ورته جوړښتونه
د فزیولوژیکې یا طبعی سیمې څخه بهر مینځ ته راتلل
Endometritis د انډومیټریوم یا د یوټیروس د موکوز
یا مخاطي غشا التهاب
Endometrium د یوټیروس یا رحم دننه خوا هغه
نارکه برده ده چې موکز یا مخاطي غشا

Endoskop هغه آله ده چې د یوه پیپ په ډول جوړښت
لري او د هغه په سر کې یوه وړوکې کامره ټینګه شوې چې
دغه کامره بیا دې بدن دننه غړو یا اورګان ته ننه باسي چې د
باندې خوا بیا یوه مونیتور سره اړیکې لري تر څو چې
درملوونکې ډاکتر یا څېړونکئ ډاکتر دبدن دننه غړو د لیدلو
اسانتیاوې تر لاسه کړي بې له دې چې لوی جراحي شق
ترسره شي او همدارنګه خینې واړه او بې ستونځې جراحی
عملیاتونه هم نن ورځ ډېره په دې طریقه ترسره کېږي
enkephalo- = encephalo-(gr. enképhlos) په کوپړۍ یا سر
کې د دماغ یا مغز شتوالي ته وایي
Enophthalmie کله چې سترګې یا د سترګو ګاټې
د سترګو په حلقو کې دننه ننوتلې وي
Enophtalmus په اوربیتا کې د سترګو دننه خواته
یا شاته ځای نیول یا فرو رفتګي چشم

entero- (gr. énteron) انټیرو له یونانی کلمې انټرون څخه
چې کولمې په تېره بیا وړې کولمې معنی لري
اخستلې شوي ده
Entritis د کولمو التهاب ته وایي



www.ketabton.com

Enterocele = Enterokele, Herni چوره، فتق چې محتوي
يې کولمې وي

enterohepatic هغه ناروغي چې کولمي او ينه
يا لېرمون پورې اړه لري ياپرې اخته شوې وي،مصاب کړې وي

Enteromykose د ګستروانتېستېنال يا د معدې
او کولمو فنجايي يا سمارقي ناروغۍ

Enteropathie د کولمو ناروغۍ

Enteroptose د کولمو او احشا غرق کېدل
يا ښويدل د ابدومن په مينځ يا جوف کې

Enterorrhphie د جراحي عمليات په ذريعه
د کولمو ګنډل يا ترميم کول

Enterostenose د کولمو د قطر تنګوالئ

Enterotomie د جراحي عمليات په مرسته
دې کولمو پرانستل

Enterotoxin په هضمي کانال کې اثر لرونکي
اکزوټوکسين چې د باکتريا له امله مينځ ته راځي

ento-, endo- دننه ، په دننه کې

Entoderm د پوستکي دننه برخه، د پوستکي په دننه کې

Derm-; Derma-, Dermata-, -dermia (gr. Dèrma; dèrmatos)
يوناني کلمه ده چې د پوستکي يا جلد معنی ورکوي

eph- د کلمې هغه لومړۍ برخه ده چې دپاسه
هسک ، لوړ، جګ

Ephidrosis د خولو يا عرق له حده زيات توليد
يا افراز کيدل يا په بل عبارت هغه څوک چې ډېر ې زياتې
خولی کوی

epi-(gre. epí) اپي يوه يوناني کلمه ده چې د پاسه،
پورتنۍ برخه، سطحي برخه ښودل شوې ده



www.ketabton.com

Epidemie هغه ناروغي ده چې ټولیزه یا عمومي
کېږي یا ټول وګړي پرې اخته کېږي
Epidermis د پوستکي یا جلد پورتنۍ، سطحي برخې ته وايي
Epidermolyse د پوستکي د پورتنۍ برخې یا
اپیدرم بېلېدلو، جداکېدل( د تڼاکو جوړېدل یا مینځ ته راتلل) ته
ویل کېږي
Epidemiologie(gr. Epidemía) هغه پوهې یا
علم ته وايي چې له هغې ناروغۍ څخه چې په ټولو خلکو
کې خپرېږي څېړي یا بحث کوي
epididymis (gr. Epídídymos) یوه یونانی کلمه ده چې
د خووټو یا خصیوو تر څنګ جوړښتونه نومول شوي
dídymus (gr. Dìdymos) غبرګوني، دوګانګي،خووټې یا خصیو
Epididimovasektomie د اپیډیډیموز او د منوي لارې
یا مجرا لرې کولو ته ویل شوې
epiglottis د حلق سرپوښ، د لارینکس پورتنۍ ژبکۍ
یا سرپوښ
Epikard هغه پرده ده چې دې زړه عضله یې
د باندې یا بهر له خوا پوښلې یا تاو کړې وي
Epikarditis د اپیکارد التهاب
epileps حمله کول، په ناروغۍ اخته کېدل، مبتلا کېدل، نابېره
پېښېدل، غافلګیر کول
Epilepsie (gr. epilepsìa) د یوې داسې ناروغۍ انځور یا
تصویر ده چې نابېره پېښېږي او سړئ په مځکه غورځوي او
ټکانونه ورکوي چې دغه ناروغۍ ته عموام خلک میرګي وايي
epilept or epileps نابېره ،دفعتاً پېښه، غافلګیره حمله

epiploo- (gr. Epìploos) = syn. Omentum ځاله، جالۍ
د کولمو په سر پرته جالۍ ته وايي



www.ketabton.com

epithelium د پوستکي یا کوتان او د مخاطي غشا
یا موکوز د ژوانکو د سطحې د پوښلو پورتني برخي ته
اپیتېلیوم وایي
Erectio (lat. ) نښلول، نصب کول، روحي تقویت، تسلي
erector نښلوونکئ، نصب کوونکئ
erector spinae
ergo- (gr. érgon) ارګوو له یوناني کلمې ارګون څخه
چې کار او فعالیت نومېږي
-metrie (gr. métron) میټري د کلمې هغه وروستی برخه
ده چې له یوناني کلمې میټرون څخه اخستلې شوې چې
اندازه کولو، متر کولو ته وایي
Ergometrie د جسمي فعالیت د قدرت او توانایی
د اندازې ښکاره کول چې تر ډېره حده د زړه د کار او توانایي
د اندازې ټاکل د یوه ماشین په مرسته چې ارګومټر ورته وایي
سرته رسېږي

erigens نښلولئ شوئ، نصب شوئ
Nervus erigens نښلولئ شوئ عصب، نښلونکئ عصب
erythema سوروالئ، د پوستکي د رنګ بدلون په سره
رنګ یا سرخ رنګ
erythema erythematis د پوستکي سوروالئ
د ویروسي یا باکتریایي مکروبونو له امله
erythema exanthematis د پوستکي سور رنګه التهاب

erythro- (gr. erythrós) د کلمې هغه لومړی برخه ده
چې سور، سور رنګ معنی ورکوي
Erythroblast د سرو ژوانکو هسته لرونکې لومړنی مرحلې
ته وایي یعنې هغه هسته لرونکې لومړنی ژوانکه ده چې
وروسته بیا په اریترو سیټ بدلېږي



www.ketabton.com

blasto-, -blasto هسته، مرکز
Erythrocyt د وينې سور رنګه ژوانکې
Erythrocytopoese په اصل کې د وينې جوړېدنه
د وينې د سرو ژوانکو يا کروياتو جوړېدنه او د هغو وده
يا پرمختګ د هډوکو په مينځ کې

-poes,(gr. poieín) د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
د جوړولو، مينځ ته راوړلو معنی ورکوي
Erythrocyturie= syn. Haematurie د وينې يا سوررنګه ژوانکو
شتو ن په متيازو يا ادرار کې
Erythrodermie د بدن د پوستکي سوروالئ،سوررنګه پوستکئ
esophageus کومه برخه يا هر هغه څه چې
د خوړلو او څښلو مرۍ يا ميري پورې اړه لري
esophagus د خوړو او څښلو مري يا لاره يا هغه لاره چې
خوله له ګسټر سره نښلوي
essentiell (lat., essentia) روحيه، اصل، ماهيت، ذات، جوهر

eu-, (gr. eú , normal) ښه، فزيولوژيک، نورمال ته وايي
Euchromatopsie په نورماله توګه د رنګونو ليدل يعنې
د رنګونو د ډولونو پېژندنه
Eukinesie عادي يا نورمال خوځښت يا حرکت
Eumenorrhoe نورمال او بې له درده مياشتنۍ وينه
ورکونه په ښځينه جنس کې
Euphori (gr. Eùphoros) هوسايي، راحت
د ژوند آرامي، د هوسا او ښه ژوند احساس ته آيفوري وايي

ek- (gr. èk) = ec- له يو شي څخه يو لږ څه لرې کول،
پرېکول، بهر، باندې
Ektomie پريکول، د جراحي عمليات په مرسته لرې کول



www.ketabton.com

ex- (lat. ) بهر، له بهر څخه، باندې، د باندې
Exanthem (gr. Èxanteìn) په یوه لویه ساحه کې
د پوستکي په بهرنۍ سیمه کې د پوستکي التهابي بدلون ته ویل شوي
exanthema (eng. ) یوه انګرېزي کلمه ده
excavatio rectouterina (Douglas-Room = د دوګلاس خونه یا کوټه)
exitus (lat.) د وتلو لاره، د وتلو سیمه، مړینه، له مینځه تلل
exo-:, (gr. éxo) بهر، له بهر څخه
exogen سر چینه چې یې له بهر څخه وي
exokrin هغه غوټې یا غدې چې
خپل افراز شوي مواد د باندې خالي کوي یایې باسي
Exophthalmie دا هغه حالت دئ چې د سترګو ګاټې له
نورمال ډول حخه پرته د باندې خواته وتلي یا میلان کړئ وي
Exophthalmus د سترګو د ګاټو بهر ته راوتل
له اوربیټال څخه یعنې نورمال حالت یا موقعیت نلري لکه
په هایپرټیریوسیز کې چې بېلابېل ډولونه لري چې دا کیدای
شي یوه خوا یا دواړه وي
exosomatic کوم چې د بدن څخه د باندې وي
Exotose هغه هډوکي چې د باندې خوا وده کوي
په بل عبارت د یو لړ ناروغیو له کبله د نورمال هډوکي څخه
یو یا څو نور هډوکئ وده کوي
Exspiration د هوا ویستل، چې سږي هوا
له لاسه ورکوي یعني کاربن لرونکې هوا له سږو وځي
extensor غزېدلئ، هوار حالت لکه لاس چې قات وي
بیا هغه وغزول شي، غزونکئ



www.ketabton.com

extensor digitorum د ګوتو غزول یا هواریدل کېدل، مستقیم کېدل، اما دلته موخه ترې هغه عضله یا عضلې دي چې د ګوتو د غزولو دنده په غاړه لري برخلاف د قات شویو ګوتو
externus د باندې یا بهر خواته قرار لرونکئ
extra- (lat.) intra = اکسترا یوه لاتینه ( سیمې دننه خوا کلمه ده چې له سیمې د باندې نومولې شوي لکه
extra abdominal له ګیډې، نس یا ابدومن څخه د باندې
extra artikulaer د بندونو یا مفصلونو د باندې
extra hepatic له ځیګر، ینې څخه د باندې
extra kardial له زړه څخه د باندې
extra korporal له بدن یا تنې، جسم څخه دباندې
extra kranial د سر یا کوپړي څخه د باندې
extrakt د باندې خوا یا بهر خوا ته کشول
extraktion د باندې ویستل، بهرته کشول او راویستل لکه ماشوم زېږون د سر په حالت کې هودارنګه د واکوم اکستراکشن یا فورسیپس په مرسته د زېږون پروسه تر سره رسول
extra kulaer له سترګو څخه د باندې
extra peritonial له پریتوان څخه د باندې
extremitas د بدن بهرني سیمې یا هغه برخه چې له تنې لرې پرتې وي لکه لاسونه او پښې

**F**

Facies (lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې مخ، څیهرې ته وایي، په اناتومي کې بیا د یوه اورګان ساحه، سیمه او دې هغې موقعیت او جهت اساس ښـي د بیلګې په توګه دغه لاندې



www.ketabton.com

Facies abdominalis لکه په اکوټ پیریټونیټز کې
ناروغ یوه ویریدونکې خیږه لري

Facies mitralis لکه په میټرال سینوز یا د میټرال
د پردو په تنګوالي کې ګرد مخ لیدل کېږي

Facilis ساده، اسانه(یو څه کار کول) ته وایي

Facilimus ساده والئ، یو کار اسانه کولو ته وایي

Faeces (Faex), Pl. Faekalien, Kot غایطه مواد

falciformis (lat. Falx, falcis هلال ،لوور; - formis) د
لاره په شکل قوسي ډول،د سپوږمۍ قوسي شکل ته وایي

falx, falcis لوور، نیمګړې سپوږمۍ، هلال

fames, famis لوږه، ګرسنګي

fascia (lat.) (Muskel-) یوه لاتینه کلمه ده چې
دې یوه قوي جوړښت له یوځای کېدلو څخه یا د قوي ریښو
له یوځای کېدلو څخه مینځ ته راځي چې د ابدومن دننه
اورګانونه پوښوي لکه دغه لاندې یو شمېر لیکل شوې بېلګې

Fascia antebrachii

Musculus tensor dascies latae

Sutura fasciearum

fasciculus (lat.) یوه دسته، یو موټئ،د اعصابو دسته
د عضلاتو ګېډۍ، دسته

fascis دسته، ګېډۍ، بسته

fauces (lat.) = Isthmus faucium, pharyngo-, -pharynx
ستونئ،حلق، ګرداب

febrilis تبه لرونکې، د حرارت لوړوالئ

febris تبه، تب، د بدن د تودوالي کچه یا لوړوالئ

Febris recurrens بابیږئ،تکراري تبه، په تکراري توګه د
بدن د حرارت لوړوالئ



www.ketabton.com

fel (lat.), bilis, chol(e)- د تریخي ترخه مواد یا صفراوي مواد
femina (lat. femina = gr. Gynaeko-, gyno-, gyn =
ښځه، ښځینه)
femoralis ټول هغه شیان چې ورانه یا د لینګي پورتنۍ
برخې پورې اړه لري
Ateria femoralis د ورانه د پاکې وینې لرونکې رګ
femur (lat.) د ورانه هډوکئ
Femuraplasie د زیږون له وخته یا په کانجینیتال ډول د ورانه د
هډوکي نشتوالئ
Femurfraktur د ورانه د هډوکي ماتېدل، شکستګي
fenestra (lat.) کړکي، کلکین لکه
fenestra vestibuli هګۍ ډوله یا بیضوي ډوله کړکي
-fer,-fera, -ferum هغه څه چې لېږدول کېږي، رهبري کېږي
bilifer(lat. Ferre, -a, -um), Ductuli biliferi د صفراوي موادو
لېږدونکئ، رهبري کوونکئ لکه
lactifer د شیدو لېږدونکئ
Lact- (lat. Lac, lactis) = syn. Lakt شیدې، شیر
lactans (lat. Lactare ) شیدې ورکول، کله چې مور ماشوم ته
شیدې ورکوي
seminifer لېږدونکې نلکې یا لارې
fertilitas (lat. Fertilis) بارداره کېدل، د بارداری یا حامله
کېدلو استعداد درلودل چې د عقامت یا نه بارداره کېدلو په
مقابل کې قرار درلودل نومول شوی
fetus، په رحم کې ماشوم چې د حاملګي له درې
میاشتني څخه پیل کېږي چې پخوا یي ورته ایمبریو ویل کیدل
fibra (lat.)، fibro- (lat., fibra) یوه لاتینه کلمه ده چې
ریښې نومېږي
Fibrinogen هغه لاملونه چې فیبرین جوړوي یایې په جوړونه
کې برخه اخلي



www.ketabton.com

Fibrosarkom فیبریني سرکوم یا سرطاني تومور

fibrosus د رېښو څخه ډک یا غنيوالئ

fibula په پونډۍ یا د لینګي په لاندنۍ برخې کې دوه هډوکي دي چې یو له هغو څخه نرئ هډوکئ دئ چې فیبولا نومېږي

fibular کوم شئ یا هغه څه چې د فیبولا هډوکي خواته شتون ولري لکه عضله او داسې نور

Filum (lat.), Pl. Fila تار، ریښې، نخ

Fissura (lat. Fissum) یو چاود، درز، کسر، په شي کې یو چاود لکه په هډوکي کې د یوې تراوما له کبله

Fixation ټینګول، کلکول، تثبیت کول

flatus د هغه اورګان یا شي پړسیدل یا پاړسوب کې چې له هوا، ګاز څخه ډک وي یعني د ګاز شتون په یوې سیمه کې، د پوستوالي یا نرموالي ضد

Flexor (lat. Flectere, flexus ) قاتوونکې عضله، قاتوونکئ

Flexor digitorum د ګوتو قاتېدل یا قاتول د لاس ورغوي خواته

Flexura قاتېدل، قات شوي

Flocculus (lat. Floccus) ټوټې،ټوټې، بارچه،پارچه لکه د واورې دانې

Floccus ټوټه ټوټه، پارچه، پارچه، دانې دانې

Fluid (lat.) اوبه او نور نري شیان یا مایعات

Fluktuation (lat. Fluctuatio) په کلینیک کې د څپو یا موج په څیر د مایعاتو د خوځښتونو لمس کول یا پلپیشن د هغو سیمیزو ټولې شویو مایعاتو ته وایي لکه آبسې، د څپو په ډول خوځښتونه یا موج لرونکي خوځښتونه

Fluor (lat., fluere) لاتینه کلمه ده چې بهېدلو، روانېدلو ته وایي، په تېره له وګینا څخه د مایع بهېدل ، جریان



www.ketabton.com

Fluor albus = Leukorrhoe سپین رنګه افرازات
fluxus بهېدل، ډېره زیاته، شدیده ت ویونه یا افرازات

Folium(lat.) پاڼه، ورقه، پارچه
Folliculus (lat. Folliculus) = Follikul کڅوړه، الاستیکي
لوله،تناکې یا آبله
Folliculus linguales د ژبې په سر یو طبقه یا پوښښ یا
بارداره ژبه،د ژبې تناکې، د ژبې په سر تناکې
follis (Pl. Folles) فالیز په اصل کې د یوې رومي پیسې
نوم ده خو په طب کې موخه ترې د وېښتو فولیکول دی
Foramen (lat. ) Pl. Foramena یو سورئ، یوه خالیګاه
یوه پرانستلې سیمه لکه دا لاندې
Foramen inter vertebralis هغه سوري چې د ملا
د مریو ، فقراتو تر مینځ وي
Foramen vertebrale هغه سورئ یا سوري چې
د ملا په مریو کې شتون لري
Forma ډول، شکل، بڼه, Form
Formation (lat.) له لاتینې کلمې څخه اخستلې شوې
ده چې بڼه ورکول یا شکل او فورم ورکول نومېږي

-formis (lat. Substantivs) د لاتینې کلمې هغه وروستۍ
برخه ده چې نوم یا اسم نومولئ شوئ دی
Fornix (lat.) ګنبده، لیندۍ، قوس، هلال، قوسي چت
یا بام جوړول په طبابت کې موخه ترې د دماغ یا مغزي لیندۍ
ته ورته یا قوسي شکله جوړښت دئ
Fornix cerebri فورنیکس سیریبري یا
یو لنډ قوس چې په دماغ کې د یوې لارې نقشه ښودونکې
ده چې په هیپوکارپوس کې له کارپوراماميلاريز سره یوځای
کېږي



www.ketabton.com

Fossa (lat.) خندق، ګودال، معدن، حفره

Fossula واړه خندقونه، واړه ګودالونه

Fovea (lat.) ګودال، یوه غوچه سیمه، معدن لکه
فوویا ارتیکولاریز

Foveola لغوي معنی یې یوه غوچه یا
عمیقه سیمه یا ځای لکه فاوولا راډیالیز

Fragment (lat. Frangere, fragmentum) له لاتینې
کلمې فرانګېریر، فراګمینټوم څخه چې ماتې شوې ټوټې
معنی ورکوی اخستلې شوې لکه د هډوکو ماتې شوې ټوټې

fractura ( lat. Fractum) فرکتورا هم لاتینه کلمه ده چې
د هډوکو ماتېدلو، د غاښو ماتېدلو ته وایي

frons(lat.) له لاتینې اخستلې شوې کلمه ده چې ټنډې،
وچولي د تندي مخې سیمې ته وایي

Frontalis هغه څه چې ټنډې خواته شتون لري یا ورپورې
اړه لري

Frontalebene کوم څه چې له تندي ، ټنډې یا وچولي
سره په یوه سطحه کې پروت وي

Nervus forontales د سر یا کوپړۍ د مخې برخې پورې اړه
لرونکي اعصاب

Sinus frontales د ټنډې په سیمه کې د هغې
سورکي، جوفونه

Frunkel (lat. frunculus) له لاتینې کلمې فرانکولوز
څخه چې د ویښتو د بیخ یا پیاز چرکي یا قیحي ډوله التهاب
ته وایي اخستلې شوې چې لامل یې ستافیلوکوکو دي چې
دغه ځوې یا چرک یوځای سره ټولېږي

Frunkulose د ګڼ شمېر چرکینو پرسېدلو کځوړو مینځ
ته راتلل یا شتوالي



www.ketabton.com

fundus (lat.) ځمکه، اساس، بنیاد،د کوټې غوولئ یا کف، قعر

Fundus gastricus (fornix ventricularis gastricus) د معدې هغه برخه ده چې دې ګسټر د ننوتلو یا پورتنی لارې خخه پاسه د لیندۍ یا د قوسي په شکل شتون لري چې د معدې ړنده کڅوړه هم نومولې شوې ده

Fundus uteri د یوټیروس یا رحم هغه برخه ده چې د نورې سیمې په پرتله پراخه ده او د دواړو خواو له ټیوبا یوټېرینا سره اړیکې لري او په پورتنۍ برخه کې قرار لري

fungiformis (lat.) د فنجاي ته ورته شکل، مرخیړیو په ډول، سمارق شکل لرونکي جوړښت ته وايي

fusiformis (lat.) فنري ډوله شکل، میلې ته ورته شکل

## G

Galaktagoga = Lactagoga هغه مواد یا لاملونه چې د شیدو پیدایښت او ترشح ته وده ورکوي لکه اوکسیتوسین

galakto-, (gr. gàla, gàlaktos = lat. lac, lactis) شیدې

Galaktographie = Duktugraphie, (Radiatio-) د شیدو د لارو یا قناتونو ښودنه د رادیوګرافي په مرسته

Galaktirrhoe د شیدو بهیر، د شیدو ویالې،د شیدو سین

-rrhoe سین، بهېدل، بهیر

gallus چرګ، مرغ خراس

Christa galli د چرګ کرکره یا تاج، د چرګ کرکرې ته ورته ځینې جوړښتونه

ganglio- (gr.) د عصبي ژوانکو پېدوالئ یا یوځایوالئ د غوټو په شکل



www.ketabton.com

ganglion (lat. Ganglion) یوه لاتینه کلمه ده چې عصبي
عقدې، غوټو ته وايي چې په یواځې توګه یا ډلیزه توګه مینځ
ته راځي
Ganglion sensorium nervi spinalis = Ganglia craniospinalia sensoria
gaster (gr. Gastèr) ګېډه، معده
gastral, Adjective یو صفت دئ چې هر هغه څه
چې یا معدې پورې اړه لري
Gastralgie د ګستر درد
Gastrektasie د ګستر پراخېدل، لویدل
Gastrektomie د جراحي عملیات په مرسته
د ګستر لري کول، پریکول
gastricus کوم چې ګستر یا معدې پورې اړه لري
gastritis د معدې د موکوز یا مخاطي غشا التهاب
ته وايي چې د معدې درد، د عوامو په ژبه زړه بدوالئ ، دخوا
بدوالئ او استفراغ یې نښې دي
gastro- (gr. gastér) معده
Gastrocolicus
Ligamentum gastrocolicum
Gastroduodenostomi د ګستر او ډوډینوم تر مینځ
د جراحي عملیات په مرسته نوي لاره نښلول
Gastrodynie د ګستر دردونه
Gastroenteritis د ګستر او کولمو التهاب
Gastrojejunostomie یوه نوي اړیکې د ګستر او
جیجونوم تر مینځه د جراحي عملیات په مرسته , Operativ په
Gastrolienalis کوم شئ چې معدې او بډوډو پورې اړه
لري یا هغه جوړښتونه چې ګستر او بډودو تر مینځ اړیکې
ورکونکي دي



www.ketabton.com

Ligamentum gastrolienale — هغه بند چې د ګستر او د بړوړو تر مینځ پروت دئ

Gastropathie — د ګستر یا معدې ناروغي

Gastropexie — ډول د معدې ټینګول یا تثبیت کول

Gastroptose — په غیر نورمال ډول ټیټه یا عمیقه سیمه کې د ګستر شتون

Gastrorrhexie — د ګستر درزونه، چاودونه لکه د تراوما یا ضربو له امله

Gastrospasmus — د معدې تشنج یا کرمپ

Gastrotomie — د ګستر پرانستل چې د ګسټر د دیوال له لاري تر سره کېږي

Gemini (lat. geminus) — غبرګوني، دوګانګي

-gen — یو څه اثر لرونکئ، لږ شانته اغیزمن

Gena (lat.) — انانګو، غمبوري، ژامې

geneio-,genio- = syn. mentum — زنه، زناخ

Genese = Genetik, gen (gr. Génesis) — ښودنه، وده، نمو، پرمختګ، ترقي

genioglossus (lat.) — له زنې څخه تر ژبې پورې پرته عضلې څخه موخه ده

Musculus genioglossus — د زنې او ژبې تر مینځ عضله

geniohyoideus (lat.) — د زنې او ژبې تر بیخ پورې رسېدل

Musculus geniohyoideus — د زنې او ژبې تر مینځ یا د لاندنۍ ژامې عضلې څخه موخه ده

Geniospasmus — د زنې تشنج، کرمپ



www.ketabton.com

genitale (lat. Genitalis) هر هغه څه چې جنسي غړو یا اورګانو پورې اړه لرونکئ، اړیکې، نسبت درلودونکی وي

Genitalcyklus = Menstruationcycl په ښځو کې د میاشتنی خونریزی دوران، دوراني سیستم

Genitaltuberkulose د جنسي اورګانونو د توبرکلوز ناروغی

genito- د اصطلاح هغه لومړی برخه ده چې جنسي، جنسي اورګان نومول کیږي

genitofemoral هغه څه چې د جنسي اورګان او ورانه یا د لینګي پورتنی برخې پورې چې فیمور هم ورته وایي اړه لري

genitoinguinalis

Ligamentum genitoinguinale

Genu(lat.) زنګون، زانو

Genus (lat.), Pl. Genera نوع، جنس، نژاد

gero- (gr. Géron, gérontos = Greis) ډیر لوړ سن، زړښت لوړ عمر

Geriatrie د لوړ عمر د ناروغانو طبابت یا د زړښت، لوړ عمر ناروغیو پیژندنه

Gerontologie د لوړ عمر خیړنه همدارنګه د هغوي د پوهې، علم او دغه عمر له بیولوژیکي. سوماتیکي، رواني او روحي یا پسیښولوژي یا سایکولوژي او اجتمایي بنسټونو له مخې څیړي

geronto-، Greis د ډیر لوړ عمر څښتن

Gingiva (lat.) لاتینه کلمه ده چې د غاښو ووری د غاښو غوښه نومیږي



www.ketabton.com

Gingivitis gravidarum = Gingivitis د غابښونو د ووريو هغه
التهاب ته وايي چې د بارداری یا حاملګي په دوره کې پېښېږي
Gangivostomatitis د غابښونو د ووريو او د خولې
د موکوز التهاب
Glandula, Pl. Glandulae افرازي يا تویونکې غوټې يا غدې
Glandulae parathyroidea د جاغور تر څنګه افرازي غوټې
Glandulae pituitaria = Hypophysis تر دماغ لاندې ځوړنده
غوټه يا غده
Glandulae seminalis = Glandula Vesiculosa
Glandulae sudoriferae د خولو يا عرق
رهبري کوونکې غوټې يا غدې
Glandulae suprarenalis د بډوډو، پوښتورګو
د پاسه تویونکې يا افرازي غوټې، فوق کلیه غده
Glandulae thyroidea د جاغور غده
Glandulae vesiculosae د تښاکو غدې، د پوکانو غدې
د مثانې غدې

Glaukom (gr. glaúkoma, glaùkòs) له یونانی کلمې
څخه اخستلې شوې ده چې خړ رنګه شین يا آبی خاکستري
رنګه د سترګو يو ډول ناروغي ده چې عوام ورته زرغون
ستوري هم وايي

gleno- (gr. ) ګلینو د يوې يوناني کلمې هغه لومړی
برخه ده چې په اصل کې د سترګه، يا د سترګو ګاټۍ
معنی ورکوي
glenohumeralis موخه يا هدف ترې ارتیکولاسیو
ګلینوهیومیرالیز دئ
Ligamenta glenohumeralia



www.ketabton.com

glenoidalis هر هغه څه سره چې ګلینو مخامخ وي یا ورسره اخته وي

Cavitas glenoidalis, Cavitas glinoidalis scapulae نسبتاً هواره یا مسطحه سطحه چې د ولي د هغه مفصل مخ یا کاسه چې د هیومیروس له هډوکي سره په اړیکې یا تماس کې وي

Gliacell = Neuroglia

Glioblastom ګلیوبلاستوم د خامو یا نه رسېدلو ګلیا ژوانکو یو ډول ځانګړئ خبیث تومور یا پاړسوب

Gliom یو غیر طبعي پاړسوب چې د ګلیا ژوانکو څخه سر چینه نیسي چې تر ډېره په دماغ یا مغزو کې ځای نیسې

Glomerulonephritis د بډوډو هغه التهاب ته وایي چې د وینې د رګونو له کانالونو څخه سر چینه نیسي

Glomerulum د بډودي واړه شیان یا اجسام

Glomerulus (lat. Glomus) = syn. Kapillarkanals له لاتینې کلمې ګلوموس څخه چئ د تارو کلوله، دسته جمیعت ته وایي خو په طب کې موخه ترې د وېښتو په شان نرې د وینې رګونه (عروق شعریه یا کانالونه)په بډودو کې دئ چې ورته نوم یې د بډوډو د څنډو دې مالپیجي اجسامو کاپیلیلارکانالونو وایي

Glomus (lat.) لاتینه کلمه ده چې په طب کې نلکې یا کانالونه نومول شوي

Glomus caroticum د ارتیریا کاروتیز کومونوز د بېلېدلو په سیمه کې د شیموریسپتورونو شتوالي ته ویل کېږي

Glossa ژبه، زبان

glosso-(gr. glóssa): د ژبې په اوړدو کې یو اوړد درز چې ژبه په اوړدو په دوه برخو ویشي



www.ketabton.com

Glossitis د ژبې التهاب، د التهاب له امله
د ژبې په موکوز کې بدلونونه
Glossodynie د ژبې درد، د ژبې سوځیدل
Glossoplegie د هایپوګلوزوز د عصب
دې ژوبلېدنې له کبله د ژبې د عضلې فلج په مکمل ډول
مینځ ته راځي چې په غړېدو او د خوړو او اوبو په تېرولو کې
ستونځې او خنډونه پېښېږي
Glossotrichie یوه وېښته لرونکې ژبه

glottis = syn. Cavitas larxngis = glottis vocalis د غړ
یا غاړو د پیدا کولو پردې چې د حنجرې په خوله ، هغه
وړوکې ژبکۍ چې د حنجرې په پورتنۍ برخې کې قرار لري

gluko- or glyko-(gr. Glykýs ) = gluco-; glyco- = Glucagon
خواږه
Glukose د انګورو خوږه، ډیکستروز یې ورته یا مشابه
نوم دئ، بوره، شکره
Glukoseurie ګلوکوز یا دې خوږې د باندې وتل
له میتیازو یا ادرار سره یا خوږه لرونکئ ادرار
gluteus (musculus) د وینې د رګونو عضلې
gnatho- (gr. gnáthos = mandibula, maxilla ) پورتنۍ او
لاندنۍ ژامې
gono- = genu زنګنونه، زانوها
Gonitis = Gonarthritis د زنګانه د بند یا مفصل التهاب

gonado- (gr. gone) له یوناني کلمې ګان څخه چې
جنسي اورګان، جنسي غدې، مینځ ته راوړلو، جوړولو
وروستۍ نسل، اولاد ته وایي



www.ketabton.com

Gonadae (Ovarium او Testis) غدې، ښودنه، جنس
جنسیت خوټې او تخمدان
Gonadae dysgenesie ګوناډونو په وده یا پرمختګ کې
ستونځې، تاخیر په دندې یا د دندې د سرته رسولو نشتوالی
gonadotrop هغه هورمون یا یو هورمون چې ګوناډونه
د دندې ترسره کولو یا فعالیت ته د تیارولو لپاره هڅوي یایې
فعال کوي
Gonorrhoe یوه جنسي ناروغي ده چې عوام ورته
سوزاک وايي چې بېلا بېل لاملونه لري
gracilis (lat.) ډنګر، نرئ، سست، ناتوانه
Musculus gracilis نری عضله یا ماهیچه

granulo- (lat. Granum, Granulum) دانه،غله، تخم، هسته،
وړې دانې
Granulocyt لایکوسیتو پورې اړه لرونکې، د پولیمورف یا
بېلابېلو، مختلفو کوچنیو هستو لرونکې ژوانکې
Granulocytopenie د ګرانولوسیتو لږوالئ
په وینه کې یائي لږجوړېدنه د هډوکو په مغز کې
Granulocytose په وینه کې له نورمال یا
فزیولوژیک حالت څخه د ګرانولوسیتو د شمیر ډېروالئ
granulatio ( granum) تخم، دانه، هسته
granulosus =granulum له ډېرو کوچنیو هستو څخه ډکه ژوانکه

Gravida (lat.) بارداره ښځه، حامله داره ښځه
graviditas, graviditaet حامله داري، حاملګي
Gravis (lat.) دروند، ډېر وزن لرونکئ
Griseus (lat.) د هیرو په شان رنګ، خاکستري رنګ
gustus (lat. ), substansive
Sensus gustus



www.ketabton.com

-gyn ښځينه جنس ،ښځه
gynaeko-, gyno-(gr. gyné, gynaikós) يوناني کلمه
ده چې ښځينه معني ورکوي
Gynaekologie هغه علم يا پوهه ده چې
د ښځينه ناروغيو د څېړنو څخه بحث کوي
Gynaekomastie په نارينه جنس کې يوې يا دواړو خواو د تيوو
يا ثديو غټوالئ يا د ښځينه ډوله تيوو شکل يا ثديو فورم
شتوالئ
Gynaekotropie = Gynaekotropismus هغه
ځانګړې ناروغۍ ته وايي چې ښځې پري اخته کېږي يا
ښځې مصاب کېږي
Gyrus (gr. Gyros), Pl. Gyri دوره، تاوېدل، انحنا، په تېره
بيا د مغزو يا دماغ انحنا

## H

Haematemesis وينه ګرځونه، ,وينه لرونکې کانګې
يا استفراغ، د ګستروانټيسټينال سيستم د پورتنۍ سيمې
په تازه خونرېزۍ کې وينه روښانه سوررنګه وي او کله چې د
معدې له تيزاب يا اسيد سره ګډه يا مخامخ شي نو بيا
هيماتين جوړېږي نو هغه وختبيا هلته د وينې رنګ تور رنګه يا
د کافي يا قهوئې رنګ پيدا کوي
Haemangiom د وينې د رګونو تومور، پاړسوب
Haemangiomatose د يو ډېر شمير هيمانجيوم يا
هيمانګيوم پيدا کيدل يا مينځ ته راتګ چې په اصل کې د
بېلا بېلو ارثي ناروغيو له کبله د بېلګې په توګه د بلو-روبر- ,
نيويوز-سيندروم، هيپيل-لينداو-سيندروم او داسې نور
Haemarthros د ويني ټولېدنه يا د وينې ارګوز
په بندونو يا مفصلونو کې



www.ketabton.com

Haemato- = Haemo- وینه، خون

Haematogen هرهغه لاملونه یا ناروغۍ چې وینه
ورسره مخامخ وي یا اړیکې لري

Haematokrit د وینې د ژوانکو برخه یا مقدار
په وینه کې، سهمیه په ټوله وینه کې

Haematom د وینې ټولېدنه، د تراوما
یا ترضیض له کبله د وینې ټولیدنه دې بدن په پستو یا نرمو
جوړښتونو کې او یا په یوه فزیولوژیکه، پخوانۍ جوړه شوې
تشه یا خالیګاه کې لکه هیم ارتروز، هیموتورکس او داسې نور

Haematometra (gr. Mètra) په یوټېروز یا رحم کې
مینستېرویشن د وینې ټولېدنه د سیرویکال د تنګۍ له کبله
په تېره بیا د سیرویکال په اټیریزي کې

Haematopathie د وینې ناروغۍ

Haematopneumothorax په تورکس کې په تېره بیا
دې دواړو پلوراو په مینځ کې وینې او هوا ټولیدنه

Haematopoese د وینې جوړېدنه

-poese (gr. poieín) له یوې یوناني کلمې پویئن
چې جوړونه، مینځ ته راوړنه معنی ورکوي

Haematosalpinx د وینې ټولیدنه
په سالپنکس یا د هګۍ لیږدونکې نلکو کې

Haematothorax د یوې یا څو پوښتیو د ماتېدو
له امله د پلورا مینځ یا جوف له وینې ډکیدلو ته وایي

Haematotympanon د وینې ټولېدنه د غوږ
په مینځنۍ سیمه کې

Haematurie وینې شتوالئ په متیازو یا یورین کې

haemo- وینه، خون

Haemodynamik



www.ketabton.com

د مریو لرونکي یا فقراتو لرونکي ژویو Haemoglobin (Hb)
یا حیواناتو وسپنه لرونکې،آکسیجن لېږدونکې کروموپروتیئن
ته ویل شوي، همدارنګه وینې ته د وینې رنګه کولو مواد
هم ورته ویل شوي
په یورین کې د هیموګلوبین Haemoglobinurie
یا وینې د رنګه کولو د موادو وتل یا بهر کېدل
د وینې د سرو ژوانکو د نازکه پردې Haemolyse
یا میمبران منحل، ټوټه کېدل یا تخریب کېدل
د وینې د سرو ژوانکو لېږوالی Haemolytic anaemie
یا کمخوني چې د وینې د سرو ژوانکو نه جوړیدنه په یوه
غټ یا لوی شوي توري، طحال له کبله مینځ ته راځي
د وینې یو ډول ناروغي ده Haemopathie = syn. Haemophilie
چې په هغې کې وینه نرۍ کېږي او بیا وینه
په بهېدلو پیل کوي (خونریزي) او هغه داسې چې د هغو
فکتورونو نشتوالئ دئ چې د وینې په ټینګوالي یا لخته کولو
کې مهم رول لوبوي او په دوه ډوله ده چې یوه یې هیموفیلي
ده چې لومړنئ ډول یا الف یې د اتم نمبر فکتور د A,B
نشتوالي له کبله او په ځوانو هلکانو کې لیدل کېږي او دویم
نمبر یې بیا د نهم نمر فکتور د نشتوالي له کبله مینځ ته
راځي چې په نجونو کې لیدل کېږي د یادونې وړ ده چې
هر یو ل دغو فکتورونو څه یو په بل اثر اچوي او یو بل فعال
کیدو ته هڅوي او دغه فعال کیدل هم د بهرنیو یا اکستینسیف
لاملونو او هم د دننه یا انتینسیف لاملونو له کبله پېښېږي
څرنګه چې په اصل کې باید دولسم فکتور فعال شي تر څو
چې وینې د لخته کېدو پروسه پرمخ لاړه شي، دولسوم فکتور
بیا یولسم قکتور فعال کوي او یولس بیا نهم او نهم بیا لسم او
په همدې ډول پروسه روانه ده تر څو چې فیبرین فعال او وینه
لخته، ټینګه یا آمبولي شي او له خونریزۍ څخه ډه ډه وشي



www.ketabton.com

Haemoperikard = syn. Perikardtamponade د تراوما
له کبله مینځ ته راغلي کواګل یا د وینې بهولېدنه د زړه د
شاوخوا په کڅوړه یا پېریکارد کې
Haemoperitoneum = syn. Haemaskos د وینې بهولېدنه
د ابدومن په آزاده جوف کې چې یا په دننه کې د جوف
لرونکې غړو دې چاودېدنې او ژوبلېدنې له کبله، او همدارنګه
دې اکستراپوتیرین ګراویډیتیټ یا د رحم د مینځ یا جوف څخه د
باندې حمل له کبله پېښېږي

Haemopoese د وینې جوړېدنه
Haemoptoe د وینې توکول د ټوخې سره
په ډېره کچه که چېرې د وینو د رګونو تخریش یا چاودېدنې له
کبله چې د سږو د ځینو ناروغیو او تومورونو له کبله پېښېږي
Haemoptyse وینه لرونکې سپوتوم یا له ټوخي
سره لږ شانته یا لږ مقدار وینه توکولو ته وایي
Haemorrhagi (gr. ) وینه ورکول، وینه بهېدنه

Haemorrhoid (gr. Hìmorroìdes) له یونانی کلمې څخه
چې د وینې بهیر نومولئ شوئ خو هیمورولئید د ارتیریا
ریکتالیز سوپریور د څانګو پراخوالئ د غوټو په شان ته
ویل کېږي
Haemostase د وینې درول یا توقف چې
د درملو یا د جراحي عملیات په مرسته تر سره کېږي
Hallux د پښې لویه یا غټه ګوته
Hamulus (lat.) وړوکي چنګکونه لکه هامیلوس پتیروګوئیدیوز
Hamulus pterygoideus
hamus چنګک
Hekaton = 100



www.ketabton.com

Helix (gr.) قاتېدل، تاوېدل، انحنا، د غوږ د پکې انحنا بهر خواته هیلیکز وايي

hemi-:(gr., hemysis ) یوه یوناني کلمه ده چې د کلمې هغه برخه جوړوي چې نیمه، نیمای، یوه خوا یا یو طرف معنی ورکوي

Hemianopie= syn. Hemianopsie یوې خوا یا نیمايي ړندیدل، په یوه سترګه ړندیدل

Hemigastrektomie د ګستر نیمايي برخې پریکول یا ریزکشن

Hemihepatektomie د لړمانه نیمايي پرېکېدنه(ریزکشن)

Hemikranie د سر د نیمايي برخې درد، نیمسري

Migraene

Hemiparalyse نیمايي تنه یا بدن په ټولیزه یا مکمله توګه نه ښوریدل، احساس نه درلودل،نه کول،یا فلج

Hemiparese په انکامپلیټ یا نامکمله توګه د بدن د نیمايي برخې فلج

Hemiplegie کله چې د بدن یا تنې نیمايي برخې یا یوې خوا فلج په مکمله توګه وی ویل کېږي

Hepar ( gr.) لړمون، ینه، جګر

Hepar adiposum غوړین لړمون، شحمي لړمون

Hepatalgie د لړمانه درد

Hepaticus = Ductus hepaticus communis هغه څه چې لړمانه پورې اړه لري لکه د لړمانه مشترکه لاره یا کانال

Hepatikoduodenostomie د لړمانه او ډیوډینوم تر مینځ نوې اړیکې د جراحي عملیات په مرسته



www.ketabton.com

Hepatikoenterostomie د لړمانه او کولمو په تېره
د ډوکتوز هيپاتيکوز او جېجونوم تر مينځ اوپراتيفي نوي اړيکه يا
اناستوموز ، لاره
Hepatikolithotomie د هيپاتو په هغو لارو يا ځايونو کې چې
تيګې شتون لري د هغه د لرې کولو په خاطر دې جراحي
عمليات په مرسته سپړل يا پرانستل کېږي
Hepatikotomie د لړمانه پرانستل
Hepatitis, (alkoholic, toxic) د لړمانه التهاب چې
لامل يي تر ډېره حده الکول او زهري مواد وي
hepato- (gr.) يوناني کلمه ده چې ينه يا لړمون معنی ورکوي
Hepatocolicus
Ligamentum hepatocolicum
Hepatodynie د لړمانه درد
Hepatogen هر هغه څه يا ناروغی چې له لړمانه څخه
سرچينه نيسي
Hepatolienal د لړمانه او توري يا طحال نوې اړيکه
Hepatom د لړمانه هر ډول لومړني تومور ته
که هغه سليم او يا خبيث وي نومول شوئ
Hepatomegalie د لړمانه غټوالئ، لويوالئ
Hepatoptose خوځېدونکئ لړمون، د لړمانه غرقېدل
د بيلګې په توګه انتېروپتوز، پولمونال امفيزيوم
Hepatose د بېلابېلو لاملونو له کبله
د هيپاتو ناخوالې يا ژوبلېدنه
Hepatotomie د لړمانه پرانستل
hepta = 7 = د اوه عدد

herba (lat.) شنه، ګياه، نباتات
herba mala (pl. Herbae malae)



www.ketabton.com

Herniorrhaphie, Bruchoperation چوره یا اختناق ګنډل او
ترمیم د جراحي عملیات په مرسته

hetero- (gr. héteros) هیټرو له یوناني کلمې هیتروز
چې بل ډول، توپیر لرونکئ، مختلف ډول
Heterochromie بېلابېل رنګونه، مختلف رنګونه
heterogen بل ډول، مخالف ډول، مخالف جنس

Heterotop(gr. ) = Transplantation په یوه بل ځای یا بله
سیمه کې
Heterotopie /Dystopie وده یا پرمختګ په
غیر معمولي توګه یا یوې غیر اناتومیکې سیمه کې، یا
په یوې بلې سیمه کې
hex = 6 = د شپږ عدد
Hidradenitis د خولو دمینځ ته راوړلو یا افرازي
غدواتو التهاب، آبسه

hidro-(gr. hidrós) هیدرو له یوناني کلمې
هیدروز څخه چې خولې یا عرق نومېږي اخستلي شوي
hidradeno- د خولوو غده یا غدې
Hidradenom یو پاړسوب ته ورته غیر طبعي جوړښت، د خولو
سلیم ادینوم له ډېرو افرازاتو سره، غیر نورمال جوړښت چې
پاړسوب ته ورته وي
Hidrorrhoe د خولو روان بهیر، جریان عرق
hilus (lat.) هیلوس یوه لاتینه کلمه ده چې په اناتومي
کې د وینې د رګونو او اعصابو پنډغاړي یا خلیج، د یوځایکېدلو
نقطې ته وایي، په یوه اورګان کې یو وړکئ شانته ټولېدنه
د وینې د رګونو او اعصابو سیمه نومولې شوې ده لکه هیپاتو،
سپلېن، پولمونو کې



www.ketabton.com

histo- (gr. histós = Tissue) جوړښتونه، بافتونه

Histologie هغه پوهه ده چې د بدن د جوړښتونو څېړنې کوي

Histopathologi e هغه پوهه یا علم ده چې د بدن د جوړښتونو هغه بدلونونه چې د ناروغۍ له امله مینځ ته راځي څېړي

holo- (gr. hólos ) ټولې، ټولیزه، مجموعي، مکمل

holokrin هغه غده چې د ژوانکو دننه محتوي په ټولیزه یا مکمل ډول له مینځه ځي یعني ژوانکې مړې کېږي او له سیکریت یا افرازاتو څخه ډکېږي

homo (lat.) هومو په لاتینه کې نارینه ته وایي اما دلته ترې موخه انسان دئ چې له یوناني هومو څخه چې یوشان یا یو جنس معنی لري باید وپېژاندل شي یا تفریقي تشخیص وشي

Homo fortis

homo- (gr. homoios) یو شانته، یو ډول، په ټولیزه توګه یو شانتوالئ

Homogen یو شانته،یو ډول توب، که دا د رنګ، جنس، یا جوړښت له مخې وي

Homogenitaet له یوناني کلمې څخه چې یوشانته، یو جنس یا همجنسه ته وایي لکه دوه نارینه یا دوه ښځې چې په خپل مینځ کې یو ډول دي

Homolateral په هماغه خوا کې، در عین طرف

Homolog یوشانته لکه په ترانسپلنټېشن کې دا اصل په نظر کې نیول

Homonym د کلمې یو ډولوالئ یا دې یو ډول یا ورتوالئ onym نوم ورتوالي ته وایي



www.ketabton.com

homoeo-, homo- | یو ډول، ورته والئ
Homoeopathie | یو ډول ناروغي، یو بل ته ورته نا روغي

homoio- (gr. homoìos) | ورتوالئ، متشابه
homoiothermie | کله چې د بدن حرارت یا تبه یوشانته یا په یوه اندازه پاتې وي
horizontalis | د ترازو په ډول یا د ترازو په استقامت
Hormon : هورمون هغه کیمیاوي جوړ شوي مواد په بدن کې دي چې د ډېرو مهمو مخکنیو بدلونونو څخه ورسته د وینې له لارې لېږدول کېږي او د موادو په بدلون یا میتابولیزم کې ستر رول لوبوي
adrenocoticotropen = Adreno Cottiko Tropen Hormon (ACTH)
gonadotropes | ګونادوټروپیز هغه پروسه ده چې کله چې یو هورمون د هورموني غدو دندې راپاروي یا تحریک کوي
thyreotropes | د هیپوفېز یو هورمون ده چې د ټایروئید غده یا د جاغور غده راپاروي یا سټیمولېرټ، تحریک کوي

human (lat. humanus) | انساني
Humaninsulin | انساني انسولین
Humanmedicin | انساني طب
humerus | د لاس د پورتني برخې هډوکئ، هغه هډوکئ چې دولي او لیچې تر منځ پروت دئ
Caput humeri | د هومیروس کوپړي یا سر
Humerufraktur | د هومیروس د هډوکي ماتیدل

hydro-(gr. Hýdor = lat. equa) | اوبه
Hydrocephalus | له اوبو ډکه ککره، د دماغ د اوبو زیاتېدل له نورمال حالت څخه



www.ketabton.com

Hydronephrose د اوبو ټولېدنه د بډوډو په
خالي جوف یا سیستم کې
Hydroperikard د اوبو ټولېدنه د زړه په خلطه
یا پوښ کې چې پېریکارد نومېږي
Hydrophil اوبو سره مینه درلودل، د اوبو اخیستلو لپاره تمایل
Hydrophob له اوبو څخه لرې کېدل، د ابو په
مقابل دفاعي حالت مینځ ته راوړل
Hydrophobie ناروغي ډوله ډاریدل له اوبو څخه یا هغه
ناروغي ده چې له اوبو څخه وېره یا ډار لري
Hydrosalpinx د مایعاتو ټولېدنه په سلپینکس
یا دې هګۍ د لېږدونې نلکې یا لاره
Hydroureter په حالب کې د اوبو ټولېدلنه
د حالب احتباس د ځینو عواملو له کبله لکه تیګې یا نور هغه
عوامل چې د دغه لارې د بندېدو لامل ګرځي

Hymen د پېغلتوب پرده، د بکارت پرده په نجونو کې

hyo- , Os hyoidium دا د کلمې هغه لومړی برخه ده
چې دې هیوئیدیوم د هډوکي لنډېز ښي
Hyoglossus په اناتومي کې د هیوئیدیوم د هډوکي څخه
تر ژبې پورې کش شوي جوړښت لکه لاندې عضله
Musculus hyoglossus
Hyoideus په اناتومي کې هر هغه څه چې
د ژبې بیخ یا د هیوئیدیوم هډوکي پورې اړه لري
Hypakusis (gr. Akoseis) په اورېدلو کې ستونځې، د اورېدلو
د حس د قوې لږوالئ
Hypalgie د درد په حساسوالي، احساس
کې لږوالئ، کموالئ



www.ketabton.com

Hypalgesie = Hypopathie د خوږو یادرد د احساس لږوالئ
hyper (gr. hypér ) له حده ډیر، زښت زیات، ډیر زیات
Hyperaemie سوروالئ، له حده زیات له وینې ډکېدل، دوینې زیاتوالئ په یوه اورګان کې
Hyperaesthesie ډیر حساسوالئ د درد ، تودوالئ او په لږ تماس سره سخت حساسوالئ ښـي
Hyperalgesie د درد په احساس کې ډېروالئ یعنی د درد تحمل ورته ډېر ګران وي
Hyperemesis له حده زیاتې کانګې، استفراغات
Hypergalaktie له حده زیاته د شیدو جوړیدنه، تولید
Hyperglykaemie د خوږې یا شکرې لوړوالئ یا زیاتوالئ په وینه کې
Hyperkinese له حده زیات خوځښتونه، حرکتونه نارامه خوځښتونه
Hyperlipidaemi په وینه کې په ډېر کچه د غوړو یاشحم شتوالئ
Hypermenorrhoe له حده زیاته د میاشتنئ وینې بهېدنه په ښځینه جنس کې
Hypermnesi(gr.) د حافظې ډېروالئ، د ډېرې اوچتې حافظې درلودل
Hyperodontie له نورمال حده دشمیر له مخې د ډېرو غاښو درلودل
Hyperopie= syn. Hypermetropie پراخه لیدل، وسیع لیدنه
Hyperparathyreoidismus د جاغور د خنګ غدو دې دندې ډېروالئ چې په پای کې د پاراټ هورمون ډېر جوړېږي یادغه غدواتو کې د دندې زیاتوالئ
Hyperplasie(gr. plássein شکل، جوړښت) = syn.



www.ketabton.com

Hypertrophie د یوه اورګان د جوړښتونو غټوالئ د ژوانکو
د شمېر په حساب بې له دې چې د ژوانکو په حجم کې
بدلون راشي
Hypersomnie(lat. Somnus) د خوب یوه ستونځه ده چې
د ورځې له خوا ډېر خوب ته تمایل شتون ولري، ډېر خوب
ته د ضرورت شتوالئ
Hyperspermie د شمېر له مخې د سپرمو ډېروالئ
چې اوس دا کلمه ډېره نه پکارول کېږي
Hypersplenismus توري یا طحال له حده زیات فعالیت او
عمل چې د سپلین د غټوالئ، د وینې دژوانکو
لږوالئ او د هډوکو د کار او دندې ډېروالئ چې په پای کې
انیمي یا د وینې لږوالي او ډېرې نورې ستونځې مینځ ته
راتلونکې وي
Hypertonie = syn. Hypertonus , Hypertension له نورمال
حده دوینې د فشار لوړوالي ته وایي
Hyperthyreose د جاغور یو ډول ناروغي ده چې
دې هغه له امله د جاغور د غدې یا تېروئید د غدې
هورمونونه ډیر زیات جوړېږي یا تولید کېږي
Hypertonus له حده زیات تقلص یا د یوه اورګان
د عضلاتو سره نزدې کېدل
Hypertrichose له طبعي ډول څخه پرته په بدن
کې د وېښتوو ډیربښت یا ډیر شتوالئ
Hypertrophie یوه اورګان د جوړښتونو غټوالئ د
ژوانکو د حجم دې غټوالي په اساس بې له دې چې
د ژوانکو په شمیر کې بدلون راشي د ډېرو خوړو خوړل

hypo- unter(Norm) له نورمال حالت څخه لاندې، ټیټ
Hypodermis = Tela subcutanea لغوي معنی یي تر
پوستکي لاندې ده



www.ketabton.com

Hypodentie د غاښونو د شمير لږوالئ نسبت نورمال حالت

Hypogalaktie په پوره يا کافي ډول د شيدو نه جوړيدنه يا نه افراز کيدل

Hypoglykaemie د خوړې يا شکرې د اندازې يا مقدار ټيټوالئ يا لږوالئ په وينه کې

Hypohidrose د خولوو يا عرق په جوړېدلو يا افراز کې لږوالئ

Hypokalcemie نسبت نورمال حالت څخه په وينه کې د کلسيوم د مقدار لږوالئ

Hypokinese په خوځښت کې ستونځې لږ حرکتونه

Hypolipidaemie په وينه کې د غوړيو يا شحم د شتوالئ د اندازې لږوالئ

Hypomenorrhoe د مينستروشن د وخت د وينهې بهيدنې يا خونريزۍ لږوالئ يا ستونځې

Hypomnesie د حافظې لږوالئ يعني د حافظې ستونځې او د ډيرو لږو شيانو يا خاطراتو په ياد راوړل يا ساتل

Hypoparathyreoidismus د پاراتيروئيد دې غدې د دندې يا وظيفې د کچې لږوالئ

Hypophyse (gr.) =syn. Glandula pituitri دماغ پورې څوړنده غده نومولە شوې

Hypoplasie د يوه اورګان په پوره توګه نه وده يا نمو کول يا کوچنئ پاتې کيدل د ژوانکو د شمير د لږوالئ په اساس پدې معنى چې ژوانکې د شمير له مخې لږ وي

Hyposomnie د خوب لږوالئ، کم خوابې

Hypospermie د سپرمو د شمير لږوالئ

Hypothyreose د تيروئيد د غدې دې دندې لږوالئ



www.ketabton.com

Hypotonie Hypotonus د وینې دې فشار ټیټ والئ
په نورمال حالت کې لږوالئ یا بدلون
Hypotrichose د طبعي حالت په خلاف په
بدن کې د ویښتوو لږوالئ
Hypotrophie د ژوانکو وړکتوب د حجم یا پنوالی
غټوالي له مخې لکه سوتغذي، د خوړو لږ خوړل

hystero- (gr. hystèra, hystèr) = syn. Uterus, metrium رحم،
کوم ځای کې چې د ماشوم بنسټ په کې اینښودل کېږي او
هلته په کې د زېږون تر وخته پوري وده او ژوند کوي
Hysterektomie د رحم پریکول او د ښځې له بدن
څخه لرې کول چې په لاندې دوه ډوله دي
a: abdominale د ابدومن له لارې
b: vagenale د واګینا یا مهبل له لارې
Hysteri( gr. Hysterikòs, hyster ) Hysterektomie
هیستیري یا هیستیر د رحم لپاره پکارول کېږي او هغه څه
چې رحم پورې اړه لکه هیستیریکتومیي
Hysterie همدارنګه هیستیري یوه رواني ستونځه
هم نومول شوي
Hysterocele هغه هیرنیا چې رحم یې هم محتوي وي
Hysteropexie په اوپراتیفه توګه د رحم
یا یوټیروس ټینګول، تثبیتول د شاوخوا جدارو پورې
Hysteroptose د یوټیروس یا رحم مخ کښته ځوړندیدل
ښکته کیدل

## I

i.-m. = intramusculaer په عضلې کې یا د عضلې
له لارې لکه د درملو ستنې وهلو،د عوامو په ژبه د غوښې
پیچکاري



www.ketabton.com

i.-v. = intravenoes د ناپاکه وينې لرونكي رګونو
يا تور رګ له لارې د مايعاتو او
درملو تيرول يا زرق کول د بدن دننه برخې ته
-ia (gr. /lat.) دا يو د کلمې د پاي ټکئ يا پساوند
تورئ دئ چې د حالت د دندې ځرګندوالې ښيي
-iasis د ناروغي د حالت څرګندونکئ يا د ناروغي حالت
Ankylostomiasis د چنګک ډوله چينجي ناروغي
ده چې د پارازيت نيماتود هم نومولئ شوئ چې په وړوکولمو
کې ځاي لري او ميزبان يې سپئ ، پيشکه او انسان کې وي
Lithiasis د تيږو د شتون له کبله په يوه اورګان
کې د ناروغئ پيدا کيدل

-iatrie , medicina طبابت، ناروغی پېژاندنه، څېړنه او درملنه
Psychiatrie د رواني ناروغيو څېړنه، روان پېژاندنه
روانشناسي
Pädiatrie د ماشومانو طب، هر هغه ناروغی چې
د ماشومانو پورې اړه لري څېړي
-iater (gr. iatrós) طبيب، درمان کوونکئ
iatrogen هغه څه چې د يوه طبيب په
لاس د درملنې په وخت او يا وروسته له هغه پيښ شوي
يا مينځ ته راغلې وي

-id <u>or</u> -oid (gr. eidés) يو ډوله، متشابه، شباهت درلودل
ورتوالئ لکه د دغه لاندې بېلګې
Karcinoid سرطان ته ورتوالئ يا متشابه
Adenoid غدواتو ته ورتوالئ يا متشابه
Lymphoid لمفوو ته ورتوالئ
idio- (gr. ídios) هر هغه څه چې شخص پورې اړه لري
شخصي، خپل سر



www.ketabton.com

idiopathic هغه ناروغئ چې دې نه پېژاندل
شویو لاملونو له کبله مینځ ته راغلي

-ie, gr./lat. -ia د یوې کلمې وروستۍ یا د پای برخه
ده چې کلمې ته د بنسټیز یا اصلي شکل او معنی ورکوي
Hepatopathie د لېرمانه او د صفراوي لارې یا قنات
یا ډوکټوس خولیډېکوس ټولې ناروغۍ
ictero-,Icterus (gr. Íkteros ) د بدن د پوستکي دې
رنګ زېړوالئ له روښانه تر تیاره رنګه چې د بیلوروبین او
صفراوي تیزاب د شتون له امله مینځ ته راځي، زیړ رنګ
Icterus cholestatic د خولیستاتیک موادو (صفراوي موادو)
د بندېدلو،درېدلو،دمه کیدلو له کبله مینځ ته راغلئ زېړئ
Icterus haemolytic د وینې د کروياتو د ټوټه کیدلو
تخریب کیدلو یا لیز کیدلو له امله مینځ ته راغلئ زېړئ
Ileitis په لغوي ډول د کږې یا منحني کولمې
یا الیوم التهاب ته ویل شوي
Ileitis terminalis د الیوم یا د کږې یا منحني
کولمې یا د وړوکولمو د پای یا اخرینۍ برخې یا هغه برخه
چې له کېکوم یا چېکوم سره نښلي التهاب یا زخم
ileo- (lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې د وړو کولمو هغه برخه
جوړوي چې د کږې کولمې په نامه نومول شوی ده
ileocaecal هر هغه څه چې الیوم ټیرمینال او
څیکوم ورسره مخامخ وي
Ileocaecaltuberculose د الیوڅیکال د سیمې توبرکلوز
Ileocaecalvolvulus د الیوم او کېکوم یا
څېکوم تر مینځ پردې یا والوونه
Ileocolostomie د الیوم او کولون تر مینځ یوه نوې لاره چې د
جراحي عملیات په مرسته تر سره کېږی



www.ketabton.com

Ileojejunostomie د اليوم او جيجونوم نوې اړيکې
يا اناستوموز د جراحي عمليات په مرسته
Ileum (gr.) اليوم د نريو کولمو يا وړو کولمو د پای
يا اخريني برخې ته وايی چې په څکوم کې ننوځي
Ileus (gr. ) د بيلابيلو يا مختلفو لاملونو له کبله د کولمو
په بهير کې ستونځې،د کولمو فلج او يا د کولمو بنديدل
ilia, ilium(pl.) دوه لارې ستنې ،د اوسپنې پټلئ
پوستوالئ، نرمي

Iliococcygeus

Musculus iliococcygeus

iliofemoralis

Ligamentum iliofemoralis

Iliosakral

impressio اثر، تاثير، عميق، ټيټيدل
imus, infimus (Superlativ infra) اموز او انفيموز د انفرا
عاليترين حالت دئ چې لاندې، ټيټې، در پائين معنی لري

in-, in دننه، دننه خوا، په دننه کې
Inspiration هوا اخستل، داکسيجن تنفس کول

ex- دباندې، بهر
Expiration د هوا ويستل بيرته له سږو، يعني
د کاربونداى اکسايد لرونکې هوا ويستل
incisivus هدف ترې پريکوونکي غاښونه دي
پريکوونکئ
Incisura په جراحي عمليات کې د سکاپيل
يا چړې په مرسته د ابدومن يا کومې بلې برخې د پوستکي
يا اورګان شق کولو ته وايي، يو شق



www.ketabton.com

inclinatio (lat.) میلان، تمایل
Inclinatio pelvis د حوصلې یا پیلویز میلان یوې خواته
Incubation time (lat. incubare ) = hncobation period
incurabel (lat. incuratus) نه رغیدنه، نه جوړیدنه هدف
ترې هغه ناروغي ده چې درملنه يي ناشونې وي
curabel رغونه، جوړيدنه يعني هغه ناروغي چې
د درملني وړ وي
Incus (lat.) = Amboss د غوږ د منځنۍ
برخې هډوکي یا غضروف
Index د ښونې ګوته، داشارې ګوته، دشهادت ګوته
Infans (lat.) ماشوم، نه غړیدونکئ
infantil (lat. infans) په لاتینه ژبه انفانس نه غړیدونکي
ته وایي چې هدف ترې هغه وړوکئ ماشوم دئ چې نه شي
غړیدلئ يعني وړوکئ ماشوم
Infantilismus هغه ناروغي ده چې انسان
په طبعي توګه وده نه کوي او لکه
ماشوم پاتې کیږي

infarct (lat. Infarcire ) په دننه کې دریدل،سکوت
د یوه اورګان مړینه یا نکروز، د یوه اورګان د یوې برخې
او جوړښت یا تیشیو د ازښیمي (ازکیمي) چې سیمې ته
د آکسیجن پوره نه رسیدلو له امله را مینځ ته کیږي
او همدارنګه په حاده توګه د ارتیریا د بندېدلو له کبله رامینځ ته
شوئ انفارکت او داسې نورو پېښو ته انفارکت ویل شوي
یا په لنډ عبارت د اورګان جوړښتونو یا تشیو مړینه چې په
دفعتاً توګه د وینې د جریان د دریدلو له کبله مینځ ته راځي

inferior ټیټ، لاندې



www.ketabton.com

infimus (دئ چې ټيټ، لاندې معنى ورکوي superlativ =
سوپراتيف infra, inferior د)

influenza = Virusgrippe ويروس له کبله پيښه
شوې ناروغي يا والګئ

infra لاندې، تر يو شي لاندې، ترې ټيټ

Infrakardial د زړه لاندې

Infraklaviculaer هر هغه شيان چې
د کلاويکولا يا ترقوې لاندې شتون ولري

Infraorbital د اوربيت يا د سترګو د جوف لاندې

Infrasternal د سترنوم د هډوکې لاندې

infusion (lat. infundere) د بدن دننه خوا ته اوبه يا مايعات
ورکول، په ډيره کچه يا اندازه د مايعاتو زرق کول د وريد
له لارې د بدن دوراني سيستم

inguen,inguinis(lat.)=eng. Groin د اينګوينال شاوخوا سيمه

inguino- (lat. inguen) د عوامو په ژبه قدکشک
يا د انګوينال سيمه

inguinal, adjectiv دا صفت کلمه ده چې هرهغه
څه چط اينګوينا پورې اړه لري يا ورسره مخامخ وي ويل کېږي

Inguinalhernie د اينګوينال دسېمې چوره يا اختناق

inhomogen هغه څه چې يو ډول، يو جنس، يوه اندازه
نه وي يا نه وي جوړ شوي

Injection (lat. Inicere ) ستنې وهل ، پيچکاري، زرق کول

Inspiration هوا اخستل،د اکسيجن تنفس کول

Insufficience د بدن د يوه غړي يا اورګان
د دندې کمزوري يا ضعيفي، هغه اورګان چې نشي
کولاي خپله دنده په ښه توګه تر سره کړي

Insula يوه ټاپو، جزيره



www.ketabton.com

Insulae pancreaticae (pl.) = syn. Langerhans Insula

د لنګرهانس ټاپو یا جزیره

Insulin د پانکریاس د لنګرهانس په ټاپو کې د بیټا ژوانکو څخه جوړې شوې یا جوړېدونکې پروتیو هورمون دئ چې (له 6000شپږزرو لوړ ام جي) د وینې د خوړې یا شکرې ټیټوونکئ او د وینې د خوړې کچه په نورمال حالت ساتلو دنده لري

Inter- (lat., inter) یوه لاتینه کلمه ده چې تر مینځ یا د دوو شیانو، دوو اورګانو په مینځ کې معنورکوي

Interatrial د دواړو اتریومو یا د زړه د پورتنۍ برخې د جوفونو تر مینځ

Intercellulaer د ژوانکو تر مینځ

Interdigital د لاس د ګوتو او یا پوښې د ګوتو تر مینځ

Intercostal د پوښتیو تر مینځ

Intercostalarterie د پوښتیو تر مینځ د پاکې وینې پراته رګونه

Intercostalmuscls د پوښتیو تر مینځ پرتې عضلي

Intercostalvenae د پوښتیو تر مینځ پراته د ناپاکې وینې رګونه یا وریدونه

Interior (gr. innerer) له یوناني کلمې څخه اخستلې شوې چې دننه یا داخل نومېږي

Interlobaer د دو ټوټو یا دو پارچو تر مینځه

Intermammaer د دو تیو یا ثدیو تر مینځه

Intermenstruell په ښځینه جنس کې د دو میاشتنۍ خونرېزۍ تر مینځواټن یا فاصله

Internus دننه قرار درلودل

Interossaer د دو هډوکو تر مینځ

Interphalangeal د لاسونو د ګوتو یا د پښو د ګوتو تر مینځه شتوالئ



www.ketabton.com

| | |
|---|---|
| Interspinal | د ملا د مریو یا فقراتو تر مینځ پرتې پروسیسوزوس سپینوزیا |
| Interventrikulaer | د زړه د لاندنیو خونو یا بطیناتو تر مینځ |
| Itervertebral | د ملا د دو مریو یا فقراتو تر مینځ |
| Intestinum(lat.) | له لاتینې کلمې څخه چې کولمې نومولې شوې دي او په لاندې ډول دي |
| Intestinum crassum | لوې یا غټې کولمې |
| Intestinum tenue | وړې یا نرۍ کولمې |
| Intima (lat. Intimus) | انټیما له لاتینې کلمې انټیموس څخه اخستلې شوې ده چې په طبابت کې موخه ترې د وینې او لمفاوي رګونو د دیوال یا جدار دیننه برخې یا طبقې ته ویل کېږي |
| Tunica intima, Tunica interna | دننه خوا، داخلي |
| Intoxiction | مسموم کیدل، زهری کېدل |
| intra- (lat.) | په دننه کې،په یوه محدوده کې |
| Intraabdominal | دې ګېډې یا ابدومن په دننه کې |
| Intraarterial | د پاکې وینې د رګونو په دننه کې |
| Intraarticulaer | د بندونو په دننه کې |
| Intraatrial | د زړه د پورتنیو خونو یا کوټو، اذیناتو په مینځ یا دننه کې |
| Intracellulaer | د ژوانکو په مینځ کې |
| Intracutan | د بدن د پوستکي په مینځ کې |
| Intragastral | د ګستر په مینځ کې |
| Intrahepatic | د لېرمانه په مینځ کې |
| Intrakardial | د زړه په مینځ کې |
| Intrakranial | د کوپړۍ یا جمجمعې په مینځ کې |
| Intralaryngeal | د هوا اخستلو په تولي کې |



www.ketabton.com

Ion (gr.)
negative Ion = Anion منفي آيونونه
positive Ion = Kation مثبت آيونونه

irido- (gr. Iris) رنګين کمان، د سترګې عنبيه
iris
Iritis د ايريس التهاب

isch- = Ischio- (gr. íschein ) د يونانى کلمې څخه
چې مخنيوئ، وروسته پاتېوالئ معنى ورکوي اخستلې شوې
او دلته دکلمې هغه برخ ده چې د خاصرې د لګن بند يا
مفصل،د خاصرې لګن نومولئ شوئ
Ischaemie د وينې د آکسيجن لږوالئ، سيمه يا اورګان
د وينې او د آکسيجن له لږوالي سره مخامخ کيدل
Ischurie (gr.) = Incontinentia urinae د ميتازو يا ادرار
هغه تګلاره، رفتار، سلوک دئ چې په نورمال ډول په مثانه
کې نه تم کېږي بلکه په خپل سر يا غير ارادي روانې وي
iso- (gr. ísos) مساوي، په يوه اندازه لويوالئ، غټوالئ
Isochrom يو رنګوالئ، ټوله سيمه په يوه متجانس رنګ
Isochron په يوه وخت، همزمان
Isokorie (gr. Kòrn) Pupille په يوه اندازه
دې دواړو سترګو د حدقو يا ليمو پراخوالئ
Isomorph (morpho-, Form) په يوه شکل، يوه ډول

isthmus (gr. Isthmòs) تنګه د تېريدلو لاره، نري اړيکه،
تنګه سيمه
Isthmus glandulae thyroideae د جاغور د غدې
د دواړو ټوټو يا دواړو برخو د نښلولو پل،سيمه يا ټوټه



www.ketabton.com

-itis ایټیز د ګلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
په طبابت کې تر ډېره حده یوه التهاب ته وایي

Pleuritis د پلورا التهاب

Koxitis د حرقفې د بندونو التهاب

ITN = Intubationsnarkose

## J

jejuno- (lat. Ieinus) له لاتینې کلمې څخه اخستلې شوې
تشه ، خالي ده او دلته موخه ترې د کولمو پورتنۍ
برخه کومه چې د ډیوډینوم له پای څخه پیل کېږي

Jejunalatresie (congenital) د زېږون له وخته د کولمو
د جیجونیوم چې وروسته له ډیوډینوم څخه پیل کېږي د چې
د تشو یا خالي کولمو په نامه یادېږي دغه سیمه یایې حلقې
بندې یا تړلې شوي وي

Jejunojejunostomie د جراحي عملیات په مرسته
د دو تشو کولمو تر مینځ نوي اړیکې جوړول

Jejunum تشې یا خالي کولمې، د نریوکولمو
لومړنۍ یا پورتنۍ هغه برخه ده چې له ډیوډینوم سره نښتې

Junctura (lat.) اړیکې پیداکول، د دوو اورګانو ترمینځه
اړیکې پیدا کول

## K

Kanal (gr. kánna) نل، نلکې

Kancero- (gr. Karkìnos) چنګاښ، سرطان

Kancerogen = Karcinogen هغه لاملونه چې
د کارسینوم یا سرطان په مینځ ته راوړلو کې اهم رول لري

Karbunkel(lat. carbunculus) کاربونکیل د ډېرو وېښتو
د فولیکل یا پیاز تر خنګ یه ډېر ټیټ یا عمیق او په واقعیت
کې ډېر دردلرونکئ انفیکسیون یا د ډېرو ګاونډیو یا پنډ شویو
فرونکولوز له یو کاربونکیل مینځ ته راځي نومول شوئ دئ
Karcio- (gr. karkínos) هدف تري د سرطان ناروغي
ده، چنګاښ، سرطان
Karciniod د سرطاني ناروغي ته ورته
نښې، چنګاښ ته ورتوالئ
Karcinoidos د نایرواندوکرین تومور،د سرطاني
ناروغئ ته ورته حالت یوه ناروغ سره
Karcinom(Ca.) کارسینوم یوه بده یا خبیثه
سرطاني ناروغي ده

Kardio-, Cardio-, Kardia زړه، قلب
Kardiochirurgie د زړه جراحي
Kardiologie هغه علم دئ چې د زړه د جوړښت او
هغه د ناروغیې څېړي یا ورڅخه بحث کوي
Kardiomegalie د زړه لویوالئ یا د حجم له مخې
غټوالئ، غټ زړه
Kardiomyopathie د زړه د عضلې ناروغۍ
Kardiopathie دا هغه پوهه ده چې د زړه ناروغیو څېړي
Kardioptose د زړه ټیټوالئ یا ټیټ قرار درلودل
له اناتومیک یا نورمال حالت څخه، د زړه ډېر ټیټ موقعیت
Kardiopulmonal هر هغه څه چې زړه او سږو پورې
اړه ولري یا قلب او شش
Kardiospasmus د معدې د لومړني برخې یا هغه
خوله یې چې له اوزوفګوز یا مري سره اړیکې لري تشنج
یا کرمپ ته وایي



www.ketabton.com

Kardiotoxic د زړه هغه ناروغي چې د هغه
الکتروفيزيکي دنده ښه نه تر سره کېږي يعنې د زړه عضله
په سمه توګه پمپ نشي کولاځ، د زړه ژوبلېدنه يا ځورېدنه
Karditis د زړه د جوړښتونو التهاب چې
د اندوکارديتيز، ميوکارديتيز، پېريکارديتيز او پانکارديتيز
ډولونو باندې ليدل کېږي
Karotisstenose د ورميږه د ارتيريا يا کاروتس تنګيدل
چې تر ډيره حده يي لامل منګ يا سکلروز وي
karpo- د لاس بنسټيز هډوکي، اصطلاحي معنى يې
د لاس رېښې
karyo- هسته، د ژوانکې منځنى برخه يا هسته
Karyogramm د کروموزوم د حالت څرنګوالئ لکه غټوالئ
شکل يا فورم او همدارنګه شمير يې

Kasuistik (lat. casus) پېښه ، موضوع، کيس
Kata- (gr. Katà) ښکته، مخ ښکته، مخ په ځوړي
Katarakt د سترګې يا سترګو په عدسيه کې
د هيرو ډوله ستورو مينځ ته راتګ او د هغې پوښل
Katarrh(gr. ) مخ ښکته خوا بهيدل چې په اصل کې
د يوه التهاب له امله لکه له پزې څخه په والګي يا ريزش
او ذکام کې پيدا کېږي
Kaudal اندنى ، ټيټه برخه، د پښو خواته، لکۍ خواته چې
د کرنيال يا پورتني،سر خوا، په مقابل جهت کې شتون ولري
Kranial د سر خواته، پورتنى برخه

kephalo-, cephalo- (gr. kephalé) کوپړۍ، سر، تندئ
Kephalalgie, Kephalodynie = Cephalalgie, Cephalodynie
د سر درد، سردردي



www.ketabton.com

ephalhaematom — د زېږون په وخت کې کېدای
شي چې د نوي زېږول شوی ماشوم په سر کې ټپنګه
شوي وينه يا غوټه شوي وينه يا لخته شوې وينه ياکواګول
مينځ ته راشي

Kephalometrie — د سر يا کوپړي اندازه کول

Keratektasie

kerato-(gr.)

Keratitis — د سترګې د قرنې التهاب ته وايي

Keratocojunctivitis

Keratomalasie — د قرنې پوستوالئ، نرموالئ

Keratoplastie — د سترګې د قرنې بيا رغونه
د جراحي عمليات په مرسته

Keratose

Keratotomie — د سترګې د قرنې پرانستل يا بېلول

Kines, Kinet — خوځښتونه، ګرځيدل، حرکتونه

kin-; -kinesie (gr. Kineìn) — د يونانی کلمې هغه برخه ده
چې خوځښتونه، حرکتونه نومول شوي

Akinesie, Akinese — نه خوځښت،د خوځښتونو نشتوالئ

Bradykinesie — په حرکتونو کې لږوالئ
د خوځښتونو لږوالئ

Eukinesie — نورمال خوځښتونه، حرکتونه

Hyperkinese — له حده زيات خوځښتونه،هغه
حرکتونه چې نه کنترول کېږي

Hypokinese — په حرکتونو يا خوځښتونو کې لږوالئ
غربت، بيچارګي

Kinetose — د سفر ناروغي،د خوځښتونو يا حرکتونو ناروغي
ته وايي



www.ketabton.com

kinosio- (gr.) د یوناني کلمې هغه مخکنۍ برخه ده
چې خوځښت، حرکت نومول شوئ دئ

Kinesiotherapie د خوځښتونو یا حرکتونو
د ناخوالو یا ستونځو درملنه

Kinesis خوځښتونه، حرکتونه

klasto- (gr. klán) تخریب کول، ورانول، ټوټه کول

klastro- ترل کیدل، بندول

Klastrophilie (lat. Claustrum) له یوې لاتینې کلمې
څخه اخستلې شوې ده چې ترل، قفس ته وایي خو
کلاستروفیلي په اصل کې هغه یوه ناروغي بلله شوې ده
چې ناروغ ځان په کور کې بندي کړئ وي او له کور څخه
نه وځي په دې دلیل چې هغه تعقیب کېږي او یا اګورافوبي

Klaustrophobie هغه ناروغي ده چې له یوې
راټولې شوې کوټې یا سیمې څخه ډار یا ویره لري په تېره له
هغې سیمې څخه چې وتل ناشونې وي (لکه لېږدونکې لاره
یا لفت) همدارنګه د ډېرو انسانانو شتون لکه سینما
سوپرمارکیټونه

clavicula (lat.) ترقوه، د ترقوې هډوکئ، د توقک هډوکئ

Klaviculafractur د ترقوې ماتېدل

kleido- (gr. = lat. clavicula) یوه یوناني کلمه ده چې په
لاتینه کې کلاویکولا نوموله شوې ده،د ترقوې هډوکئ

Kleptomanie (gr. Klèptein) د اېښودلو روږدي، هغه ناروغي
ده چې غیر ضروري شیانو ایښودلو کې ډېروالې یا افراط کوي



www.ketabton.com

Klimakterium (gr. klimaktér) په ښځینه جنس کې
د کلنو د بدلېدلو وخت،په بله اصطلاح هغه کلونو ته ویل کېږي
چې له یوه پړاو څخه بل پړاو ته اوښتل نومېږي او هغه دا چې
د یوې غیر منظمې خونرېزۍ پیل په دې کلنو کې وي چې
ورته د پاست مینوپوز یا د میاشتنۍ خونرېزۍ تر مکملې پاي
ته رسیدلو نیټه هم ویل کېږي

Klinik (gr. klíne) = له یونانی کلمې کلین څخه
چې بستر معنی لري اخستلې شوې
ده چې موخه ترې روغتون دئ، خو په اصل کې د طب
د پوهنتون روغتون چې د پوهنتون په احاطه یا تر څنګه
شتون ولري او محصلین هلته خپلې عملي زده کړې کوي

Klonus (gr. Klònos) = rrythmic Contraction له یونانی
کلمې کلونوز څخه چې قوي او شدید خوځښتونه معنی
لري اخستلې شوېده، د عضلاتو نزدې کیدل د هغوی
د سستۍ په ځواب کې،بې خبره او په شدت سره ویشتل
کلک او تند ټکان، په بېړه سره تکراري خوځښتونه، تقلص
Blepharoklonus د سترکو د پلکو شدید
یا سریع تقلصات

kneme- (gr. = lat. Tibia) کنیم یا کنیمه یونانی کلمه ده
چې په لاتینه ټیبیا نومول شوي چې د لینګي د لاندنۍ
برخې یعني له زنګانه لاندې سیمې غټ هډوکئ دئ

Kohabitation (lat. Cohabitare) = syn. Koitus یوځایوالئ
یوځای اوسېدل، په یوه کور کې اوسېدل
Koitus (lat. coire) د جنسي مناسباتو لپاره د دوه
مخالفو جنسونو(نارینه او ښځینه) یوځاي کیدل یا نزدې کیدل



www.ketabton.com

Kokko- (gr. Kòkkkos) له یونانی کلمې کوکوز څخه
چې هسته، تخم، مغز معنی ورکوي اخستلاې شوې هدف
ترې ګرده یا کلوله ډوله یا د غونډاري په شان باکتري
Kolik (gr. Koliké , kolikòs) د کولمو ځوریدل، ژوبلېدل
کولیک په طبابت کې سخت، شدید تشنجي کرمپ لرونکي
دردونو ته ویل کېږي، چې دا یوازې په کولمو پورې اړه نلري
بلکه د بدن په نورو غړو کې هم شونې وي
Koliknephral د بډودو قلنج، د بډوډو د شخئ
په شان یا کرمپ ډوله نه تحمل کوونکي دردونه

kolpo- (gr. Kólpos = lat. Vagina) په ښځوو کې
د جنسي یوځایوالي غړئ یا اورګان
Kolpitis = Vaginitis د کولپو یا واګینا التهاب
Kolpoplastic د واګینا بیا رغونه د جراحي عملیات
په مرسته
Kolporrhaphie = د کولپو یا واګینا، واجینا vagina ګنډل، ترمیم
ګنډل

-rhaphie (gr. Rhaphé) ترمیم ،ګنډل، دوخت، دوختن
Kolporrhexi وګینا (Vagina) کې درز یا څیریدل
-rhexie (gr. Rhéxis = -rhagie) شق، څیریدل، درز
Kolposcopie د کولوسکوپ په مرسته د کولپو
یا وګینا، وجینا لیدنه
Kolpotomie د کولپو یا وګینا ددیوال کې
یا ددیوال له لارې درز یا شق کول

Koma – Komata (gr. Kóma) ټیټ یا عمیق خوب



www.ketabton.com

Komedo د وازدې یا غوړو دانه، د وېښتو هغه پراخه شوئ فولیکول چې له کېراتین او له وازدې یا حیواني غوړ څخه ډک شوئ وي

Komplikation (lat. Complicare، complicatus) یوه لاتینه کلمه ده چې د اخته کېدلو یا ګرفتار کېدلو، مصاب کېدلو معنی ورکوي او په طبابت کې د یوې ناروغۍ حالت څرګندوي چې یا د طبیب او یا په طبیعی توګه (لکه د زېږون له وخته) له ناخوالو یا ستونځو سره مخامخ کېدلو ته وایي، د ناروغۍ اختلاطات

Konglomeration(lat. Conglomerare) =Agglomeration یوه لاتینه کلمه ده چې معنی یې کلوله کول، یوځای کول او ټینګول دي
Konjunktivo- (conjunctivo-) = lat. Conjungere یو ځای سره نښلول، اړیکې ورکول
Konjunktivitis

Konkrement (lat. Concrementum) له لاتینې کلمې څخه اخستلې شوې چې یوځایوالئ ، آمیزش، امتزاج ، تراکم نومېږي، خو په طبابت کې هدف ترې منګ او تیګې ده لکه د مثانې تیګې، د بډوډو تیګې، د کوټ یا غایطه موادو تیګې او داسې نورې

Konservativ (lat. Conservare) لاسته راوړنه، ساتنه محافظه کاري
Konservative Therapi ساتونکې یا محافظه کاره درملنه یا د درملو په مرسته درملنه چې د اوپیراتیفي یا جراحي عملیات برخلاف



www.ketabton.com

Operative Therapie هغه درملنه چې د جراحي عمليات
په مرسته ترسره کېږي يا ناروغ روغ کېږي
Konserviere (lat. Servare) د ساتنې ور جوړونه يا رغونه
ساتنه
Konstitutiontyp په اصل کې د انسان د بدن
د جوړښتونو ښودنه کوي خو په طب کې موخه ترې د يوه
انسان د بدن جوړښت او د هغه د دندو د تر سره کولو توانايي
او رواني حالتونو اړيکې ښودنې ته وايي

Kontrahere (lat. Contrahere, Contractus) په خپل مينځ
کې سره نښتل، يوځای کېدل، نزدې کيدل، تقلص
Kontraktil د تقلصاتو استعداد درلودل، هغه توانايي
يا قدرت چې ځان ټول کړي لکه د عضلې تقلص
Kontraktion (lat. Contrahere) کانترکشن له لاتينې
کلمې کانتراهير څخه چې خپل مينځ کې سره نزدې کيدلو
معنی ورکوي په تيره بيا د يوه خالي يا جوف لرونکي اورگان د
يوې عضلې او يا د عضلې د ديوال تقلص ته ويل شوي
Kontratur په پرلپسې توگه يا دوامداره توگه د يوه اورگان
د پستو يا نرمو برخو لنډونکئ يا سره نزدې کوونکئ

Konversion (lat. Conversio ) تاويدل، بدلون، په بل ډول
يا بل حالت ته بدلېدل

Kopremesis = Miserere( Ileus) لکه په اليوس يا د کولمو
دبنديدلو له کبله د غايطه موادو کانگې، استفراغات څکه چې
د غايطه موادو د وتلو لاره د کولمو او مقعد له لارې ناشونې وي

kopro- (gr. Kòpros، Kot = lat. Stercus; faeces) يوه يونانی
کلمه ده چې بد، خراب، غايطه مواد نومول شوې لکه



www.ketabton.com

Koprostase د غایطه موادو بندېدل په کولون کې

kore- (gr. Die Pupille = lat. Pupilla) د سترګو لېمې
یا مردمک چشم
Korektopie (gr. Kòrektopos) = Ektopia pupillae له
خپل اصلي ځای څخه د سترګې د لېمې بیځایه کېدلو ته
وايي چې تر ډېره حده دننه خوا او پورته خوا ته وي

korneo-(lat. Cornea cutis) د سترګې قرنیه
Kornealulcus = Ulcus cornae د قرنې ټپ، پرهار
Koronar = Angio د زړه د وینې رګونه چې د زړه د تاج
په نامه هم نومول شوي

koronar- = angio- Koronararterae په طبابت کې دې زړه د
وینې هغه رګونو ته وايي چې د زړه عضلې ته وینه ورسوي
چې ورته د زړه د تاج رګونه یا د زړه تاج ډوله رګونه وايي

Koronarangiographie د کورونار یا د زړه د تاج ډوله
رګونو ښودنه د رادیوګرافئ د وړانګو او کانترس موادو په
مرسته او د هغه کوم بدلون چې شتون ولري څېړل کېږي
Koronararterie، Coronararterae د زړه د وینې تاج ډوله
یا تاج ته ورته رګونه ، د وینې هغه رګونه چې
د زړه عضلې ته وینه رسوي یایې تغذیه، اروا کوي
Koronarchirurgie د کورونار د رګونو جراحي
Koronarinsufficience کورونار په پوره توګه خپله دنده
سرته نشي رسولي، د کورونار د دندې کمزوري یا ضعیفوالئ
Koronarsklerose = Arteriosklerose د کورونار د رګونو تنګېدل
یا بندېدل چې د منګ ته ورته لرونګو موادو په واسطه
د چې د هغه په جدار پورې نښتي وي

Koronarspasmus د کرونار د رګونو کرمپ یا تشنج
Koronarstenose د زړه د وینې د رګونو یا د زړه
د تاج یا کرونار تنګوالئ

Korpus (lat. Corpus) یوه لاتینه کلمه ده چې تنه، بدن
نومول شوئ دئ
Koxalgie د خاصرې د لګن یا د حوصلې دردونه
په ارتریتیز او د حوصلې په ارتروز کې
Koxarthrose (degenerative) په تخریبي
یا دیجینیراتیف ډول د حوصلې د بندونو یا مفصلونو ناروغۍ
Koxitis د حوصلې د بندونو التهاب یا ارتریتیز
kranial پورته، پورتنۍ(د سر یا تندي خوا)ته
kaudal لاندې، ټیټ، ښکته (پښو یا لکۍ ) خوا

-krin =Krino- (gr. Krínein) لرې اچول، ترشح کول، افرازول
بهر کول، بیلول(د ناروغ بیل او یواځې ساتل)ته هم ویل کېږي
Endokrin دننه خوا، دننه دې وینې په بهیر
کې افرازات او همدارنګه، ترشحات
endo- (gr. Éndon) دننه، په دننه کې، په یوه چاپیریال
کې، په حدودو کې

Kryo- (gr. Krýos) ساړه،کنګل، یخ
Kryalgesie د سړو وهلي درد یعنې دې ټیټې
درجې د مخامخ کیلو له کبله ور پیښ شوي دردونه
aesthes حساسیت، احساس
Kryaesthesie له حده زیات حساسیت د سړو
په مقابل کې
Kryoanaesthesie د سړو له کبله بې حسي
د سړو له کبله احساس یا حسیت له لاسه ورکول



www.ketabton.com

Kryopathie هغه ناروغي یا حالت خرګندوي
چې وروسته د سړو وهلو له کبله مینځ ته راځي
Kryotherapie د کنګل یا د یخ د ټوټو په مرسته
سیمیزه یا لوکال درملنه تر څو چې د التهاب د خپریدلو
او هیماتوم د جوړېدلو څخه مخنیوئ وشي

Krypto- (gr. Kryptós) پټ، پوښلئ، پناه، مستور
Kryptogen ناپیژاندل شوي،پوښل شوي
پټ لاملونه، هغه ناروغی یا پیښې چې له نه پېژاندل شویو
لاملونو څخه مینځ ته راغلې وي
Kryptomenorrhoe هغه مینستریشن ته ویل
کېږي چې دې ښځینه جنسي اورګان دې غیر طبیعی حالت
یا نشتوالي له کبله وینه بهیدنه بهر ته یا دباندې صورت نه
نیسي یا شونې نه وي تر ډېره بیا دسیرویکس په اترېزي کې
Meno- (gr. Mèn, menòs) مینو له یونانی کلمې مین
یا مینوز څخه اخستلې شوې چې میاشت معنی ورکوي
Kryptochismus = Maldescensus testis د خوټو
یا خصیو د ښکته کېدلو ستونځې

Kryptopexie = Orchidopexie د یوه جراحي عملیات
په مرسته د اورشیتو ټینګول یا تثبیت کول د هغه په کڅوړه
کې یا په کڅوړه پورې
Kryptospermie د سپرمو د ژوانکو په شمېر کې
ډېر زیات لږوالئ

Kultur (lat. Cultura) ; Bakteriakultur کښت، کرنه
لکه د باکتریا کرنه، کښت
Kur (lat. Cura) پالنه، مراقبت، د طبي استراحت
دوره، پرستاري



www.ketabton.com

Kurabel (lat. Curare) د درملنې وړ، د رملنه يې شونې ده
inkurabel هغه ناروغي چې درملنه يې شونې نه وي
Kurativ (lat. Curare) کوراتيف
هغه لاتينه کلمه ده چې د ناروغۍ بيا روغېدنه، شفا موندنه
ځخه هدف دئ يعنې له هغې درملنې څخه موخه ده
چې ناروغ په ښه او پرمختللې درملنې روغ شي
Kurative Therapie د ناروغۍ د بيا روغيدنې يا شفا
موندلو درملنه

Kutaneo- (lat. Cutis) پوستکئ، د بدن پوستکئ،جلد

Kyphose (gr. Kyphòs) يوه يونانی کلمه ده چې مخې
خواته کږېدلو، انحنا ته وايي، او په نورماله توګه د ملا د مريو يا
د ملا د تير، د فقراتو ستون کږېدل يا انحنا شاخواته
Kyphosis thoracica د تورکس يا د سينې د قفس
د مريو انحنا يا کږېدل

**L**

labium شونډې، د شونډو په ډول خنډه يا خنډې
Labor (lat. Labor، Laboratorium) لابور کار، زحمت
څېړنې ته وايي همدارنګه د لابراتوار نوم يا لابراتوار لنډيز دئ
Laboratorium د څېړنې او آزمايشونو د کار ځای
labrum (lat.) شونډې، شونډو ته ورته جوړښت
Labyrinth (gr. labyrintos) د غوږ دننه برخه
Labyrinthektomi د غوږ دننه برخې لرې کول
Labyrinthitis د غوږ دننه برخې التهاب
Labyrinthotomi د غوږ دننه برخې پرانستل او ليدل



www.ketabton.com

lac, lacti = Lakto- او galakto- (gr. gála, gálaktos =lat. Lac, lactis) شیدې، پی

lacrima (lat.= gr. Dakryo- ) اوښکې

lactifer د شیدو بهوونکئ، رهبري کوونکئ

Ductuc lactifer د شیدو د لېږدونې نلکې
یا کانالونه چې تر ماماریا پورې یي رسوي

Laktaion وروسته له زېږون څخه د شیدو جوړېدنه
د شیدو افراز کیدل

Laktotrop د شیدو د جوړېدلو، افراز کېدلو پاره ونکی

Laktovegetarer له سبوو او د شیدو نه جوړ شویو
شیانو نه خوړل یا ترې ډهډه کول چې ورته ویجیتار یا ویګیتار
هم ویل کېږي

lamina(lat.), Pl. Laminae پاڼه، نرۍ یا نازکه پارچه
د بدن د یوه غړي یوه نرۍ یا نازکه پاڼه یا طبقه

Lamina quadrigemina = Tectum mesencephalie خلور غونډۍ
یا تپه لرونکې پاڼې، ټوټې، پارچې

laparo- gr. Lapára = lat. Venter, abdomen) ګېډه، د ګېډې
جوف، تشه، د د ګېډې څنګونه، بطن

Laparoskop یوه طبي اله ده چې د هغه په مرسته
د طب ډاکتر د ګېډې دننه برخې لیدلای شي یا یې ویني

Laparoskopie د جراحي عملیات په توخت کې
د ګېډې په دننه کې پراته اورګانونو او شته شیانو لیدنه
د لاپاراسکوپ په مرسته

Laparotomie یا جراحي عملیات په مرسته د ګېډې
په Operative د جوف پرانستل، سپړل



www.ketabton.com

laryngo- (gr. Lárynx,Laryngos = lat. Laryngeus)
حنجره، ستونئ، حلق
Laryngitis د ستوني، حنجرې التهاب
Laryngopharyngitis د حنجرې او ستوني التهاب
ته ویل کېږي
Larynoplegie د حنجرې فلج
Laryngockopie د یوې طبي آلې یا لارینګوسکوپ
په مرسته د حنجرې لیدنه او د هغې دننه څرنګوالی
Laryngospasmus د حنجرې کرمپ یا شخوالئ
Laryngotracheitis د حنجرې او تراخیا
یا د هوایي لارې التهاب
Larynxkarcinom د حنجرې سرطاني ناروغي

Latent (lat. latens)= asymptomatic پټ، مخفي، سیمپتوم
یا اعراض نه ښودونکئ
manifestus د ناروغی نښې په روښانه توګه څرګندېدل
latero- (lat. Latus, lateris) څنګ، یوې خوا، یو طرف
lateral (lat. lateralis) په څنګ، په یوه څنګ کې
یوې خواکې د یوې پېښې یا ناروغی پېښېدل چې
د مینځني برخې څخه لرې یا په مقابل کې پرته سیمه
medial دننه خوا یا د بدن محور یا مرکزی سیمې
ته نږدې شتوالئ
lateralis د بدن په یوې خوا قرار درلودل، له مرکز
څخه بهر خواته، په یوه څنګ کې شتوالئ
latior (Komparativ ) پراخه، وسیع
latissimus (lat.) ډېره پراخه د بیلګې په توګه
د موسکولوس لاتیسیموز دوري
-issimus, -issima, -issimum (superlativ )



www.ketabton.com

Latus (lat.) خنګ، د یوه خنګ نیمه برخه
latus (lat.) پراخه، وسیع
tensor fasciae lata
ternsor څورور، کلک، قوي، څور ښودونکئ
څور ازمويونکئ
Legasthenie (lat.) د لیګاستیني کلمه په
ځینو کتابونو کې لاتینه کلمه بللې خو په انترنت کې بیا زړه
یوناني کلمه نوموله شوې چې د لوستلو او لیکلو ستونځې
یعني چې سړئ په لوستلو او سمو ګرامري لیکلو کې
ستونځې
lemniscus, عصبي پټلي یا لارې
lens, lentis (lat.) د سترګې عدسیه
lentiformis عدسې ته ورته شکل، فورم

lepto- ډنګر، له نورمال حالت څخه ډېر ضعیف
leptosom / Astheniker ډنګرو، لوړ له نرۍ غاړې یا ورمېږ سره
یو انسان لکه بولمي او ډېر نرئ اندام لرونکي ناروغان

letal (lat. Letalis) وژونکئ، مرګونئ
Letaldosis (LD) مرګونئ، وژونکئ د زهرو اندازه یا شمیر
Letalitaet د مړینې د پېښو شمېر د یوې ځانګړې
ناروغۍ له کبله، هغه اړیکې چې د مړینې پېښې چې
د یوې ځانګړې ناروغۍ له کبله پېښې شوې وي د یوې نوې
ځانګړې ناروغۍ له شمیر سره (دا یواځې په اکوټو یا حادو
ناروغیو کې د شمیر وړ وي) کېږي
Mortalitaet د مړینې شمیر، د مړینې هغه شمیر چې
د یوې ځانګړې ناروغۍ له کبله د مړینې نسبت په یوه
معین وخت کې د هغه سیمې د اوسیدونکو انسانانو د
شمیر په اندازه ښي



www.ketabton.com

Leuko- (gr. Leukós) سپین، روښانه، ځلېدونکي

Leukaemie هدف دلته ترې د وینې سپینې ژوانکې، کرویات سفید خون لغوی معنی یې سپینه وینه او
د عوامو په ژبه هم ورته د وینې سرطان ورته ویل کېږي
په لایکومي کې وینه په اصل کې سپینه نه وي. هغه پیښه
یا سیستم چې په دغه ناروغي کې مینځ ته راځي هغه
دا وي چې په وینه کې له حده ډېري د سپینو ژوانکو ډیروالئ
یا شتوالئ

Leukocyt د وینې سپین رنګه اجسام، یوه
سپینه ژوانکه

Leukocytopenie = Leukopenie د وینې
د سپینو ژوانکو د شمیر لږوالئ

-penie (gr. Penía) لږوالئ، غربت، کمزوري

Leukocytopoese د سپینو ژوانکو جوړښت ته ویل
کېږي. سپینې ژوانکې د هډوکو په مغز او په لمفاوي
غوټو ، غدو کې جوړېږي یا تولید کېږي

Leukucytose د لایکوسیتو یا سپینو ژوانکو ډیروالئ
په وینه کې

Leukocytourie په ادرار کې د سپینو ژوانکو
یا د وینې سپینو ټوټو یا اجسامو شتوالئ

Levator (lat. Levare) لیواتور له لاتینې کلمې لیوار څخه
چې پورته کولو، لوړولو، پورته بیولو ته وایي اخستلې شوې
لکه د لېواتور اني عضله

M. levator palpebrae

M. levator scapulae

levis (lat.) ساده، اسانه،تر فشار لاندې نشتوالئ، صاف
او بې وېښتو



www.ketabton.com

liber (lat.) خپلواک، ازاده، مستقل
lichen (gr. leichèn) یوه یونانی کلمه ده چې کوځی
یا وړې اوبدل شوي ويښته معنی لر خو په طب کې موخه
ترې د پوستکي وړوکي پاپولوسيز اکزانتيم ده
lien (lat.) = Synonym, Splen تورئ، طحال
lienorenalis هر هغه څه چې د توري او بډوډي
تر مينځ شتون ولري
Ligamentum lienorenale هغه مزئ يا پړئ چې
لين يا تورئ له بډوډي سره نښلوي
Lig. = Ligamentum ليګ د ليګامينتوم لنډيز دئ او پړو، مزو
يا اوتارو ته وايي
ligamento- (lat. Ligament, Ligamentum) وندنئ ،د پړئ
په شان ټينګ او کلک مزئ دی چې د بدن په دننه کې
غړي سره نښلوي تر څو چې غړي ټينګ وساتي او يو له
بل څخه بيل نشي
Ligamentum costoxiphoideum هغه ليګامينتوم
يا مزئ ته وايي چې پوښتي له هغه هډوکي سره
نښلوي چې د سينې يا تورکس د مخکني برخې په
مينځني سيمه کې پروت دئ
ligamentum dorsale هغه مزي، يا ليګامينتوم چې
د شا خواته شتون لري
Ligamenta ليګامينتا د جمعې کلمې لپاره چې
مزي، پړي نومېږي
Ligamentruptur د ليګمينت چاوديدل ، شلېدل
تر مينځه دوه ځايه بيليدل
Ruptur (lat. Rumpere) چاوديدل، شلېدل، خيرې کېدل
تر مينځه دوه ځايه کيدل



www.ketabton.com

Ligatura (lat. Ligare ) لیګاتورا له لاتیني کلمې لیګار
څخه چې نښلول،غوټه کول، ټینګول، بستن، ګره زدن
معنی ورکوي خو په جراحي کې د وینې دې رګونو د لاندې
برخې یا بیخ غوټه کولو، نښلولو، ټینګولو ته وایي لکه د وینې
د رګونو او لمفاوي سیستم ټینګولو، کلکولو ته وایي تر څو
چې له خونریزی څخه ډهډه وشي

Ligatura arteriae د وینې د رګونو ټینګول یا غوټه کول
د جراحي تارو په مرسته

Ligg. = Ligamenta لیګ د لیګامینتا لنډیز دئ

Limbus (lat.) درز، سورکی، څنډه، حاشیه

Limen (lat.) څنډه، د یوه اورګان پوله، سرحد

Limen nasie د پزې د جوف تر مینځ دیوال یا پوله

Linea (lat.)، Pl. Lineae لینیا یوه لاتینه کلمه ده چې
لیکه، خط معنی ورکوي لکه لینیا البا یا سپینه لیکه

Lingua لینګوا ژبې، زبان ته وایی

lingualis هر هغه څه چې ژبې پورې اړه لري
یا ژبه ورسره مخامخ وي یا په تماس کې وي

Folliculi linguales د ځینو ناروغیو یا تندې له کبله
د ژبې په سر هغه پرده یا بار چې ورته وایي نومول شوئ دئ

Lingula (lat.) ژبکی، وړوکې ژبه

Lingula pulmonis sinistri د کینې خوا د سږي
یا شش د پورتنی ټوټې لاندنی او اخرینی برخې ته وایي

Lipase د غوړو یا شحم ټوټه کوونکي انزایم ته وایي
چې په پانکریاس کې جوړیږي او په نورمال یا طبعی ډول
په پانکریاس کې ویده یا غیر فعال وي او هغه وخت په کار



www.ketabton.com

یا فعالیت پیل کوی کله چې ډوډینیوم یا کولمو ته ننوځي او په پتالویک ډول بیا په خپله پانکریاس کې فعال کیږی او غوړ یا لیپید خوری او له اوهیولیز پروسېه پر مخ ځي تر څو چې د پانکریاس پرانشیم له هم له مینځه لاړ شی

-ase ایز- د کلمې هغه وروستي برخه ده چې انزایم توته کوونکو موادو ته ویل شوي

Lipatrophie د غوړینو موادو لږکیدل چې د خوړو یا تغذې ستونځو له کبله هم مینځ ته راځي، د بدن د پوستکي لاندې د غوړ یا شحم طبقې نرۍ کېږي

lipo- (gr. Lípos = lat. Adeps, adipis) غوړ، شحم

Lipophilie د غوړو نشتوالي حالت، د غوړیو حل کوونکي مواد

Lipoblast د غوړو ځوانې ژوانکې

Lipocyt د غوړیو ژوانکې

Lipodystrophie د غوړو لږوالی دې تغذي ستونځو له کبله، د غوړو ورکېدل

Lipogenese د غوړو یا شحم مینځ ته راتګ بروز، پیدایښت

Lipoid هغه مواد چې غوړیو ته ورتوالئ لري

Lipom د لیپو سیت د جوړښت پاړسوب، تومور تر ډیره لیپوم سلیم او بې زیانه، بې ضرره وي

Lipomatose هغه ناروغي ده چې په هغه کې یو شمېر د غوړینو جوړښتونو پاړسوب یا تومورونه پیدا کېږي

Lipophil د غوړ منحل کونکئ(غوړ خوښوونکي)ته وایي

Liposarkom د غوړینو جوړښتونو یوه نادره او مالیګنان، خبیثه بده دانه ده چې معمولاً په ښه توګه د پېژاندنې وړ وي

Liquefaktion اوبه کیدل یا مایع کیدل



www.ketabton.com

Liquid (lat. Liquidus) له لاتينې کلمې ايکيدوس
څخه چې مايع، مايعات معنىورکوي اخستلې شوي ده
Liquidation حسابول د حساب يا صورت حساب کول
تصفيه کول، د مايعاتو فلتر کول
liquor اوبه، مايعات، مايع
Liquordiagnostik = Liquor cerebrospinalis د سر
د مغز يا د شوکي نخا د اوبو يا مايع پلټنه، معاينات
-lith د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې تيګه، کاڼي
دې تيګو له کبله مينځ ته راغلې ناروغۍ
Lithiasis له تيګو جوړې شويو ناروغۍ
د تيګو جوړېدنه په بډوډوکې، د تريخي په کڅوړه
يا ضفراوي کڅوړه کې، په مثانه کې او نورو غړو کې
-iasis ايازيس د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
د يوې داسي ناروغۍ حالت څرګندوي، کومه چې
د تيګو(کونکريمينټ)د شتوالي له کبله په يوه اورګان يا نورو
غړو کې مينځ ته راځي
Phlebolith د وريدو تيګي يا منګ، په تور رګ
يا وريد کې تيګو ته ورته کلک منګ شتوالئ
Nephrolithiasis په بډوډو کې د تيګو يا کاڼو شتون
litho- (gr. Líthos) تيګه، تيګې، کاڼي
lithogen هغه څه يا لاملونه چې د تيګو د جوړېدنې
زمينو ته وده يا پر مختګ ورکوي يا مساعد کوي
Litholyse د تيګو له مينځه وړل، منحل کول
چې ښېموليتوليز هم ورته وايي چې دا پروسه د طبي درملو
په مرسته سرته رسېږي لکه يوروليتوليز، خوليليتوليز
Lithotripsie د تيګو ټوټه کول، ميده کول په يوه خالي
يا مجوف اورګان کې



www.ketabton.com

-tripsie (gr. Tríbein) د کلمې هغه برخه ده چې
له یوناني کلمې ټریبین څخه چې سولول، تراشل یا سائیدن
میده کولو ته وایي

lobo- (gr. Lobòs) ټوټه، پارچه، برخه، دستمال
Lobaer د هر هغه څه سره چې د یوه اورګان یوه ټوټه
یا پارچه مخامخ وي
Lobaerpneumonie د سږو د یوې ټوټې
یا پارچې التهاب ته وایي
Lobektomie د سږو یا سږي د یوې ټوټې پریکول
یا لرې کول
lobulus وړوکي ټوټې یا پارچې لکه د غدواتو
او پرانشیماتوزي اورګانو لکه دې ینې یا لړمانه او یا د بډوډو
وړې پارچې
Lobulus auriculae د غوږ پسته یا بې غضروفه برخه
یا ژبکئ، نرمي ګوش
Lobus (lat. Lobus ) : ټوټه، پارچه
Lobus frontalis د کوپړۍ د تندي یا وچولي
د هډوکي ټوټه یا برخه
Lobus glandulae thyroideae د تیروئید
یا جاغور د غدې یوه ټوټه یا برخه
Lobus inferior د سږو لاندنۍ ټوټه یا برخه
Lobus medius pulmonis dextra د ښۍ خوا
د سږي مینځنۍ ټوټه یا برخه
Lobus occipitalis د سر د شا یا
د شا خوا ټوټه برخه
Lobus paritalis د سر د هډوکي
د څنګ ټوټه یا پارچه



www.ketabton.com

Lobus superior د سرږي پورتنۍ ټوټه يا پارچه
Lobus temporalis د کوپړۍ يا سر د هډوکي
د څنګ هغه ټوټه ده چې د خوب کولو ټوټه يا پارچه ورته هم ويل کېږي
-loge/-login ، -logie (gr. Lógos) له يوناني کلمې لوګوز
څخه اخستلې شوې ده علم، پوهه نومېږي
-logie (gr. lògos) د پوهې او علم زده کړي ته وايي
لوګي يا لوژي د يوناني کلمې هغه برخه ده چې پوهې زده کړې، تعليم ته ويل کېږي
-loge د طبي مسلکو، يا ځانګړې ناروغيو پوه ډاکتر
يا د همغې رشتې يا ناروغي متخصص ډاکتر ته وايي
Logopaedie د غاړو، غږ او خبرو کړو يا غږيدو
د درملني رشته يا طبابت
Logopathie د ژبې يا غږيدو ستونځې
په غږيدلو کې مشکلات
Logophobie دا يوه ناروغي ده چې شخص
له غږيدو څخه ډارېږي
Logorrhoe روانه غږېدنه، هغه غږيدل چې
نه کنترول کېږي داسي چې يوواري په خبرو پيل وکړي بيا نه دريږي
Lokal (lat. Localis) سيمه، سيميز، موضعي
Lokalanaesthesie سيميزه بې حسه کول
موضعي انستيزي
Lokalisation هر هغه څه چې د بدن په يوې
ځانګړي سيمې پوري اړه لري يا محدود وي
longitudinal (lat. Longitudo ) اوږدوالی
Longus اوږد، طويل،دراز
lordo- = Lordose, (gr. Lordòs) کږوالی، انحنا



www.ketabton.com

Lues (lat. Lues) = Syn. Syphilis یو ډېر کلک یا سخت پرهار
یا شانکر دئ چې د جنسي اړیکو یا یوځای کېدلو له کبله
مینځ ته راځي یا یوه کرونیکه زهروي ناروغي ده چې لامل
یې ترییپونوما پالیدوم دئ. دغه ناروغي په ټوله نړۍ کې
خبرېږي خو د پینیسلین د کشف له وخته تر یوې اندازې
له مینځه تللې ده

lumbo- (lat. Lumbus = Lende) د ملا هغه برخه ده
ورته وايي (L1-L5) چې څلور بنده یا څهاربند
Lumbal هر هغه څه سره چې د ملا دغه
برخه مخامخ کېږي
Lumbalanaesthesie = Spinalanaesthesie د کرخته
کېدلو هغه طبي درملو ستنې وهل یا زرق کول د لومبال
د دو مریو یا فقرو تر مینځ په شوکي نخا کې عصب ته نږدې
تر سره کېږي
Lumbalpunktion د ځینو ناروغیو د لابراتواري څېړنې
یا تشخیص لپاره د لیکور لاسته راوړنې لپاره لومبال پانکشن
یا پانکسیون تر سره کېږي
Lumbosakral هر هغه څه یا ناروغۍ سره چې
د لومبال او سکرال سیمه مخامخوي
lumbus (lat.), die Lende څهاربند، ملا

luna (lat.) سپوږمۍ په نیمايي حالت یا هلال، مهتاب، قمر
lunula د هلال ډوله یا نیمايي سپوږمۍ په شان
جوړښت لکه د نوکانو وروستۍ برخه
Lunatummalazie د لاس د ورغوي له لاټیرال خوا
څخه میډیال یا مینځ خواته دویم
هډوکي ته وايي



www.ketabton.com

luteus ژېړ، زېړ

Luxation, (lat. Luxare) بې ځایه کیدل، په دیر زور سره
په تیره د لاسونو کشول دیوه بند د دې لامل ګرځي چې
سیمه یو له بل څخه کش او بې ځایه شي او په دې
اساس د بند سطحه له هډوکي څخه خپلي اړیکې له لاسه
ورکوي

Luxationsfaktur د هډوکي ماتیدل چې
په یوه وخت یا همزمان کې دې بند یا بندونو بې ځایه
کیدلو سره یوځاي وي

Lympho- (lat. Lympha) د بدن یا وجود د ژغورنې
یا دفاعي سیستم ته ویل کېږي

Lymphadeno- د ژغورنې یا دفاعي سیستم غوټې
یا غدې

Lymphadenom لمفاوي غوټو پړسوب، تومور
له نورمال حالت څخه غټوالئ

-om اوم د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې پاړسوب
یا له نورمال حالت څخه ډېر غټیدیلو، لویدلو ته وایي

Lymphadenitis د لمفاوي غوټو التهاب

Lymphadenopathie د لمفاوي غوټو ناروغي

Lymphangiom د لمفاوي رګونو یو نوئ مینځ
ته راغلئ جوړښت یا تومور ده

Angiom د رګونو پاړسوب، غیر طبعي غټوالئ

Lymphangiopathie د لمفاوي رګونو ناروغۍ چې
په دوه ډوله دي **الف:** لومړنۍ یا پرېمېر(د زېږون له وخته) لکه
اتریزي، اپلازي،ایکتازي، کیستونه او یا لمفانګیوم **ب:** سیکندیر
یا ثانوي(کسبي)دي لکه لمفانګیتیز یا د لمفاوي رګونو التهاب



www.ketabton.com

Lymphangitis د لمفاوي رګونو التهاب، لمفاوي
رګونه هغه ته وايي چې په هغه کې لمفاوي مواد يا د بدن
د ژغورنې مواد چې د شيدو په شان رنګ لري بهيږي
يا جريان لري

Lymphatic Leukaemie د لمفاوي ژوانکو د ډيرښت
له کبله مينځ ته راځي

lymphatic System د بدن د ژغورنې سيستم
يا معافيتي سيستم

Lymphe = Lymphcele = Lymphocyt د ژغورنې
ژوانکې يا لمفاوي ژوانکې

Lymphonodie د لمفاوي رګونو په بهير کې
د نسکو له غټوالي تر د پليو دانو پورې ګردې هوارې
يا بشقاب ډوله اندازې پورې غټې غوټې
يا غدو ته وايي

Lymphoblast هغه لمفاوي ژوانکه چې نه وي
پخه شوي يا نه وي رسيدلي

Lymphocytopenie له نورمال حالت څخه
د لمفاوي ژوانکو لږوالئ

Lymphocytose د لمفاوي ژوانکو ډير والئ نسبت
طبعي حالت څخه

Lyse, -lyse, lyso- (gr. Lýein) ليز د بيلونې، حل کولو
منحل کولو ته وايي

-lyse : د کلمې هغه برخه ده چې منحل کولو ته وايي

Analyse چڼ کول، فلتر کول

Litholyse د تيګو يا ګاټو منحل کول

Cholelitholyse د صفراوي تيګو منحل کېدل

Paralyse په ټوليزه توګه،په مکمل ډول فلج



www.ketabton.com

Pleurolyse پلایرولیز د پلایرا، پلورا یا د تورکس
د دننه پردو سرېښوالي یا سره نښتلو بیلولو ته وایي
lyso- :
Lysosomen

## M

M., Musclus (Musckel) عضله، غوښه، ماهیچه
Macula lutea (lat.) زېړه لکه یا داغ د سترګې په شبکه
کې، زېړ داغ، لکه
Magnus (lat.), major, majus, maximus لوي، ستر
غټ، لوړ
Major لوی، غټ
Minor وړوکئ، کوچنئ
makro- ( gr. Makrós ) له یونانی کلمې مکروز څخه
اخستلې شوي چې غټ، پراخ، اوږد معنی ورکوي
Mikor- وړوکئ، لنډ
Makroangiopathie د وینې د غټو او لویو رګونو
ناروغۍ ته وایي لکه د اکستریمټیټ یا د لاسونو او پښو
ابدومینال، کورونار، اکسترا، او انتراکرانیال او نورو رګونو،
چې تر ډېره ارتیریوسکالیروز نیولي بند کړی وي او تر ټولو ډېر
د ډیابیتیک ماکروانګیوپاتي چې د خوږې د ناروغۍ لرونکی
ناروغانو کې دي دغه ناروغۍ له کبله مینځ ته راځي
Makrocephalie په غیر نورمال ډول د سر
یا کوپړۍ له حده ډیر غټوالئ
Makrocheirie په غیر نورماله توګه د شونډو غټوالۍ
لکه د تراوما له کبله مینځ ته راغلئ هیمانجیوم
Makrodontie له حده ډېر غټ غاښونه



www.ketabton.com

Makroglossie په غیر نورماله توګه د ژبې ډېر لویوالئ
یا غټوالی لکه په هایپوتیریوز، ډون سندروم
Makrohaematurie په ادرار یا یورین کې د ډېرې وینې لیدنه
البته په سترګو د مقدار په اساس شتوالئ او بهر کیدل
Makrophthalmie په غیر نورماله توګه د سترګو غټوالئ
Mikrophthalmie په غیر نورماله توګه د سترګو وړکوالئ
Makropsie =Metamorphopsie د یو شي ډېر لوی او
غټ لیدل یا هغه شئ چې په سترګو بې له کومې آلې
ښخه د لیدلو وړ وي، یعنې څوواړې له خپلې اندازې غټ
ښودل یا لیدل کیږی
Makrosomie له حده زیاته ودې، دیواسایي ودې
ډېره غټه تنه یا بدن
Makrostomie = Stomatoschisis یوې خواته دې
خولې یا دهن پراخوالئ، لویوالئ چې د مخ کاسه هم
همغې خواته کږېږي، ډېره لویه، پلنه، برداره خوله
Makrotie د غوږ د موشل یا د غوږ د پکې له حده
ډېره لویوالي ته وایي

Mala (lat.) = Bucca غمبوري، وننګي
malazo- (gr. Malakós) سست، پوست، نرم
Malazie سستی، پوستوالئ، نرموالئ
Bronchomalasie د برانش د دیوال نرموالئ
یا سستي، عدم کفایي ته وایي
mal- (lat. Malus) له لاتینې کلمې مالوس څخه چې
بد، خراب،کوم شئ چې ښه نه وي یا په زړه پوري
نه وي اخستلې شوې ده
Maldescensus (lat. Descensus) د مالدېسینسوز د ښکته
کېدلو، ځوړندېدلو ستونځې نومول شوي



www.ketabton.com

Maldescensus testis — د خصیو یا خوټو په نورمال ډول د هغوي کڅوړه ته نه ښکته کېدلو ته وایي

maligno- (lat. Malignus) — بده، خبیثه، چنګاښ، سرطان

Maleolus lateralis — د پښې بهرنۍ خوا واړه هډوکي

Malleolus — چکوش ته ورته هډوکي، چکوش ډوله هډوکي

Malleus — چکوش،په اناتومي کې چکوش ته ورته جوړښت په غوږ کې

Mala,Malum, Malus — هغه څه چې ښه نه وي، بد، خراب نه خوښوونکۍ شي

Malus — هغه شۍ چې ښه نه وي، بد، خراب

herba mala

herba — واښه، شنه، ترکاري

mixtum malum — د ښه او بدو یوځایوالۍ

mixtum — یوځای، د څو شیانو یوځایوالۍ

morbus malus — بده ناروغي

morbus (lat.) — یوه لاتینه کلمه ده چې ناروغي، مریضي

Mamma (lat.) — ماما یوه لاتینه کلمه چې ښځینه تیوو، ثدیو او دهغوي غدو (ګلاندولا ماماریا) ته ځانګړي شوي ده

Areola mammae — د تیوو د څوکو نصواري رنګه سیمه

Papilla mammae — د تیوو څوکې

Mammaabscess — د تیوو په غدې کې د چرکینو یا قیحی موادو تولیدنه

Mammabiopsie — د تیوو له غدې څخه د ناروغیو د څېړنې او تشخیص لپاره دنني موادو پارچه، نمونه، سمپل اخستلو ته وایي

Mammakarcinom — د تیوو د غدې سرطان



www.ketabton.com

Mammaplastik د جراحی عملیات په مرسته
د ماما بیا رغونه یوه فیزیولوژیکي شکل (ایوماستي) یا
لومړني حالت ته
Mammatumor تیوو په غده کې د دانې یا تومور
شتوالئ
Mammographie د رادیولوژی د وړانګو په مرسته
د تیوو د غدې د محتویاتو او د جوړښتونو او همدارنګه
ورپښې شوې ناروغیو له کبله بدلونونو ښودنه
mammotrop کوم څه چې د تیوو په غده اثر لرونکئ وي

Mandibula (lat.) لاندني ژامه
Ramus mandibulae د لاندنی ژامې څنډه
Manie (gr. Manía = Raserei) په نورمال یا طبعي رواني
حالت کې بدلون، ناخوالې، ستونځې یا په غیر ضروري توګه
غړ پورته کول چې بیلابیل حالتونه ځرګندوي، روږدی، اعتیاد
Dipsomanie د څښلو روږدئ یا معتاد
Nymphomanie په ښځینه جنس کې
د هیتروسیکسوال یا مخالف جنس سره د جنسي
یوځای کېدلو یا د شهواني هیلو ډېروالئ
manifest نښې، اعراض او علامې
Manifestaion (lat. Manifestare, Manifestus ) د لېدلو وړ د
یوې ناروغۍ پېژاندنه د روښانه نښو په درلودلو سره چې د
لاټینټ یا نښې نلرونکې ناروغۍ برخلاف وي
Manipulation (lat. Manipulus) له لاتینې کلمې
مانیپولوس څخه اخستلې شوې چې یو موټئ، یو ډک لاس
یا یو ډک موټئ، همدارنګه یو ځانګړي فن، هنر، لاسي کار
ته ویل کېږي چې موخه یا هدف یې په طبابت کې
د جراحي عملیات دئ



www.ketabton.com

Manubrium لاسي کار، لاسي فن او هنر
Manubrium mallei چکش په مرسته کار، چکش کاري

manuel (lat. Manus = Hand) له لاتينې کلمې مانوس
څخه چې لاس، لاسي معنی ورکوي اخستلې شوې ده
Manuelle Medicin = Chirotherapie جراحي درملنه
لاسي طبابت
Beimanuell په دواړو لاسونو يو کار سرته رسول

Margo (lat.), Pl. Margines څنډه، کنار، لبه لکه
موسکولوز اکوټوز يا تېره څنډه چې ډېر شمېر يا جمعه
يې مارګينيس نومولې شوې ده

Masern = morbilli يو انفيکسيوني يا وېروسي ناروغي
ده چې ورته شرئ يا سرخان وايي چې تر ډېره واړه
ماشوان پرې اخته کېږي
Masseter ماسيټير يوه يوناني کلمه ده چې شخوند وهلو
ته وايي خو دلته موخه ترې د شخوند وهلو عضله هدف
ده يعنې هغه عضله چې په شخون وهلو کې مرسته کوي

maskulin (lat. Masculinus) نارينه، نارينه جنس
feminin ښځينه جنس، ښځينه

masto- (gr. Mastós) ښځينه تي يا ثدي، د تيوو غدې
يا د تيو څوکې
Mastalgie = Mastodynie د تيوو د غدې يا ثديو درد



www.ketabton.com

Mastektomie = Ablatio mammae, Mammaamputation د
جراحي عمليات په مرسته په ښځينه جنس کې
د پرمختللي سرطاني ناروغۍ له کبله د ثديو
يا تيو د غدې پريکول او لريکول

Mastektomie subcutane د ماما لرې کول
د پوستکي لاندې پدې شکل چې پوستکئ يا جلد يې
ساتل کېږي

Mastitis د ماما يا د تيوو د غدې التهاب

Mastodynie د تيو د غدې درد

Mastoid تيوو ته ورته جوړښت ته وايي لکه د غوږ
د پکې شاته يو لکۍ لرونکئ هډوکئ دئ چې په ښه توګه
د جس يا لمس وړ دئ، داسې ښي چې ماميلا وي

mast د تيو ځوکې، زخي يا د ثديو ځوکو

-oid د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې ورتوالئ
لکه، شباهت لکه، يو شي ته ورتوالئ

Mastoidektomie د تيوو ځوکو ته ورته جوړښتونو
يا ماسټوئيد د ټولو ژوانکې چې ورته لاسرسئ وي
لرې کول، پريکول

Mastoideus د تيوو ځوکو ته ورته، زخو و ته ورته جوړښت
کومې چې پروسيسوز ماسټوئيديوز پورې اړه لري

Processus mastoideus = Mastoid

Mastoiditis د ماستوئيد التهاب

Mastopathie د تيوو، ثديو د غدې هغه ناروغۍ چې توموري
نه وي بلکې هورمونو پورې اړه لرونکې ډيجينيراتيف او
يا پروليفيراتيف بدلونونه په نومولې شوې غده کې وي

Mastoptose ځوړندې ثدې، له اناتوميکې سيمې
ځخه ټيټې د تيوو د غدو شتون يا موقعيت

Mastopexie اوپراتيفي ټينګول يا تثبيتول د تيوو د غدو



www.ketabton.com

Masturbation تر ډېره حده په لاسـي يا عمدي توګه
د جنسـي اورګان سـتيمولاسـيون پېژاندل شـوئ چې په
اصل کې د اورګازم رهبرئ يا لاربنـودونکئ ته ويل شـوئ

Mater (lat. = gr. Meningo-) = syn. Dura Mater دمغز
په تېره بيا د شـوکي نخا يا حرام مغز پوسـتکي يا پوښ ته وايي
matrix, matricis (lat.) يوه لاتينه کلمه ده چې د مور، د
يوه اورګان د نطفې يا تخم، طبقې، يا پوښـونو ته وايي
maxilla(lat.) پاسـني يا پورتني ژامه، د پورتنۍ ژامې هډوکي
Tuber maxillae
Maximus ډېر لوړ، ډېر غټ
meatus (lat.) لاره، د تيريدنې لاره
Meatus acusticus externus د اوريدلو بهرني لاره
د اوريدلو يا غوږ د باندې لاره
medio- مينځ، مينځني، متوسـط، وسـط
medial مينځني برخې ته يا مرکز ته نزديوالئ
lateral له مينځني يا مرکزي برخې څخه لريوالئ
يعنې د بدن له مرکزي برخې څخه لري پرته سـيمه
median د بدن د مينځنۍ برخې يا محور سـره
په يوه سـطحه يا هوارۍ، هم سـطحه
medialis ميډياليز د بدن مينځنۍ برخې يا محور
ته نزدې يا نږدې شـتوالي يا پروتوالي ته وايي(خو نه په
مرکزي يا مينځ کې شـتون يا پروتوالئ څکه چې هغه
ته ميډيوز، ميډيانوز) ويل کېږی
Facies medialis
medianus په مينځني سـيمه کې شـتوالئ، قرار درلودل
Crista sacralis mediana
Medianebene = Sagittalebene هغه مينځنۍ ليکه چې تنه
يا بدن په مخې او شـا دو برخو ويشـي



www.ketabton.com

Mediastinum (lat. Quod per medium stat) یوه لاتینه کلمه ده چې هر هغه غړي یا اورګانونه چې په مینځنئ یا مرکزي سیمه د تورکس یا ټټر کې شتون  ولري چې په اصل کې د تورکس د خونې یا جوف مینځنۍ سیمې ته وایي

Medicina (lat. = gr. -iatrie) طبي فن، طبي هنر
د طبي درملنې ډولونه

Medicus (lat.  =  gr. Iatro-) د طب ډاکتر، طبیب

ad usum medici هغه مواد یا درمل چې د طب ډاکتر ترې ګټه اخلي یا د طب ډاکتر ئي پکاروي

Medius مینځنۍ، مرکزي، په مینځنۍ سیمه کې شتون

Medulla (lat.) مغز، نښه،هدف تري د هډوکي مغز دئ

Medulla renalis د بډوډو دننه محتوي یا مغز

Medulla spinalis د شوکي نخاع مغز یا حرام مغز

mega-; Megalo- (gr. Mégas) لوي، غټ، اوږد، غیرنورمال غټوالئ، یا لویوالئ

Megakolon د غټو کولمو له حده یا اندازي زیات پراخوالئ، له حده ډېر لویوالئ

-megalie د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې موخه ترې ډېرغټوالۍ یا ډېرلویوالۍ نومول شوی

Akromegalie غیر نورمال یا غیر طبعي وده یا غټوالۍ د بدن د غړو یا اندامو لکه د لاندیې ژامې د سترګو د هډوکو کاسې، پزه، لاسونه او داسې نور

megalo- (gr.  Mégas, megále) غیر نورمال غټوالۍ

Megaloureter د یوې خوا یا دواړو خواو د ادرار د لېږدونې لارې یا حالب ډېر غټوالۍ، چې کېداې شي کانجینیټال وي او دغه پېښه په نوو زېږیدلو نارینه جنسه ماشومانو کې د ښځینه جنس په پرتله ډېر ښودل شوي



www.ketabton.com

Megaureter = Megaloureter لوي يا ډېر غټ حالب

melano- (gr. Mélas) تور رنګ، تياره (چې له نصواري
ترتور رنګ پورې)، خړ رنګ
Melancholie (gr. Melancholìa) = syn. Episode توررنګه
صفراوي يا تور رنګه د تريخي د کڅوړې ترخه مواد
ميلانخوليا
Melanin تور رنګ ورکونکي مواد
Melanocyts لغوي معنی يې هغه ژوانکې دي
چې ميلانين جوړوي، يعني د تور رنګ ورکونکې ژوانکې
Melanodermie وړانګې که هغه طبعي وي که
مصنوعي کولای شي چې د بدن د پوستکي د رنګ دې
تياره کيدو لامل ګرځي
Melanom يو د پوستکي تور رنګه پاړسوب يا تومور
ته وايي او په ندرت سره په موکوز کې هم پېښېږي چې
دې مضر يا خطر ناکه يا خبيث دئ چې بايد ځومره چې
شونی وي د جراحي عمليات په مرسته پريک او لرې شي
Melanose معمولاً د ميلانوډيرمي په ځای
همدارنګه ميلانوز پکارول کېږي چې (ميلا په معنی د تور
او -اوزه د پای ټکي د ناروغۍ حالت، د ناروغه لرونکي
بدلونونو ځرګندونه) نومول شوې ده
melanotrop هغه لاملونه چې پيګمنتي ژوانکې
هڅوي يا تحريک کوي چې تور رنګ ونسي

melo- (gr. Melòs = Lat. Membrum) په لاتينه طبي ژبه کې
د نارينه جنسي غړئ يا پينس
Membran (lat. Membrana) نرئ،نازکه پوستکئ يا ظريفه پرده
Membrana tympanica د غوړ پرده، د ډوهل پوستکئ
Membrum غړئ، پرده،عضو



www.ketabton.com

meno- (gr. Mén, Menòs) میاشت موخه یا هدف تري
د کال میاشت دئ

Menarche په نجونو کې لومړني د پیغلتوب یا بلوغ نښه
چې د لومړي ځل لپاره میاشتني وینې بهیدنه
یا مینستروشن، خونریزي لیدله کېږي

arche (gr. Arché) ارښ یا ارش چې یوه یونانی کلمه ده
او پیل، اصل،چینه، منبع، مبدا ته وایي

meningo-, meningio-, meningeo- (gr. Méninx, méningos = lat. Mater) د مغز پوښ په تېره بیا د حرام مغز پوښ

Meningocele د حرام مغز د پوښ یا مینینګ څوړندیدل
هیرنیا یا چوره کېدلو ته وایي لکه په سپینا بایفیدیا

Meningeom ; Meningiom د دماغ او د حرام مغز
مینینګین او یا د اراکنوئیدیاماټر د ډېلو ژوانکو په ورو ورو
یا تدریجي توګه وده کونکئ یو ښه یا سلیم تومور ته وایي

Meningitis د دماغ د مغز او شوکي نخا یا حرام مغز
کلکوو اویا پستو ، نرمو مینینګین التهاب ته وایي

Meningitis cerebralis د مغز د اراکنوئیډیاماټر التهاب

Meningitis cerebrospinalis د مغزو او شوکي نخاع
د مینینګین التهاب

Meningitis spinalis د فقراتو د تیر مغز یا حرام مغز
مینینګین التهاب

Meningoencephalitis د میننګین او اینسیفالو التهاب
ته وایي

Meningokokken = syn. Neisseria meningitidis
د غونډاري په ډول باکتري، هغه چې د مغز د مینینګین
د التهاب لامل ګرځي



www.ketabton.com

menisko- (gr. menískos = lat. Menisco-, Meniscus) دې نوې
یا څو ورځو سپوږمۍ په شان یا هلالي ډوله جسم چې
موخه یا هدف ترې دې زنگنونو د بندونو یا مفصلونو حلقې
دې چې اوبجنې یا غوړینې دي چې دغه د زنگانه دې بندونو
هډوکې په خپل مینځ کې له سولېدو او تخریب کېدو ژغوري
Meniscofemoralis د ورانه د هډوکي مینیسکوز
Meniskektomie د مینیسکوز لرې کول
Meniscopathie د یوه مینیسکوز یا د بندونو د ګردو
حلقو ناروغۍ
Meniscus د بند، مفصل ګرده حلقه
Menopause په ښځینه جنس کې د میاشتنۍ وینې
بهیدنې، خونریزۍ پای ته رسیدل
-pause (gr. Paúein) پاوز، پاوزه یا پای، اخر د کلمې
هغه برخه ده چې له یوې یوناني کلمې پاوئین څخه
اخستلې شوې چې پای ته رسېدل، اخر نومېږي
Menorrhagie د مینستروېشن یا میاشتنۍ وینې بهیدلو
ډیروالئ او اوږد محال والئ ځرګندوي

-menorrhoe میاشتنۍ وینه بهیدنه، البته په ښځینه
جنس کې
-rhoe bzw. -rrhoe بهیر، بهیدل، روانیدل

Mens(lat.) مینز، مینس چې پوهې،علم ته وایي
چې دا باید له مینتوم چې له زنه، زنخ ته وایي غلطه نشي
یا اشتباه ونشي
Mens sana یوه لاتینه کلمه ده چې روغ روح یا عقل
په روغ بدن کې معنی ورکوي لکه چې وایي سلیم عقل
په سالم بدن کې وي



www.ketabton.com

menses, mensium (lat., Pl. ) = syn. Menstruation میاشتنۍ
وینه بهیدنه چې تل ډیر شمیر یا جمعې په شان پکارول کېږي

Menstruation (lat. Menstruum) په ښځینه جنس کې
د پېغلتوب له وخته تر څو چې مینوپوز وخت رسېږي په
نرمال ډول د میاشتې یوارې وینه بهیدنه له درې تر
شپږو ورځې صورت نیسي چې ورته میاشتنۍ وینه بهېدنه
یا خونرېزي هم وایي
mentum زنه، زنخ
Mesencephalon مینځنئ دماغ، د دماغ منځنۍ سیمه
meso- د کلمې هغه لومړۍ برخه ده چې مینځ، تر مینځ
د دو شیانو یا غړو تر مینځ، مینځنئ
Mesocolon دې میزانتیریوم په مرسته د کولون یا
غټو کولمو نښلول د ابدومن د شا په دېوال یا جدار باندې
Mesonephros میزونیفروز د ایمبریوجینېز په وخت کې
د بډوډو شتوالي ته وایي چې بیا د دویمې میاشتې په
پای کې هغه بېرته ورکېږي او بیا د بډوډو په وروستۍ
شکل مینځ ته راځي، د بډوډو تر مینځ مرحله
meta- (gr. Metá) په دننه کې، تر مینځ، شاته، وروسته
او همدارنګه بدلونونه
Metacarpalfrakur د لاس د مینځنیو هډوکو ماتیدنه
metacarpus د لاس مینځنۍ برخه هغه سیمه ده
چې د لاس د بیخ یا ریښو او د ګوتو یا پنجو تر مینځ شتون
لري( چې د کارپوس شاته قرار لرونکي) ته وایي
Metaencephlon د اینسیفلون شاته شتوالئ ! له میټا چې
په کیمیا کې د بینزول حلقې څخه موخه ده باید بیل شي
یا وپېژانده شي
Metamorphose د شکل، هیکل، اندام بدلېدلو ته وایي



www.ketabton.com

Metamyelocyt ځوانې میالوسیټ، د میالوسیټ او
د رسېدلو ګرانولوسیټ تر مینځه د پرمختګ مرحله ښيي

Metastase (gr. metàstasis) لېږدیدنه، د سرطان
د دانې چې مور یا د اصلي تومور ځای په یوه اورګان کې
او لوښې یا بچي یې نورو اورګانو ته د وینې، لمفاوي سیستم
او یا ګاونډیتوب له کبله لېږدول کېږي

metastatic هر هغه حالت یا ناخوالې چې
د لېږدېدونکي تومور له کبله پېښېږي

meter هغه آله ده چې د شیانو اندازه کول پري کېږي

metopo- (gr. = lat. Frons ) مخه، وړاندې = تندې، وچولئ
Metralgie د رحم درد
metrie (gr. Métron) میچ کول، اندازه کول

Ergometrie د بدن یا وجود د کار، فعالیت، توان
او قدرت اندازه کول د ارګومتر په مرسته ته ارګومیتري
وایي چې په پاي کې د زړه او د سږو ګراف یا د هغوي
د کار قدرت او توانایي ښکاره کوي
Metritis = Myometritis د رحم د دیوال د بیلابیلو برخو
یا طبقاتو التهاب ته وایي
metrio- (gr. Métra, lat. Uterus) رحم، د ښځې د بدن
هغه برخه ده چې په هغه کې ماشوم د نطفې له وخته
تر زېږون پوري ساتل کېږي
Metrodynie د رحم درد
metro- =Hystero-(gr. = lat. Uterus) میترو او همدارنګه
هیستیرو یوناني کلمه چې په لاتینه یوټیروس ورته وایي
رحم نومېږي



www.ketabton.com

Metrorrhagie د رحم ځخه یوه غیر منظمه وینه بهېدنه
یا خونریزی چې له څورلسو ورځو څخه ډېرې ورځې دوام
کوي او د میاشتنۍ وینې بهېدنې یا مینسترویشن څخه
پرته شتون ولري میتروراژي ویل کېږي چې یا هورموني
لاملونو له کبله او یا خو اورګانیکي لاملونو له امله پېښېږي
mikro- = nano-(gr. Mikrós ) وړوکۍ،ډېر لږ، بې مفهومه
او بې معنی شئ
Mikroangiopathie د وینې د رګونو د وړکیو یا ډېرو
وړکیو رګونو بدلونونو یا تنګېدلو له کبله پېښې شوې
ناروغیو تصویر لکه د ډیابیټس میکروانګیوپاتي چې وروسته
بیا په ډیابیټیس میلیټوز کې

Mikroben مکروبونه
Mikrobiologie هغه علم ده چې له وړو ژویو، دهغو
چې په سترګو نه لیدل کېږي ځېړي او یا بحث کوي
Mikrocephalie وړوکۍ سر یا ډېره وړوکۍ کوپړي
Mikrocheilie د شونډو وړکتوب
Mikrodaktylie د لاس او پښو د ګوتو وړکوالۍ
د ګوتو وړکوالۍ په لاسونو او پښو کې
Mikrodontie ډېر واړه غاښونه
Mikroglossie ډېره وړکۍ ژبه
Mikrohaematurie په ادرار کې د وینې شتوالۍ
کومې چې په سترګو نه لیدلې کېږي
Mikrokranie د سر د کوپړي( دماغ -) وړکی والۍ
Mikrophtalmie په غیر نورماله توګه د سترګو وړکۍ والۍ
Mikrorchie د خوټو یا خصیوو وړکۍ والۍ
Mikroscop هغه آله ده چې د هغو شیانو دلیدلو
لپاره پکارول کېږي چې په سترګو نه لیذل کېږي



www.ketabton.com

Mikrosomie = Nanosomie لږ وده یا نمو
وړوکۍ پاتېکېدل، یو انسان چې عمر یې ډېر او تنه یا قد
او اندام یې د ماشوم په اندازه وي
Mikrostomie یوه وړکی خوله، یوه وړکی اړیکه
Mikrotie د غوږ وړکي غضروف، د غوږ وړکۍ موشل
Mikrotrauma لږشانته ژوبلېدنه، ناچیزه ژوبله
وړوکې شانته ژوبلېدنه، وړوکې تراوما

minor, minus, minimus, parvus وړوکې، کوچني
Miosis (gr. Meíosis) وړکی کول، تنګول، دسترګو د تور،لېمو
یا پوپیلین وړکې کېدل، نزدې کېدل

Miotika داسې درمل شته دي چه د سترګو تور
یا پوپیلین تنګوي، وړکي کوي

mitis (lat.) نرم، ملایم، معتدل
Mitochondrion میټوښاندریا چې په ژوانکې شتون لري
Mitose (gr. Mítos) میتوز له یوناني کلمې څخه چې
تار نومېږي اخستلې شوي چې په اصل کې په غیر
مستقیمه توګه د ژوانکو ویشل دي، څکه چې
دلته کروموزومونه د لیدلو وړ وي
Mitral د زړه دننه هغه پردې دي چې د کینې خوا
د اتریوم یا اذین او د وینتریکولوم یا بطین تر مینځ پورې
اړه لرونکي
Mitralinsuffecience د میترال پردې یا د میترال والونه
په پوره توګه یا مکمل ډول خپله دنده ښه سرته نشي
رسولای یا میټرال عدم کفایه
Mitralstenose د میترال د والوو تنګوالئ



www.ketabton.com

Mitralvulvus (Valva atriuoventricularis sinistra) دوه
څوکې يا دوه غاښه پردې يا بادبانونه چپ د کينې خوا اټريوم
يا اذين او د کينې خوا وينټريکولوم يا بطين تر مينځ شتون لري
mixtum (lat.) ګډوډ،څو شيان او يا جنسونه سره
يو ځای کول، د دو بيلابيلو نسلونو څخه نوئ پيدا شوئ نسل
Mixtum malum د ښه او بد يوځايوالئ
modiolus (lat.) په بايسکل کې، يو خالي يا جوف لرونکئ
محور لکه د غوږ په مينځنئ سيمه کې د حلزوني
هډوکي محور، موډيولوس کوښليا، وړه اندازه
Modiolus cochleae حلزوني ډوله جوړښت د غوږ
په دننه سيمه کې
modius پيمانه
molar د ميده کولو يا ځپلو غاښونه
molaris هر هغه څه چې ځپلو يا ميده کولو سره اړيکې لري
Dens molaris (lat. = Gr. Mylo-) د هر هغه څه چې
د ژامې غاښونو سره يا د ځپلو، ميده کولو غاښونو سره
اړيکې لري
mollis پوست، نرم
mono- (gr. Mónos) يوازينئ، يوازې، يوالئ
Monarthritis = Arthritis د يوه بند يا مفصل التهاب
Monarthrose کله چې يواځې يو بند په ارتروز اخته
او يا يو بند يا مفصل له ناروغۍ سره مخامخ وي
Monartikulaer په هغه څه سره چې يواځې يو بند
يا مفصل مخامخ وي
Monobrachie د زېږون له وخته يا په کانجينيتال ډول
د يوه لاس لرونکئ يا د يوه لاس څښتن
Monochrom د يوه رنګ لرونکئ، يو رنګيز
Monokular د يوې سترګې لرونکي



www.ketabton.com

Mononeuritis يوازې د يوه عصب التهاب

Monoparese يواځې د يوه اکسټريميټيټ فلج ته وايي
اما ځينې په دې نظر دي چې ا دا په مکمله توګه فلج نده
بلکې د عضلاتو د پرمختللې ناتواني او کمزوري پايلې ښـي ده

Monophobie له يوازيتوب څخه ويره، ډاريدل

Monopie يوه سترګيزه،د زېږون له وخته ديوې
سترګې شتوالئ

Monoplegie د يوه اکسټريميټيټ لکه د يوه لاس
يا پښې فلج ته وايي

Monorchie يواځې د يوه خصيې شتون د خصيې
په کڅوړه کې

mons, montis (lat.) مونز يوه لاتينه کلمه ده چې د غره
معنی ورکوي لکه مونز پوبيز

Mons pubis

Morbiditaet (lat. Morbidus) د لاتينې کلمې موربيډوز چې
ناروغ معنی لري اخستلې شوي او د ناروغۍ نوعيت
څرګندوي يعنې د يوې ناروغۍ د پېښو د شمېر اندازه
د يوې ځانګړې ناروغۍ له کبله په يوه ځانګړي وخت يا
زمان کې د وګړو د شمېر په تناسب ته وايي يعنې په
مقايسه د مورټاليټيټ

Morbilli (lat. Morbus) = Masern له لاتينې کلمې وړوکي
يا ناچيزه موربوز چې ناروغي نومولە شوې ده اخستلې
شوې چې ورته نوم يي مازيرن هم ښودل شوئ

Morbus (lat. Morbus) ناروغي، مريضي

morbus gravis ډېره سخته ناروغي



www.ketabton.com

Morphologie (gr. Morphé) ،Anatomie; له یونانی کلمې
مورف څخه چې جوړښت، شکل، فورم معنی لري اخستلې
شوې ده او مورفولوژي هغه پوهه یا علم ده چې د ژوي یا دې
ژوندي موجود له جوړښت، شکل، هیکل او فورم څېړي یا ترې
بحث کوي د بېلکې په توګه اناتومي

polymorph ډېر ډوله یا بیلابیل جوړښتونه، شکلونه

amorph بې ډوله، بې شکله، د ځانګړي جوړښت
نه درلودل

mors, mortis (lat.) مړینه، مرګ

1. M. subita نابېره مړینه، دفعتاً مړینه
2. M. ante mortem مخکې له مړینې
3. M. post mortem وروسته له مړینې

Mortalitaet, mortalitas د مړنې کچه، شمېر،مرګ ومیر

mortuus (lat. = gr. Nekro-) نکروز، مړینه،مرګ، له مینځه تلل

muko- (lat. Mucus) خراشکه، مخاط، بلغم

mukolytika (gr. Lytikòs) = Expektorance موکوز منحل
کوونکي، له مینځه وړل، ټوټه کوونکي

Mukorrhoe له حده زیات د موکوز یا خراشکې
بېلېدنه او بهر کېدل

Mukoes, mucosus له موکوز څخه ډک،مخاطي

mucusa د خراشکې جوړونکې پرده یا غشا
مخاطي غشا

Mukotympanon له موکوز څخه د یوې التهابي ناروغۍ
له امله د ټیمپانون د جوف ډکېدل

muliebris ښځینه

Morbus muliebris ښځینه ناروغي



www.ketabton.com

multi- (lat. Multus) ډیر شمیر هر هغه څه چې حساب
کېږي او هر هغه شیان چې ډیر زیات وي او نه حساب کېږي
multicellulaer د ډیرو ژوانکو لرونکي، په هغه
جوړښت کې چې ډېرې ژوانکې شتون ولري
Multipara د ډېرو ماشومانو زېږونکې یا هغه مور چې
دوه یا له هغه زیات ماشومان یي په ګېډه ګرځولي وي
یا دنیا ته راوړي وي

Mumps = Parotitis epidemica ده ډ غمبوړئ، کلچرک
د پاروټیټ د غدې التهاب

Musculi (Mm, lat.) د ډېرو یا جمعې کلمه ده چې ماهیچې
عضلې، عضلاتو ته وایي
Mm. = plorum. د جمعې معنی لري
musculus (Dim. lat. = gr. Myo-, myos) ماهیچه. عضله
Dim. = Diminativum له لاتینې کلمې اخستلې شوې چې
د لږ، وړوکي معنی لري
Musculus biceps د هغو عضلو دستې چې دوه ککرې
یا دوه سره لري
(-ceps ،Caput) سیپز د کلمې وروستۍ برخه ده چې
له کاپوټ څخه اخستلې شوې او ککرۍ یاکوپړۍ معنی ورکوي
Musculus genioglossus ( gr. Genio- ) زنه، زناخ
Glosso- = ژبه، زبان
Anatomie : mentum = زنه lingua = ژبه
جینیو یا ګینیو زنې او ګلوزوس ژبې ته ویل کېږي دواړه یوناني
کلمې دي اما برسېره په دې دغه کلمو ته په اناتومي کې
یا لاتینه ژبه کې مینتوم زنې اولینګوا ژبې ته ویل کېږي
Musculus levator ani



www.ketabton.com

Musculus pectoralis major د ټټر یا صدر پر مخ پرته لویه عضله، ځینې عوام خلک ورته ځوړ، د ځوړ غوښه هم ورته وای

Musculus sphincter anie

Musculus omohoideus

Musculus opponenMusculus quadriceps

Musculus triceps هغه عضله چې درې سرونه یا ککرې لري په دې ډول چې په خپل هر سر باندې د هډوکو په یوه برخه ټینګېږي

myo- (gr. Mýos =Maus) میو په یونانې ژبه کې ماهیچې عضلې ته وایي

Myalgie = Myodynie د عضلو درد په سیمیزه او یا ټولیزه توګه چې تر ډېره حده له میالګیلوز سره یوځای وي

Myasthenie د عضلې د قوت، توانایی لږوالئ، کمزوري چې د عضلې د عصب د ستونځو له کبله مینځ ته راځي

my (gr. Mys = عضله

a- = نشتوالئ

sthen = قدرت، اتلوالي، قوت،توانایي

-ie = i د کلمې دې پای ټکي

Myatrophie میاټروفي چې لغوي معنی یې د عضلې د تغذې نشتوالئ یا لږوالئ یا سوئتغذي ته ویل شوي ده اما په طبابت کې میاټروفي د عضلې د اندازې او حجم یا ډبلوالي لږوالئ ښودل شوئ یا لیکل شوئ دئ

Myadriasis د سترګو د تور،لېمو، مردمک چشم پراخوالئ

Myadriatikum هغه مواد یا درمل چې د سترګو د لېمو د پراخوالی دنده ترسره کوي، د سترګو د لېمو پراخوونکې مواد یا درمل



www.ketabton.com

myelo- (gre. Myelós = lat. Medulla = Mark) نښه
نښاني، مارک، حرام مغز
Myelitis د حرام مغز، خړ مغز، شوکي نخا التهاب
او یا د هډوکي د مغز التهاب

Myeloblast یو نه پوخ شوئ یا نه رسیدلئ
د هډوکو مغز،هغه وخت چې د هډوکې مغز خپلې
اخریني مرحلې ته نوي رسیدلئ
myelo- = د هډوکي مغز
blast = ځوانې ژوانکې، نه رسیدلې ژوانکې
Myelocyt د هډوکي د مغز ژوانکه
Myelodysplasie د زېږون له وخته د شوکي نخاع
انومالي، غلطه وده
Myelographie د کانترستي موادو په مرسته
د شوکي نخاع ښودنه په رادیولوژۍ عکس، کلیشه کې
Myelomalazie په غیر طبعي توګه د شوکي نخاع
پوستوالئ، نرموالی
Myelopathie د شوکي نخاع، حرام مغز ناروغۍ او
یا د هډوکو د مغز ناروغۍ

myko- , myco- (gr. Mýkes) قارچ، پووپنکې، الجي، فنجاي
Mykologie د فنجایي ناروغیو څېړنه، پېژاندنه
Mykose مېکوز د یوې ناروغۍ هغه حالت څرګندوي
چې دې مېکوزي مکروب یا انفیکشن له کبله پېښېږي
Mykotik Balanitis د کلیتوریدیسز، پینیز التهاب
چې لامل یې مېکوز وي
Mykotoxin د مېکوز په مرسته یا واسطه زهري کېدل
مسموم کېدلو ته وایي



www.ketabton.com

Mylo-(gr. = lat. Dens molaris) د ژامې غاښ، د ځپلو ژرنده کولو، میده کولو غاښ
Myodynie د بدن دې غوښو یا عضلاتو دردونه
Myokard د زړه دیوالونه چې له عضله جوړ شوي دي د زړه عضله
Myokardbiopsie د زړه دعضلې ځخه یوه ټوټه یا پارچه اخستل د تشخیصي څېړنو یا معایناتو لپاره
Myokardfibrose د زړه د عضلې د جوړښتونو مړینه چې په ځای یې فیبروز یا ریښو ته ورته جوړښتونه مینځ ته راځي یا په بل عبارت د زړه په عضلې کې د انټیرسټیشیال فیبروز ډېروالئ
Myokardinfarkt د عوامو په ژبه د زړه سکته په یوې نابېره یا دفعتاً توګه دزړه د هغې سیمې مړینه چې هغې سیمې ته د وینې د بهیر ستونځه پېښېږي یا وینه نشي رسېدلئ ځکه چې وینه آکسیجن لېږدوي صورت نیسي
Infarkt (lat. Infarcire) انفارکت له یوې لاتیني کلمې انفارکیر، انفارسیر څخه اخستلې شوې ده چې دننه دریدنه په دننه کې دریدل، توقف ته ویل کېږي چې د زړه په عضله کې سکته، احتشا
Myokardiopathie = Kardiomyopathie د زړه د عضلې ناروغی
Myokarditis د زړه د عضلې التهاب
Myokardnekrose د زړه د عضلې مړینه، ورستیدل له مینځه تلل
Myokardose د میوکارد یا د زړه د عضلې په حالت کې بدلونونه په دېس پروتئینمي کې
Myokardruptur د میوکارد چاودیدنه، د زړه دې عضلې چاودیدنه د تراوما یا نورو پیښو له کبله



www.ketabton.com

Myoklonus د عضلې رېږدېدل، لرزه، ارتعاش، تشنج ته وايي

Myom د عضلې يا د ميزينښېمال، ميزينشېمال يو ښه
يا سليم تومور يا پړسېدنه ده. مېوم په رحم کې
د مينستړوشن د ډېروالی او اوږدوالی لامل ګرځي
Myo- عضله
-om نوئ پيدا شوئ ، تومور، غده، پاړسوب، دانه
Tumor هر هغه نوی مينځ ته راغلی بدلون دې بده په يوه
غړي يا سيمه چې دې پاړسوب په ډول وي تومور بلل کېږي
Myomatose په رحم کې د ډېر شمير ميوم شتوالي ته
ويل کېږي يعنی د رحم عضله له ميوم څخه ډکه وي
Myometritis = syn. Endometritis د رحم د عضلې
التهاب ته ويل کېږي
Myometrium = syn. Uterus د رحم د عضلې د ديوال
طبقو ته ميوميتريوم وايي
Myopathie د عضلې پورې اړه لرونکې ناروغی

Myopie (gr. Myop) لنډ ليدنه، هغه څوک چې نږدې
شيان ويني او لرې نه ويني
Myorrhexis په عضله کې درز، چاود
myos- ميوز د کلمې هغه لومړی برخه ده چې
ماهيچه،عضله نومولې شوې ده
Myosakrom د عضلې بده دانه، د عضلې خبيثه دانه
Myosin منحل نه کيدونکي، دې ګلوبولين پورې
اړه لرونکي عضلي پروتين(چې تقريباً 60٪ دې ميوفيبريلين
وزن جوړوي)ويل کېږي
Myositis د يوې عضلې يا ډله ايزو عضلو يو التهابي
عکس العمل يا رياکشن ته وايي چې له يوې اکوټې
يا کرونيکې تګلارې سره مخامخ وي



www.ketabton.com

Myospasmus د عضلې تشنج، شخوالۍ
Myotrop د هرې هغې پېښې یا ناروغۍ چې
عضلې پورې اړه لرونکې وي
myxo- (gr. = lat. Mucus) خراشکه،مخاط، مخاطي مایع

## N

N. = Nervus(Nerv) عصب
Nn. (Nervi) Pl. د جمعې نښه ده یعنې اعصاب
Na. (Natrium) سودیوم
Nacl (Natriumchlorid) د خوړو مالګه
Naevus (lat.), Pl. Naevi د زېږون له وخته یا وروسته
مینځ ته راغلي د عوامو په ژبه خدائي خالونو ته وایي
nano- = mikro- هغه څه چې په سترګو نه لیدل کېږي
میکروسکوپي شیان
Nanomelie د کوم غړي یا اندام غیرنورمال ډېر وړکتوب
Nanosomie = Mikrosomie لږ وده لکه ماشوم پاتېکېدل
د بدن وړکي پاتېکېدل
naris د پزې یا سپوږمو سورکي
nares, narium(im plural) پزه یا دې بویولو آله
یا اورګان نومول، د شامعې حس
Naso- Rhin-, Rhino- پوزه، پزه
Nasus = Rhin تنفس یا هوا اخستلو د لارې پیل،سپوږمې،پزه
Alae nasi(lat.) د پزې پردې یا وزرونه
Dorsum nasi (lat.) د پزې شاخواته
Limen nasi (lat.) د پزې پولې، سرحدات
navicula یوه نازکه ټوټه لکه زرورق، وړوکې بېړۍ، کشتۍ
navicularis هر هغه څه چې ناویکولا سره اړیکې لري
یا نویکولا ورسره مخامخ وي



www.ketabton.com

Os naviculare = Ossa tarsi — نازکه هډوکئ، ببړی ته ورته هډوکئ

nekro- (gr. Nekos = lat. Mortuus) — مړینه،مړه شوي له مینځه تللې

Nekropsie — د مړي یا جسد لیدنه، کالبد شکافي

Nekrose — په پتالوژیکه توګه د بدن د ژوانکو یا جوړښتونو مړینه یا له مینځه تلل او بدلدنونو ته چې په تحریکي ډول او نه پلان شوی توګه ترسره کېږي او تر بهرني اثر لاندې مینځ ته راځي نکروز وایي لکه سوځیدل توکسن او انفیکسیون چې دلته یوه افلامسیون یا دې التهابي پیښې شتون ضروري ده او په اپوپتوز کې بیا چې یوه فزیولوژیکه بڼه لري او د پروګرام له مخې دې ژوانکو مړینه ترسره کېږي تر څو د اورکانیزم مساوي انډول د ژوانکو د تقسیم او مړینې وساتل شي دغه دې اپوپتوز عملیه د فګوسیتوز دې ژوانکو په مرسته ترسره کېږي او کومه سیمیزه التهاب په کې کوم اثر نه لري

nekrotic — له مینځه تللې، مړه شوي

neo- (gr. Néos=neu=lat. Natus) — نوي، نوي زېږدلئ ماشوم

Neoblast — نوې مینځ ته راغلې ژوانکې چې د پېژاندنې وړ نه وي، غیر تفریقي ژوانکې

Neogenese — نوئ جوړشوئ، نوئ مینځ ته راغلئ

Neoplasie — د بدن له جوړښتونو یا تشیو څخه نوي جوړشوي جوړښتونه چې پخوا یا نورمال وه او یا خو هم یې شتون نه درلود لکه د پرهار درغولو لپاره د ګرانولیشن جوړښتونه یا ساختمانونه او لکه دانې یا تومورونه دي



www.ketabton.com

neonatal له زېږون څخه وروسته د هغو لومړيو ګړيو لحظو يا وخت ځرګندونه ښـي

Neonatalogie هغه پوهه ده چې دې

نوي زېږدلي ماشوم پيريود يا دوران تر څېړنې لاندې نيسـي او بحث ترې کوي او د ماشومانو د طب يوه برخ جوړوي

Neonatus نوئ زېږدلئ شوئ يا نړۍ ته راغلی ماشوم

Neoplasma د بدن له ژوانکو يا جوړښتونو څخه نوئ مينځ ته راغلئ شئ چې پخوا نورمال او يا يې شتون نه دردرلود لکه تومور

nephro- (gr. Nephrós = lat. Ren) بډوډي ، پوښتورړي ګرده ، کليه

Nephralgie د پښتورړو درد، د بډوډو درد

Nephrektomie د پډوډي د يوه لوي يا غټ تومور په شتون کې بايد د شونتيا په صورت يا امکان په صورت کې يو بډوډئ په مکمل ډول لري شي يا وويستل شي

Nephritis = Glomerulopathie; Pyelonephritis; Balkan-

Nephropathie د بډوډو يا پوښتورړو التهاب

Nephrocirrhose د بډودو سېرهوز، سېروز

د بډوډو ګونجوالئ، چين او چروک درلودل

nephrogen کوم شئ چې له بډوډي څخه سرچينه نيسـي، مينځ ته راځي يا له بډوډي څځه بهر کېږي

Nephrographie د راديوګرافی د وړانګو په مرسته د بډوډو دننه جوړښتونو او ورپېښـي شوېو ناروغيو ښودنه ښـکاره کول

Nephrolith د تيګې، تيګو يا ګاټو شتوالئ دبډوډي يا بډوډو په جوړښتونو يا پرانشيم کې

Nephrolithiasis د تيګې شتون په بډودي کې



www.ketabton.com

Nephrilithotomie = Nephrotomie دا د یوه جراحی عملیات
تګلاره یا پروسه ده چې د هغې په اساس د بډوډي تیګې
لري کوي یا ویستلې کېږي
Nephrologie د نیفرولوژي یا د بډوډو پېژاندنې
پوهه، هغه مسلک یا رشته ده چې د بډوډو دې دندې
او ناروغۍ د څرګندونې او پېژاندنې سره مصروف دي
یا اړیکې لري
Nephrom د بډوډي دانې یا تومور
د بډوډي کارسینوم،د بډوډي پاړسوب یا غټېدلو ته وایي
Nephropathie د بډوډو ناروغۍ
Nephropathie diabetic = diabetic Nephropathie = diabetic
Glomerulosklerose دې بډودو هغه ناروغۍ چې
د خوږې د ناروغۍ یا ډیابت د ناروغۍ له کبله چې ډیابیټیک
ګلومېرولوسکلیروز هم ورته وایي او دې دویمې ناروغۍ په
څیر یا ډول راڅرګندېږي یا مینځ ته راځي
Nephropexie د شونتیا یا امکان په صورت کې د یوه جراحي
عملیات په مرسته د بډوډي یا بډوډو ټینګول، تثبیت کول دهغه
په اناتومي سیمه یا موقعیت کې لکه نیفروپتوز او نور
Nephroptose د بډوډي ښکته کیدل یا ټیټیدل له خپل اصلي
یا اناتومیک ځاي څخه
Nephropyelolithotomie د بډوډي د دننه جوړښتونو پرانستل
یا شق کول د هغه د تیګې په سر د دې لپاره تر څو چې
د بډوډي او د بډوډي د کاسې یا حویظې تیګې لرې شي
Nephrorrhagie د بډوډي وینه ورکول یا خونریزي
Nephrorrhaphie د بډوډي ګنډل
Nephrose = nephrotic Syndrom د بډوډي غیر نورمال حالت
ته ویل کېږي



www.ketabton.com

Nephrotomie هغه پرانستنه چې یوازې د بډوډي د دننه
جوړښت یا پرانشیم پورې اړه لري، د بډوډي د دننه
جوړښت پرانستل
nephrotrop هر هغه څه یا ناروغۍ چې
د بډوډي پورې اړه لري یا ورسره مخامخ وي

N. = Nerv(lat. Nervus) عصب
Nerv motoric (Nerv efferent) هغه عصب چې
خوځوونکې دنده په غاړه لري لکه د موسکولوس خوځښتونه

Nerv sensoric (Nerv afferent) لکه د خوند یا مزې
او د لاړو یا لعابي غدو څخه موخه ده
Sensibilis (lat.) د عصب حساس والئ لکه د پوستکي
د جس یا لمس په وخت کې
Nn. = Nervi ( Nerven) اعصاب
Nerv system (anat. Systema nervosum) عصبي سیستم
Nerve vegetativ (lat. Vegere) ویجیټاټیف له یوې لاتیني
کلمې ویګیر چې ژوند ورکول،نوې یا تازه نیرو ورکولو ته وایي
خو په طبابت کې تر ډېره حده ویګیټاټیف نیرف سیستم
یا اوټونوم نیرف سیستم تر ډېره حده له یوه غیر ارادي، نابېره
بې خبره او په ناپوهۍ کې یوه عکس العمل یا ریاکشن سره،
چې برخلاف د انیمال نیرف سیستم عمل کوي ښودل شوئ
vegetative Nervsystem = autonome Nervensystem Reaktionen
Vegetation (lat. Vegetatio) ویګیټاشن له لاتیني
کلمې ویګیټاسیو څخه چې ژوندئ، ژوندي ساتل معنی
ورکوي خو په طبابت کې په اصل ودې، نمو، ډېرېدل، تکثر
ته وایي



www.ketabton.com

Nervus (lat) — نیروس، نیروز له لاتیني کلمې اخستله
شوې چې اعصاب معنی ورکوي

Nervus abducens ( VI) — دا شپږم عصب دئ

Nervus ascendens — د هر عصب هغه ځانګه چې
مخ بښکته پرته وي

Nervus frontalis (N. Ophthalmicus) — د فرانټالیز عصب
د اوفتالمیکوز د عصب څانګه ده چې دئ خپله بیا
د ټریګیمینوس د عصب لومړۍ غټه څانګه ده

Nervus recurrens — هر عصب د ریکورینس
یا بېرته ګرځېدونکې څانګه لري

Nervus trigeminus (V) — پینځم عصب دئ

neural — هغه څه چې عصب ورسره مخامخ یا اخته وي
یا ورپورې اړه لري

Neuralgie — عصبي درد

neuralgic — هعه څه چې عصبي درد سره اړیکې لري

Neurasthenie — د عصبي سیستم خستګي، کسالت

neuritic — هغه څه چې د اعصابو د التهاب له امله مینځ
ته راځي یا هغه ناخوالې چې لامل یې عصبي التهاب وي

neuritis — د اعصابو التهاب

neuro- (gr. Neúron = lat. Nervus, Nerv) — عصب، اعصاب

Neurochirurgie — عصبي جراحي

Neurocranium — د عصب جمجمعه، د سر کوپړۍ، دمغز کوپړۍ

Neurogen — کوم شئ یا هغه څه چې په عصب کې
مینځ ته راغلئ

Neurologie — هغه پوهه ده چې اعصاب او د اعصابو
ناروغۍ څېړي یا ورڅخه بحث کوي یا اعصاب پیژاندنه کوي

Neurom — د اعصابو پاړسوب یا دانه چې تر ډېره کچه
ښه،سلیم یا بې ضرره وي



www.ketabton.com

Neuromuskulaer هغه ناروغۍ چې اعصاب
او عضلې ورسره مخامخ یا مصاب کوي
Neuropathie = Polyneuropathie, Neuritis د اعصابو ناروغۍ
عصبي ناروغې چې ورته پولیناېروپاتي، ناېریټز هم وايي
Neuroradiologie د وړانګو یا رادیولوژۍ په مرسته
د عصبي سیستم د ناروغیو پېژاندنه او وروسته د هغو درملنه
Neurose د اعصابو ناروغه حالت په تېره په رواني او
یا رواني ټولنیزه یا اجتماعي ستونځو کې بې له دې چې
کومې اورګانیکې ناروغۍ وپېژاندلې شي یا شتوالۍ ولري
neurotic کله چې انسان د عصبي او یا رواني حالاتو
روغتیايي بدلونونو او ناخوالو سره لاس او ګریوان یا مخامخ وي
neurotoxic هر هغه شئ یا مواد لکه ځینې درمل
چې د عصب یا اعصابو د ژوبلیدنې لامل ګرځي
نایروټوکسیک بلل شوي
Neurotoxin عصبي زهري کېدل، هر هغه مواد
چې عصبي تسموم مینځ ته راوړي
neurotrop هغه څه چې په عصب اثر کوي
Neurovaskulaer هغه څه چې اعصاب او
د وینې رګونه اخته کوي، ککړ یا مصاب کوي یعنې
هغو ناروغیو سره چې اعصاب او د وینې رګونه مخامخ وي

Nodus غوټې، ګره، غدې
Nomen, Nominis, Name نوم، اسم
Nonus, novem (IX) د نه (9) عدد

Noradrinalin = Norepinephrin نورادرینالین هغه هورمون
دئ چې په بدن کې د بډوډي د پاسه غدې څخه توېږي
یا افراز کېږي او همدارنګه د کاټیکولامین له ډلې شمیرل کېږي



www.ketabton.com

normo- (lat. Norma = normal) نورمال، منظم، مرتب،بې زیانه
Normochrom له نورماله رنګه، نورمال رنګ شوي
Normochrom Erythrocyt د وینې سره ژوانکه
له نورمال یا اصلي رنګ سره، د وینې یوه سره ژوانکه چې
د نورمال هیموګلوبین لرونکې وي
Normochrom Anaemie د وینې هغه غربت
یا د وینې هغه لړوالئ، کمخوني شودنه کوي چې د یوه
نورمال هیموګلوبین درلودونکې وي
normotrop په نورماله، منظمه سیمه یا ټاټوبي کې

Nucha (lat.) پشت ګردن، څټ،د ورمېږه شا خوا

Nucleolus هستوي اجسام، د ژوانکې په مینځني سیمه
یا په هسته کې پراته جوړښتونه
Nucleolemma د هستې پرده، دهستې غشا
Nucleolus هستوي اجسام
Nucleus (lat.) دژوانکې هسته، د ژوانکې مینځني برخې
Nucleus د یو جسم هسته،د یو شي مینځني برخه یا سیمه
Nullipara هغې ښځې چې تراوسه یې هیڅ
ماشوم نه وی زېږولئ یا دنیا ته نه وي راوړئ

-para (lat. Parere) د کلمې هغه وروستۍ برخه ده
چې له لاتینې کلمې پاریر څخه اخستلې شوې
چې زیږونکې معنی ورکوي
uni- یو، یوه، هغه یوه لکه دا لاندې
Unipara یوه ښځه، کومې چې یا هغې چې
یوازې یو ماشوم زیږولئ یا دنیا ته راوړئ وي
primi- (lat. Primus) لومړئ، لومړنئ لکه دغه لاندې
Primipara لومړني زېږونکې ښځه یا مور



www.ketabton.com

multi- (lat. Multus) ډېر، زيات لکه دا لاندې
Multipara يوه ښځه چې دوه يا له دوه څخه
ډېر ماشومان يا بچيان نړي ته راوړي وي

nykt- (gr. Nýx) نيکت له يوناني ژبې نيکز يا نيکس
څخه اخستلې شوې چې شپه، شب نومېږي
Nykturie د شپې له خوا ډېر ادرار کول
Nymphomanie (gr.) = Hypersexualitaet د ښځو د شهواني
قوې يا شهوت ډېروالئ له مخالف جنس يا نارينه سره

# O

Obduktion (lat. Obdurare) مخ په وړاندې ښودل، مخ
په وړاندې رهبري کول، له مرکز يا مينځني سيمې څخه
چې موخه ترې تني يا بدن له محور څخه لرې کول، پريکول
دي همدارنګه کله ناکله ورته نومونه لکه سيکشن، اوټوبسي
هم پکارول شي
Obex, obicis (lat.) دا بيلابيلې معنی
Objektiv
obliquus مايل، کوږ، منحرف
occiput, occipitis (lat.) د سر يا کوپړي د څټ سيمه
چې د کوپړۍ شا ورمېږه سره اړيکې لري
octavus = octo- اتمه، د يو شي اتمه برخه
octo = VIII = د اته(8) عدد اصلي عدد، اساسي عدد
octavus = ترتيبي عدد

Oculo-, okulo-, ophthalmo- (gr. Ophthalmós = lat. Oculus)
سترګې، سترګه



www.ketabton.com

oculus (lat.) اوکولوس یوه لاتینه کلمه ده چې سترګې ته وايي
odeno- غاښ

odento- (gr. odús, odóntos) له یوناني کلمې څخه
اخستلې شوې چې موخه یا مقصد یې غاښ ده
Odentalgie = Odontodynie د غاښ درد
Odentitis د غاښ التهاب، هدف ترې د غاښ د ووریو
یا د غاښ د غوښې التهاب
Odentodynie د غاښ درد
Odentogen له غاښونو څخه مینځ ته راغلې ناروغۍ
Odentogenese د غاښ پر مختګ، د غاښ وده
Odentologie هغه علم دئ چې د غاښو ناروغۍ او
د هغو درملنه څېړي، د غاښو طب
Odentopathie د غاښ یا غاښونو ناروغۍ
odor, - oris د بویولو حس، د شامعې حس

-odynie د کلمې هغه وروستۍ برخه ده
چې درد، خوږ معنی ورکوي لکه دا لاندې
Gloss odynie د ژبې درد، درد زبان
Pleur odynie د پلایرا درد، پلورا درد
Om odynie

Oedem (gr. Oídema) = Hydrops پاړسوب، هغه درد
نه لرونکي او سور رنګ نه لرونکئ پاړسوب چې د بدن
په بیلابیلو ځایونو کې د ځینو ناروغیو له کبله د اوبو ته
ورته مایعاتو د تولیدنې له امله مینځ ته راځي
Kardial Oedem هغه پاړسوب چې د زړه
د ناروغي له کبله پېښېږي



www.ketabton.com

Oedematos پە ړولیزە توګه یا خپره شوې اوډیما
یا اوذیما پدې معنی چې پە ټول بدن کې د اوبو دې
ټولېدنو روږدوالئ

Oesophago- = Oesophagus (gr. Oísein لېږدونه، تېرونه
phágema خواړه، غذا د خوړو د لېږدونې لاره، د خوړو
د تیرونې لاره یا نل یه وایي چې له یوې یوناني کلمې
څخه اخستلې شوې ده
Oesophageal هغه څه چې د خوړو مرۍ یا نل ورسره
مخامخ وي
Oesophagektomie لرې کول یا پرې کول د اویزوفاګوز، اوزوفاګوز
Oesophagitis د خوړو د مرۍ د موکوز په سیمه
کې د لامیناپروپریا التهاب، تر ډېره حده د ریفلوکس
اویزوفاګیتیز له امله مینځ ته راځي ،د اوزوفاګوز التهاب
Oesophagodynie د اوزوفاګوز درد
Oesophagoenterostomie د جراحي عملیات په مرسته
د اوزوفاګوز نوې اړیکې له کولمو سره
Oesophagogastrostomi د جراحي عملیات په مرسته
د اوزوفاګوز او معدې تر مینځ نوې اړیکې جوړول
Oesophagographie د رادیو لوژي وړانګو په مرسته
د اوزوفاګوز ښودنه او د ناروغي پلټنه
Oesophagoileostomie د اوزوفاګوز نوې اړیکې له الیوم
سره د جراحي عملیات په مرسته
Oesophagojejunostomie اوپراتیفي نوې اړیکې یا یوځایوالئ
د اوزوفاګوز او دخالي کولمو یا
جیجونوم تر مینځ
Oesophagokolostomie د جراحي عملیات په مرسته
د اوزوفاګوز نوې اړیکې له کولون سره



www.ketabton.com

Oesophagopathie د خوړو تیرولو د لارې ناروغی

Oesophagoskopie د اندوسکوپ په مرسته د اوزوفاګاز لیدنه او پلټنه

Oesophagospasmus د اوزوفاګوز تشنج، شخوالئ یا د خوړو د تیرولو د لارې د عضلاتو شخوالئ یا کرمپ

Oesophagotomie په اوپراتیفي توګه د اوزوفاګوز پرانستل، خلاسول

Oesophagus(lat. ) اوزوفاګوز یوه لاتینه کلمه ده چې د خوړو یا غذایي موادو دتیریدنې، لېږدونې لاره معنی لري

Oesophagusatersie congenital په کانجینیتل ډول یا د زېږون له وخته د اوزوفاګوز یا د خوړو د لېږدولو د لارې بندښ یعني خواړه نه تیرېږي او بند پاتې کېږي

Oesophagusektasie, abnormale په غیر نورمال یا غیر اناتومیک ډول د اوزوفاګوز پراخوالئ ، پلنوالئ، د قطر پراخوالئ

Oesophaguskarcinom اوږد محاله التهاب د اوزوفاګوز کیداي شي چې لومړئ د چنګاښ یا سرطان سرچینه یا منشه وي او وروسته په سرطان واوړي

Oesophagusruptur د اوزوفاګوز په دیوال یا جدار کې چاودیدنه، د اوزوفاګوز چاودیدنه

Oesophagusstenose د خوړو د لېږدونې یا تیرونې د لارې یا اوزوفاګوز تنګوالئ

-oid or -id (gr. Eidés) اوئید یا اید د کلمې هغه وروستی برخه ده چې ورتوالئ، شباهت معنی ورکوي

Karzinoid کارسینوئید یعنی کانسر یا سرطان ته ورته،متشابه

Adenoid غوټو یا غدو ته ورتوالئ

Lymphoid لمف ته ورتوالئ



www.ketabton.com

okto (8)
okul ‏سترګه
okulo- /oculo- /ophthalmo- (gr. Ophthalmós = lat. Oculus)
‏سترګه
Okular ‏سترګې پورې اړه درلودل، سترګه
olecranon
olfactus
Sensus olfactus ‏د بویولو حس، د شامعې حس
‏لکه پزه، پوزه

oligo- (gr. Olígos) ‏لږ، وړوکئ، لږوالئ، لږکول یا کمول
Oligocysthaemie ‏د وینې د ژوانکو په شمېر کې
‏له حده ډېر لږوالئ، کموالئ
Oligodontie ‏د غاښونو په شمیر کې زښته زیات لږوالئ
Oligomenorrhoe ‏په ښځینه جنس کې په ندرت سره یا ډېر
‏لږ شانته د میاشتنۍ خونریزي پیښیدلو پروسې ته ویل کېږي
Oligurie ‏د متیازو یا ادرار په جوړیدنې کې لږوالئ
‏د ادرار په بهر کیدلو لږوالئ
-om, (gr. -oma, -omat) = Tumor) ‏د یوې یوناني کلمې
‏وروستۍ برخه ده چې پاړسوب، دانه، نوئ جوړشوئ یا
‏نوئ پیدا شوئ جوړښت، تومور ته وایي
Angiom ‏د وینې په رګونو کې دانه یا نوئ مینځ
‏ته راغلئ جوړښت
Chondrom ‏د غضروفو ښه، بې ضرره(سلیم) دانه، تومور
Hepatom ‏د لړمانه خبیثه دانه، د ینې سرطان
Myom ‏میوم یو بې زیانه د عضلو پاړسوب یا دانه
‏ده، میوم په یوټیروس کې کولای شي د میاشتنۍ
‏وینې بهیدنې او د هغې د غیر نورماله زیاتوالی لامل وي



www.ketabton.com

Omentopixie د اومینتوم ټینګوالی یا تثبیتول
Omentum (lat. Epiploo-) اومینتوم له یوې لاتینې
کلمې اپیپلوو څخه اخستلې شوې ده چې جال یا جالۍ لکه
د کبانو د نیولو جال معنی ورکوي
omo-(gr. Omos ) ولئ، شانه
Omodynie, Omalgia = Periarthropathia humeroscapularis
د ولۍ درد
Omohyoideus
Musculus omohyoideus
omphalo- ( gr. = lat. Umbilicus) د نامه غوټۍ، ناف

onko- (gr. Ónkos) پاړسوب، تورم
Onkogen پاړسوب زیږوونکئ، پاړسوب مینځ
ته راوړونکئ، پاړسوب په څنګ کې لروونکئ
Onkologie اونکولوړي یا اونکولوژي د دنني طب یا داخلې
یوه برخه ده چې د دانو یا پاړسوب، تومور د مینځ ته راتګ او
د هغو له کبله پیښې شوې ناروغیو څیړنه او یایې پلټنه کوي

onycho- (gr. Onychos = lat. unguis) نوک، نوکان، ناخن
Onychitis د نوک یا نوکانو د بستر التهاب
Onycholyse د نوک یا نوکانو د ټوټه کول، منحل کول
Onychomalazie د نوک یا نوکانو خوړینیدل، نرمیدل
Onychomykose نوکانو ته د پوپنکو له کبله رامینځ
ته شوې ناروغۍ
Onychophagie د نوکانو خوړل

oo- = ovo- (gr. Oón = lat. Ovum) هګۍ، تخم
Oocyt / Ovocyt د سپرموزوم زایګوټ، د هګۍ ژوانکې



www.ketabton.com

Oogenese / Ovogenese د هګۍ د ژوانکو پرمختګ
د پخیدلو یا رسیدلو په لور
Oophorektomie د هګۍ لرې کول
Oophoritis د هګۍ ساتونکې یا تخمدان التهاب
البته چې دلته هدف ورڅخه په ښځینه جنس کې د جنسي غړو له ډلې، جملې څخه شمېرل کېږي
oophoro- (gr. Oophóros = lat. Ovarium) تخمدان
op,ops, opt (gr.) Óps = سترګه, ópsis = لیدل، کتنه
له یونانی کلمې څخه چې سترګه، لیدنه نومول شوې
ده اخستلې شوې
Operabel د جراحي عملیات وړ، په قصدي توګه
د یوه جراحي عملیات په مرسته درملنه
Operation (lat. Operari , Operatio) اوپیریشن
له لاتینې کلمې اوپیریري یا اوپیراسیو څخه چې کارکول او
دې طبي سامانونو یا آلو په مرسته یو کار د درملنې لپاره
سرته رسول نومېږي اخستلې شوي
septic مکروبي، ناولتیا، چټل
transurethrale د ادرار له لارې یا د احلیل
له مینځه تېرېدلو له لارې
ophthalmo- (gr. Ophthalmòs =lat. Oculus سترګه)
Ophthalmie (gr. Ophthalmìa ) د سترګې یا سترګو
ناروغۍ لکه د سترګو التهاب
Ophthalmologie هغه پوه یا علم دئ چې سترګه
یا سترګې تر څېړنې لاندې نیسي،د سترګو طب
ophthalmologic هغه څه چې سترګې پورې اړه لري
Ophthalmopathie د سترګو ناروغۍ
Opthalmoplegie د سترګو د عضلاتو د دندې سرته
رسولو کې سستي یا فلج



www.ketabton.com

Ophthalmoskopie — د یوې الې په مرسته د سرګو کتنه، لیدنه

-opie, -opsie = optik — لیدنه ، کتنه

An opie — د سترګې د دندې له لاسه ورکول یا ړندوالئ

Hemi an opie — د یوې خوا ړوندوالئ، کله چې یوه سترګه ړنده وي

Nekropsie — د مړي یا جسد لیدنه

opponens (musculus) — د عضلاتو مقابل، متضاد قرار درلودل برخلاف عمل کول لکه دغه لاندې عضله

Musculus opponens — هغه عضله چې د یوه عمل برخلاف دنده تر سره کوي

Optik ،opt — لیدل، کتل د هغې پوهې څخه بحث کېږي چې وړانګې، رڼا، روښانې څېړي

Nervus opticus — د لیدلو عصب (د دماغ دویم عصب) ته وایي

Optometrie — اوپتومیتري دې سترګو خاصې ستونځې اندازه کوي یا د لید اندازه کولو ته وایي

oral (lat. Oris ) — هغه څه چې خوله، دهن ورسره مخامخ وي، ورپورې اړه لري

aboral — هغه څه یا شئ چې له خولې څخه لرې پراته وي یا لرې واټن ولري

orbita (lat.) — د سترګو کاسې

orbitalis — کوم شیان چې دسترګو پورې اړه لري

Septum orbitale — د سترګو د کاسو تر مینځ پرته پرده یا بېلونکئ دیوال

Orbitafraktur — د سترګو دکاسې د هډوکو یا دیوال ماتیدنه



www.ketabton.com

orbital هغه څه چې د سترګو کاسې پورې اړه لري
Orchialgie د خوټو، خصیوو یا ټیسټیز درد

orcho-/ orchi- ،orchio- / orchido- (gr. Órchis, órchios = lat. Testis) خوټې، ټیسټیز
Orchiektomie/ Orchiektomie, Testis = د تیستیز لرې کول
د تیستیز پریکول، لرې کول
Orchidopexie/ Orchipexie د جراحي عملیات په مرسته د
تیستیز ټینګول د تیستیز په کڅوړه کې
Orchitis = Didymitis د تیستیز التهاب
Organ(gr. Órganon) د کار کولو وسایل،د بدن هغه برخې
یا غړي چې ځانګړي دندې په غاړه لري
organell وړوکئ غړئ یا وړوکئ اورګان لکه
میټوښاندریون یا میټوخاندریون
Mitochondrion
Organismus په یوه ژوندي بدن یا جسم کې
د اورګانونو یا غړو ټولیزه سیستم یا مکمل سیستم ته وایي

Origo (lat.) ټبر، نسب،اصل
oropharyngeal هغه شیانو سره چې خوله او ستونئ
یا حلق مخامخ کېږي

ortho- (gr. Orthòs) سیخه،راست،مستقیم،ریښتینئ، صحیح
Orthodontie غاښو ریښتینئ یا طبعي
اناتومیک جوړښت، صحیح موقف ، د غاښو ریښتینئ
جوړښت لکه د هغوي شکل، کوړوالئ او داسئ نور یا په
بې ځایه سیمه کې شتون ونلري



www.ketabton.com

Orthopaedie (gr. Paideía) پیدیا پالل شوئ

ماشوم نومول شوئ خو اورتوپیدي له یوناني کلمې پیډیا
څخه چې ماشوم ته وایي او اورټا چې د کلمې هغه برخه
ده چې د سیخې، مستقیمې معنی لري خو په طبابت
کې هغه تخصصي برخه ده چې د ماشوم ټول حالت
له جوړښته تر ناروغۍ د زیږون له وخته یا په کسبي توګه
تر لاسه کړې وي او د هډوکو د شکل، دندې د ساتنې
او خوځښتي غړي چې هدف ترې هډوکي دي څېړنې
او پیژاندنې ته وایي یعنی هغه پوهه یا علم ده چې دهډوکو
د جوړښت، شکل، خوځښتونو او د دندې ستونځې،لړوالئ

Orthopnoe د ډیرې پرمختللي ساه لنډئ یادیسپنې

حالت ته وایي چې یواځې په هغه ناسته چې سیخه
یا مستقیمه وي یعنی نیمایي پورتنۍ تنه لوړه قرار ولري
ګټوره یایي اسانئ یا سهولت کېږي

Orthostase د انسان د تنې یا بدن دریدل

یا قرار په سیخه یا مستقیمه توګه

Os, oris (lat. = gr. Stomato-, stomacho- خوله، دهان

پرانستل، خلاصول اوس یا اورز یوه لاتینه کلمه ده چې
نسبتي یا ګینیتیف حالت یې اوریز ده چې خوله، مخ
سترګې نومول شوي

( pl. Ora, orum!) د خولې جمعه

**پاملرنه** : اورا سیراتا «غاښ لرونکې یا دندانه لرونکې
خنډې» نومېږي چې دا اورا، اورم له خنډې یا لبه څخه
اخستلي شوي چې باید له اوس ، اورس څخه وپېژاندل شي

Rima oris د خولې درز، چاودونه، چاک، شکاف



www.ketabton.com

os, ossis, osseus (lat.) هډوکي
Carpus ossis pubis د پوبيز د هډوکي تنه، جسم
Os coccygis لنګوچۍ، دنبالچه
Os coxae د خاصرې د لګن یا د حوصلې د هډوکۍ یا هډوکي
Os cuboideum = Ossa tarsi
Os femoris د ورانه هډوکۍ
Os frontale د ټنډې یا تندي هډوکۍ
Os hamatum = Ossa capri چنګک ډوله هډوکۍ
Os ilium
Os ischii
Os lunatum
Os metacarpi
Os nasale د پزې یا پوزې هډوکۍ
Os aviculare
Os occipitale د سردکوپړۍ د شا یا څټ هډوکۍ
Os prietale
Os pisiforme
Os pubis
Os sacrum
Os hydoideum
Os naviculare
Os spenoidale
Os temporale
Ossa cranii
-ose/-osis دا لغت د کلمې وروستۍ برخه یا پساوند او همدارنګه د یوه حالت ښودونه او څرګندونه ښي
Dermatose د بدن د پوستکي حالت، یو ابنارمل یا غیرنارمل حالت د بدن د پوستکي ښي



www.ketabton.com

Ossa (pl.) اوسا، اوزا د هډوکي جمع یا هډوکو ته وایي
ossal هغه څه سره چې هډوکي مخامخ وي
ossiculum (lat. ) اوزیکولوم یا اوسیکولوم یوه لاتینه کلمه ده چې واړه هډوکي نومېږي
Ossicula auditus د غوږ یا اورېدلو واړه هډوکي
Os longum اوږده هډوکي، د هډوکي اوږدوالئ
osseo-/ osteo-/ osto-(gr. Ostéon, lat. Os, ossis) هډوکي
ossification د هډوکو یوځایوالئ، نږدې والئ، سره غوټې کېدل، هډوکي جوړېدنه، هډوکي کیدل
osteo- (gr. = lat. Os, ossis) اوستیو د یونانی کلمې هغه لومړئ برخه ده چې هډوکي نومول شوې
Osteoblast هغه ژوانکې چې هډوکي جوړونکي دي یا د هډوکېو د جوړولو دنده په غاړه لري
Osteoblastom د ځوانو هډوکو جوړونکې ژوانکو تومور یا پاړسوب چې تر ډېره حده کلک او ټینګ وي
Osteochondritis د هډوکو او غضروفو التهاب (ډیجینیراټیف پروسه)بلل شوې
Osteocyt د هډوکو ژوانکه
Osteodynie د هډوکو درد
Osteogen هغه څه چې له هډوکو څخه مینځ ته راځي
Osteogenese هډوکي جوړیدنه
Osteoid هډوکو ته ورته جوړښتونه، ساختمان
Osteoklast د هډوکو ماتوونکې یا تخریب کوونکې ژوانکې
Osteoklastom یو تېرئ کوونکئ،چپاولګره یا متجاوزه تومور چې د هډوکي د نلکې یا لولې په اوږدو کې د اپیفیز او میټافیز په برخه کې ځای پرځای کېږي چې د ډېر غټو ژوانکو لرونکي وي او په ندرت سره لېږدونه



www.ketabton.com

یا میټاستاز ورکوي ،په هډوکو کې د وینې د بهیر یا جریان د ستونځو له کبله د هډوکو جوړونکې کوونکې ژوانکې له مینځه ځي

Osteolytic د هډوکو د جوړښتونو تخریب کېدل
ټوټه کول، حل کېدلو ته وایي چې د هډوکو د لومړني یا دویمي یا ثانوي تومورونو یا التهابونو له کبله پېښېږي

Osteologie هډوکي پیژاندنه، هغه پوهه ده چې
د هډوکو د جوړښتونو، ناروغیو او د هډوکو درملنې څخه بحث کوي

Osteom یو ښه یا بې زیانه، سلیم پاړسوب، دانه
تومور د هډوکي له پخو یا رسېدلو جوړښتونو او د هغه له مغز څخه، د هډوکو سلیم تومور

Osteomalazie د هډوکو خوړینوالي یا نرموالي ته
وایي چې د هډوکو د کلسیوم یا فاسفاټ د لږوالي له کبله مینځ ته راځي هډوکو خوړینوالئ، نرموالئ

Osteomyelitis (Ostitis, Periostitis) د هډوکو
د مغز التهاب ته اوستیومیالیتز ویل کېږي چې تر ډېره حده د هډوکو له التهاب سره لکه اوسټیټیز، پېریاوسټیټیز یوځای وي

Osteomyelofibroe اوسټیومیالوفیبروز چې ورته
نومونه یې اوسټیومیالوسکلیروز میالوپرولیفیراټیف سندروم چې دې هډوکو د مغزله فیبروز یا ریښې ډوله جوړښتونه سکلیروز او اکسترامېډولار وینې جوړونې سره یوځای وي

Osteopathie د هډوکو ناروغۍ

Osteoporose د هډوکو د سیستم هغه ناروغي ده
چې د هډوکو د جوړښتونو لږوالئ او په کلیشه یا راډیګرافۍ کې لکه د غومبسو جاله یا خانه زنبور یا له هغه څخه ډېر هم لږوالئ چې دپورې اړه لري چې ناروغۍ خومره پر مختګ لري او همدارنګه د ماتېدلو د شونتیا ډېروالئ په کې لېدل کېږي



www.ketabton.com

Osteosarkom پە یوە لوړە کچە د هډوکي بدە دانە
یا مالیګنانټ، د هډوکو تومور چې ډېر پە چټکۍ سرە
پە انټرامېډولر یا د هډوکي پە دننە کې او همدارنګه
لرې لېږدېدونه یا میټاستاز کوي

Osteosynthese (gr. Osteosyntheois) د جراحي عملیات
پە مرستە د ماتو شویو هډوکو د پارچو سرە یوځای کولو
تە وایي

Osteotomie د هډوکي پرانستل، پە اوږدو کې سرە بیلول

Ostitis د هډوکي التهاب

ostium (lat. ) د ننوتلو لارە، یوە خولە لە بلې سرە نښتې، یو
سورکۍ لە بل سورکي سرە مخامخ نښتئ لکە دغە لاندنې

Ostium ureteris د هغې سیمې تە وایي چې
د ادرار دلارې یا حالب د پاي خولە یا سیمە لە مثانې
سرە نښتې وي

Ostium uteri د رحم بهرنۍ یا باندنۍ سیمە یا خولە

oto- (gr. Ús, otós = lat. Auris) غوږ ، ګوش

otogen هر هغە څە یا ناخوالې چې د غوږ څخە
سرچینە نیسي لکە سرګنګسي

Otalgie = Otodynie د غوږونو درد، د غوږونو خوږېدل

Otitis د غوږونو التهاب، پە تیرە د غوږ د مینځ التهاب
چې اوټیټس میډیا

Otitis media د غوږ د مینځني برخې التهاب

otogen هغە څە چې لە غوږ څخە پیل کېږي
لکە درد چې لە غوږ څخە پیل او نورو خواو تە خوځېږي

Otoskopie د یوې ځانګړې الې یا اوټوسکوپ پە مرستە
د غوږ دبهرنۍ لارې او د هغە د منځنۍ برخې
د پردې لیدنە، کتنە



www.ketabton.com

ototoxic غوږ ته د زيان رسيدل، د غوږ ژوبليدنه(د درملو د تر څنګ يا جانبي ناخوالو اثرونو له کبله)مينځ ته راځي

Ov-; Ovo- (lat. Ovum; ovulum) او- همدارنګه اوو- د کلمې هغه لومړئ برخې دي چې له لاتينې کلمې 1. يا لومړئ اووم او 2. يا دوهم وړکی يا کوچنی هګي يا د هګی ژوانکې نومول شوې دي

Ovar (lat. Ovarium) اووار له لاتينې کلمې اوواريوم څخه چې تخمدان ته وايي اخستلې شوې ده

Ovarektomie د يوه جراحي عمليات په مرسته د يوې خوا(سيمی کاستېرېشن) او يا دواړو خواو د اووم(کاستېرېشن)د پتالوزيکو بدلونو له کبله لکه کيستونه تومور او يا خو هم د هورمونو د دننی دندو د عکسل العمل له، کبله مينځ ته راغلې پيښو کې د اووم لرې کول

Ovarial هغه څه چې د اووم يا تخمدان پورې اړه لري

Ovarialabscess = syn. Pyovar د زويو يا قيح د ټولېدنه د اووريال له جوړښتونو څخه د هيماټوګين له لارې او يا خو (په سيخه توګه يا مستقيماً(مخ پورته تګ اويالېردېدنې مکروبونو له کبله لکه په سالپينګيتيز، پيلويوپيريټونيټيز اپنډيسيټيز

Ovarialcyst د کيست يا تناکې شتوالئ په اووم کې

Ovarialgie د اووم د ناروغی له کبله مينځ ته راغلي دردونه

Ovarialgraviditaet = syn. Extrauteringraviditaet په اووم کې د حمل شتوالئ چې تر ډېره حده د شپږو او اوو اونيو تر مينځ اووم يا تخمدان چاودېدنه پيښېږي چې کلينيک ئي اکوټ ابدومن دئ

Ovarialhormone په اووم کې جوړيدونکي هورمونونه لکه اويستروګين، اويستروجن او ګيستاګين يا پروجيستيرون همدارنګه په ډېر لږ مقدار اندروګين يا نارينه هورمون



www.ketabton.com

Ovarialkarcinom د اووم یا تخمدان سرطاني ناروغۍ
Ovarialinsufficience د اووم د دندې ناتواني یا د دندې
دښه سرته نه رسولو کمزوري
Ovariotomie په اووم کې یوه پرېکونه، یو شق
ovarium(lat.) تخمدان
Ovocyt په ښځینه جنس کې د هګۍ ژوانکې
ovulatoric = syn. ovulation هر هغه څه یا ستونځو
سره چې اوولېسیون یا اوولېشن مخامخ وي
ovum تخمدان، په ښځینه جنس کې د نسل
د بقا لپاره د هګیو د ساتنې کټو یا کاسه

## P

pachy- (gr. Pachys) غټ، پرېړ، ډبلوالئ البته
د حجم له مخې، کلک ټینګ
Pachydaktylie د لاسو او پښو د ګوتو پرېړوالئ
ډبلوالئ، غټوالئ
Pachydermie = syn. Elephantiasis دزېږون
له وخته د بدن د پوستکئ دې ټولو طبقو ډبلوالئ، پرېړوالئ
Pachyonychie د نوکانو پرېړوالئ، ډبلوالئ

paedo- (gr. País, paidós) ماشوم
Paediatrie د ماشومانو طب، د ماشومانو دناروغۍ
دې درملنې پېژاندنه
-iatrie درملنه پیژاندنه، طب
Paedologie هغه علم دئ چې د ماشوم
له فزیکي، رواني پرمختګ او همدارنګه دهغه د ودې
او بدلونونو له نیټو څخه بحث کوي



www.ketabton.com

Paedophilie ماشومانو سره مینه کول یا د ماشوم
په لور د جنسي مناسبتونو تمایل البته چې دا په هغه
نارینه جنس کې چې د هېترو (مخالف) او یا هوموسیکسوال
شهوانی غریضې ډېروالئ شتون لري ده چې په ښځینه
جنس کې نادر وي

palato- (lat. Palatum) تالو، کام، په خوله کې
د پاسنئ ژامې دننه یا خولې لور ته

Palatinal هغه څه چې تالو یا کام پورې اړه لري

Palatochisis تالو په اوږدو کې په دوو برخو ویشل

Palatodynie د تالو، کام یا پلاټو درد

palatoglossus ژبه او تالو

Musculus palatoglossus د ژبې او تالو عضلې

(glosso-, glotto- ) ژبه

palatum (lat.) تالو یا کام

Palma (lat.) د لاس ورغوئ، کف دست

Palmar د لاس ورغوئ یا کف دست پورې
هر هغه څه چې اړه لري

dorsal هغه څه چې د لاس د شا سیمې پورې اړه لرونکئ

Palmarflexion د لاس د ورغوي ټولیدنه یا قاتېدل
د ورغوي خواته

Plantar د پښې د تلې خوا، کف پا

dorsal د پښې د شا یا بهر خوا

Palpatio, palpationis په لاسونو سره تماس،لمس، جس کول

Palpebra (lat. = gr. Blepharo-) د سترګو پلکې، پلک چشم

Levator palpabrae هغه عضله چې د سترګې
یا سترګو پورتنۍ پلکې دلوړولو یا پورته کولو دنده په غاړه لري
(Levator) پورته کوونکي، لوړونکي



www.ketabton.com

Rima palpebrarum د لاندنی او پاسنی پلکو
تر مینځ درزو چاود، د سترګو د کنج درزونه

pan- (gr. Pás, pán) ډلیزه، ټوله، ټول شیان
panalgesie درد په ټول بدن کې، د ټول ځان خوږیدل
Pankarditis د زړه د دیوال د ټولو طبقو التهاب ته وایي
Pancreas (lat.)/-pankreas/pankreato-(gr. Pánkreas, pankréatos)
د ګېډې یا ابدومن هورمون تویوونکې یا افرازي غده چې دغه
غده په ورځ کې تقریباً یو لیتر د ګیډې افرازات ، د پانکریس د
لارې یا دوکتوس پانکریاتیکوس څخه ډوډینوم کولمو ته لېږدوي
Pancytopenie په وینه کې د ژوانکو د ټولو ډولونو لږوالئ
Pankreasabscess د پانکریاس به غده کې د چرک، ځویو
ټولیدنه په یوه راټوله شوې سیمه کې یعنې یو سرحد لري
Abscess (lat. Abscessus) د چرک، ځویو، قیح
ټولیدنه ، یوځایوالئ
Pankreasfibrose د پانکریاس اصلي پرانشیوم له مینّځه
ځي چې د پانکریاس د سیرهوز په ځای پانکریاس
فیبروز پکارول کېږي
Pankreasinsufficience د پانکریاس د غدې دې
دندې ستونځې او ناخوالې
Pankreaskarcinom تقریباً یو پر ځلورمه برخه د هغو
ناروغانو سره چې اوږدمحاله پانکریاتیتز لري وروسته
د پانکریاس د غدې په سرطان پیژاندل کېږي(اکتیر یا زېړئ
د ډیر وزن له لاسه ورکول کیداي شي چې سړئ د پانکریاس
د غدې کارسینوم یاسرطان په اشتباه واچوي یا په شک
واچوي ویل کېږي
Pankreasnekrose د پانکریاس د غدې د جوړښتونو مړینه
له مینځه تلل



www.ketabton.com

Necrose (gr. Nekrós) مړئ، له مینځه تلل، جسد

Pankreascirrhose د پانکریاس د غدې د اوږدمحاله التهابي ناروغۍ له کبله د هغې په طبعي جوړښتونو کې بدلونونه مینځ ته راځي

Pankreatalgie د پانکریاس د غدې درد، دردونه

Pankreatektomie د پانکریاس د غدې لرې کول یا ریزیکسیون یا ریزیکشن دې پارشیال یا یوې برخې سبټوټال او یا ټوټال یا ټولیزه یا مکمل ډول د پانکریاس د ناروغیو له کبله په تېره کارسینوم له امله البته د جراحي عملیات په مرسته

pankreatiko- د پانکریاس دې غدې نل یا لاره

Pankreatikographie د رادیو لوژۍ د وړانګو په مرسته د پانکریاس د غدې د لارې ښودنه او د هغې لیدنه

Pankreatitis د پانکریاس د غدې التهاب چې په لاندې ډولونو وېشل شوي دي

a- Acut Pankreatitis حاد پانکریاتیتز، دا د ناروغۍ یو سخت ډول دئ چې په نابېره توګه یا حاد ډول ناروغ د ډېر سخت درد څخه چې د کمربند صفت لرې شکایت کوي چې له کانګو او تبې سره یوځای وي

b- Chronic Pankreatitis الکول ابوزیس یا د الکولو څخه غلطه استفاده کولای شي چې د اوږدمحاله پانکریاتیتیز یا مزمن پانکریاتیتز اصلي لامل وګرځي او دې ناروغي اصلي څېره په کراره توګه ښودله کېږي ، نو د ناروغۍ د پیژاندنې یا دیاګنوز د اطمینان په خاطر باید سیمه د رادیولو ژیکو وړانګو په مرسته وښودله شي ( پانکریاتیکو ګرافي تر سره شي)

Pankreatoenterostomie د جراحي عملیات په مرسته د پانکریاس او د کولمو تر مینځ د یوې نوې لارې جوړونه یا یوه نوې اړیکه



www.ketabton.com

Pankreatopathie د پانکریاس ناروغۍ (د هضمیت ستونځې
یا له هضمیت څخه شکایت، نارامي لکه د ګېډې یا ابدومن
په مینځنۍ برخې کې چې کینې خواته متمایل وي
د درد شتوالئ)ته وایي
Pankreaticus (gr. Pànkreas; pàn; kreas) پانکریاس
له یونانی کلمې پینکریاس څخه چې له دو برخو پین یعنې
ټوله یا د ټولې لپاره او کریاس د غوښې معنی ورکوي
اخستلې شوې ده یعنې غوښینه غده
Ductus Pancreaticus د پانکریاس د غدې
چې له ډوکټوس خولیډوکوس سره یوځای د
پاپیلو ډیوډینو ماژور په مرسته له ډیوډینوم سره اړیکې پیدا کوي

Panmyelopathie په ټولیزه توګه د هډوکو د مغز
یا د ټول مغز ناروغۍ
Panophthelmie د ټولې سترګې، د ټولې لیمې، د سترګو
د تورو، مردمک چشم التهاب ته وایي
Panotitis = syn. Otitis media د ټول غوږ التهاب یعنې
د غوږ د مینځنۍ او دننۍ سیمې التهاب
Panphobie هغه ناروغي ده چې له ټولو شیانو
څخه ډاریدل څرګندوي
Pansinusitis = syn. Sinusitis (lat. sinus) د پزې د څنګونو
د ټولو سوریو التهاب

Papilla (lat.), Pl. Papillae پاپیلا زخې، د تیوو یا ثدیو څوکې
زخو ته ورته راجګې شوې جوړښت یا برجستګۍ ته وایي
Papilla duodeni major = Papilla Vateri دولس ګوتو
ته ورته کولمو برخه یا ډوډینوم لویه پاپیلا یا برجستګي
Papilla mammaria د تیوو څوکې



www.ketabton.com

par- = Para- (gr. parà) ځنګ، تر ځنګه

-para (lat. Parerе) د کلمې هغه وروستۍ برخه ده
چې له لاتینې کلمې پارير څخه چې زېږونکې
ماشوم زېږونکې ښځه نوموله شوې ده

Multipara هغه ښځه یا مور چې دوه
یا له هغه ډېر ماشومان یې زېږولي وي

Nullipara هغې ښځې ته ویل کېږي چې
تر اوسه یې هیڅ ماشوم نه وي زېږولئ

Primipara هغه ښځه چې خپل لومړنئ
ماشوم نړي ته راوړي يايې زېږوي

Unipara (uni = یو، یوه ته وايي )
هغې ښځې چې یو ماشوم یې زېږولئ یي

para- تر ځنګ، چارپېريال، شاوخوا، متناظر، موازي، هغه
څه چې په متناظر ډول د بل شي یا اورګان تر ځنګ
یا مقابل کې پروت وي

Paraartikulaer د بندونو یا مفصلونو تر ځنګ،بندونو شاوخوا

Parakardial د زړه تر ځنګ، د زړه شاوخوا

Paralyse په ټوليزه توګه یا مکمل ډول فلج
بې خوځښته، بې حرکته

Paramedian د بدن د مینځنۍ لیکې سره
په یوه سطحه کې یا موازي قرار درلودل

Parametritis (gr. Mètra, -itis) د یوټیروس یا رحم
تر ځنګ التهابات، د پارامیټریوم التهاب، تر ډېره حده په
حقیقت کې یو اندومیټریټیز چې په پای کې د یوې آبسې
مینځ ته راتګ په تېره بیا د فلیګمون جوړېدنه شونې ده

Parametrium د پریتوان لاندې پراته شتون
لرونکي جوړښتونه،چې د سیرویکس یوټېروس په ځنګو
کې راتاو کړئ یا چارپېره کړئ دئ یا دې یوټیروس یا رحم
پورې اړه لرونکي یا قرار درلودونکي جوړښتونه



www.ketabton.com

Paranephritis = syn. Eipnephritis د بډوډو تر څنګ
یا شاوخوا سیمو التهابات، تر ډېره حده هیماتوګین وي
اما همدارنګه له بډوډو یا پوښتورږو څخه یا یي د شاوخوا
پرتو اورګانو له التهاب څخه مینځ ته را ځي
Paraneuritis د نرف یا اعصابو تر څنګه
یا شاوخوا سیمو التهابات
Paraneural د عصب تر څنګ
Paranoia (gr. Parànoia) لیونتوب، جنون همدارنګه
تخیل، خو اوس ډېر نه پکارول کېږي
Paraestesie د حسیت، احساس نشتوالئ
Paraoesophageal خوړو د مرۍ یا میري تر څنګ
Pararenal د بډوډي تر څنګ
Parese نیمه ټولیزه یا نا مکمل ډول فلج، په
خوځښت یا ګرځیدو کې لږ شانته ستونځې

Parasit( gr. Parásiros) چې دې بل حیوان له بدن
یا وجود څخه ګټه پورته کول یا تغذیه کول، مفتخور، طفیلي
Parasitaemie د پرازیتو شتون په وینه کې د بېلګې په توګه
د پلازمودیوم شتوالئ په وینه کې د ملاریا په ناروغۍ کې
Parasitaer هغه څه چې له پرازیتو سره
مخامخ کېږي یا اړیکې لري
Parasitologie هغه پوه ده چې پرازیت تر خیړنې
لاندې نیسي او د درملنې لارې ئي لټوی
Parasitophobie ناروغۍ ډوله وېره او ډار له پرازیتو څخه
Parasternal د سترنوم تر څنګ
Parasympathikus د پاراسیمپاتیک عصبي سیستم
ئې هدف دئ
Parathyreogen هر هغه څه یا پېښې چې
دې جاغور تر څنګه غدو څخه مینځ ته راځي



www.ketabton.com

Parathyreoido- د جاغور د غدې یا تیروئید تر څنګ

Glandula parathyriodea superior د جاغور د غدې

دې څنګ د پورتنۍ برخې غدوات

Glandula parathyroidea inferior جاغور د غدې

د څنګ لاندنۍ برخې غدې، غدوات

Paratyphus = parathyphoid پاراټیفوس یا لویې تبې

ته ورته، محرقې ته ورته مکروبي یا انتاني ناروغي ده چې
د سلمونیلا انټیریکا سیرووار پاراټیفي اې، بې او ثې
(سالمونیلا ئي ورته نوم دئ) له کبله مینځ ته راځي

paravasal د وینې د رګونو ترڅنګ

paravenoes د ناپاکه وینې د رګونو یا تور رګ تر څنګ

paravertebral د ملا د مریو یا د ملا د تیر، د فقراتو
د ستون تر څنګ

paravesikal د مثانې تر څنګ

Parenchym پرانشیم هغه جوړښتونه دي چې د یوه غړي
یا اورګان دنده تر سره کول په غاړه لري

parenteral هر هغه څه چې د ګستروانتیستینال
له لارې نه تر سره کېږي، په دې معنی چې د سوبکوټان یا
تر پوستکي لاندې، انټراموسکولیر اویا انټراوینوز انجیکشن
په تېره انفیوژن لکه پاراینټیرال خواړه یا تغذیه ته ویل کېږي

parese (gr. Pàresis) د عضلې شخوالی یا د هغې دې

دندې ښه نه تر سره کیدل یا په نیمګړې توګه بې حسي اما
دا هیڅکله ټولیزه فلج نده بلکې د عضلې دې ډېر شخوالي
له کبله یو لینګئ لږ خوځښت لرې یا کولای شي

Monoparese د شوکي نخاُ یا حرامغز دې یوې

خوا ژوبلیدنې له کبله دې همغې ژوبلې شوې خوا دې
عضلاتو شخي مینځ ته راځي



www.ketabton.com

paretic نامکمله فلج( د عضلاتو شخي) ته وايي

Parkinson هغه ناروغي ده چې د بدن د غړو
یا اندامونو رېږدېدل یا لرزش پیل کېدل او د قوي یا
شدیدو خوځښتونو یا حرکتونو له ډېر کمښت سره پیل
کېږي هان تر دې چې له خوځښت څخه پاتې کېږي
Parodont د غاښ، غاښونو تر څنګ
Parodontitis د هغو شیانو التهاب ته وايي چې غاښ
ټینګوي یایي ټینګ ساتي لکه د غاښو ووری، بیره دندان
Parodontose د هغو جوړښتونو د ناروغی حالت څرګندوي
چې د غاښونو د ټینګې ساتنې دنده لري لکه ووری
Paronychie د نوکانو د شاوخوا دیوال التهاب
Parotitis epidemica, Mumps ډهډ غمبورئ، کله چرک، دا
د غوږ تر څنګه د پرتې تویوونکې یا افرازي غدې
یوه خپرېدوونکې ټولیزه یا عمومي اکوټه یا حاده
وېروسي ناروغي چې پیوجینیک یا چرک نلرونکئ
پاړسوب ښکاره کوي
Pars, partis : برخه، یوه برخه، ټوټه، پارچه
Pars ascendens مخ پورته پرته برخه، ټوټه، پارچه
Pars pylorica د معدې وروستی یا اخرینی،پیلور یا
د وتلو سیمه یا برخه

partheno- ځوانه ښځه
Partus زېږون، ولادت، زېږول، نقصان
Post partum وروسته له زېږون څخه
Sub partum د زېږون په وخت یا جریان کې
Parurethral هغه څه چې د احلیل سره موازي پروت وي
Parvus ټیټ، وړوکئ، کوچنئ



www.ketabton.com

Passage (france passer) پساژ له یوې فرانسوي کلمې
پسیر څخه چې دې یوه خالي یا مجوف اورګان له مینځ
څخه تیریدلو ته وایي لکه د ګسټروانټیسټینال پساژ
Patella (lat.) هغه هډوکئ دئ چې د زنګانه په مخه
کې پروت دئ، د زنګانه ځکولئ، عینک زانو
Patellafraktur د پټیلاد هډوکي یا عینک زانو د هډوکي ماتیدنه
Patellektomie د پټیلا دهډوکي لري کول

patho- (gr. Páthos ) له یوناني کلمې پیټوس څخه
چې ناروغی، ځوریدنه نومول شوې اخستلې شوې ده
Pathogen هغه څه یا لاملونه چې ناروغۍ مینځ ته راوړي
Pathogenese هغه څه چې د ناروغیو د پیښوو او
د هغوي پرمختګ چارپېروي یا د ناروغۍ په مینځ ته راتګ
او پرمختګ کې رول لوبوي
Pathologie د طبابت یوه برخه ده چې د هغه غیرنورمال
او ناروغۍ لرونکی حالت بدلونونو چې په انساني اورګانونو
په تېره بیا له ائتیولوژۍ یا لاملونو او پتوجینېز یا ناروغۍ او
د اخته شوي یا مصاب شوي اورګان بدلونونه او داسې
نورې پیښې خیړنې کوي یا ترې بحث کوي
Pathologic هغه څوک چې ناروغۍ سره مخامخ وي
Pathophysiologie هغه پوهه یا علم دئ چې یو ناروغه
یا غیر طبعي حالت د انسان د بدن په اورګانونو کې جریان
لري او د د ندې ستونځې مینځ ته راوستلې وي څېړي
او د هغوي پلټنه کوي
Patient (lat. Patiens) ناروغ، مریض



www.ketabton.com

-pause (gr. Paúein) پاي، توقف، پای ته رسیدل
Menopause په ښځو کې د میاشتنۍ وصفي
یا طبعي وینې بهیدنې، خونریزۍ په وروسته له یوه معین
سن څخه پای ته رسیدل
Pecten, , pectinis ږمنځ، شانه، تاج( د چرګ)، قلعه
Pectus, pecturis (lat.) سینه، د بدن پورتني برخه
یا سیمه، صدر، ټټر

-pedese (gr. Pedán) ټیلوهل، بیړه، خیزوهل
pelveo-/pelvi- /pelvio-(lat. Pelvis) د خاصرې لګن
pelveoperitonitis د پریتوان د هغې برخې التهاب ته وایي
چې د خاصرې دې لګن وړوکۍ برخ یې پوښلې وي
pelvi, pelvin په هغه څه سره چې پیلویز(حوصله) مخامخ وي
Pelvis : لګن خاصره، حوصله
Inclinatio pelvis (lat. Inclinatio) تمایل، کږېدل پیلوز
یا حوصلې ته کږېدل، د یوې زاویې جوړونه چې دې
هغه محور چې د بیلویز د ننوتو په لاره او د افقي لیکې تر
مینځ پېښږي او په ولاړه حالت کې 55 درجه د نارینه جنس
او 60 درجه د ښځینه جنس حوصله کې جوړوي
Pelvis renalis د بډوډي پیلویز یا حوصله یا حویظه
Pelviskopie پیلویز یا حوصلې لیدنه البته د پیلووسکوپ
یا مخصوصې الې په مرسته

-penie (gr. Penía ) لږوالئ، کموالئ، نیستي، غربت
Cytopenie په وینه کې د ژوانکو دې شمیر
له مخې لږوالئ
Penis (lat.) = syn. Phallus قضیب ، د نارینه جنس تناسلي آلت
Crus penis



www.ketabton.com

Peniskarcinom د نارینه جنس د تناسلي آلې سـرطان
Pente (V) پینځه عدد

-pepsi; Pepsis (gr. pèpsis) د کلمې هغه وروسـتی برخه
ده چې له یونانی کلمې پیپسـیز چې هضمیت معنی
ورکوي اخسـتلې شـوې ده
Dyspepsie په هضمیت کې سـتونځې، سوُ هاضمه
Pepsin = Endopeptidase (Proteasin) په ګسـتر
یا معده کې دهضمیت یو انزایم
Pepsis (gr.) هضمیت
Perforans سـورئ، شـکاف، سـوراخ
Raumus perforans هغه سـوري دي چې له
هغه څخه د یا د وینې رګونه یا اعصابو رګوونه تېرېږي
Ulcus perforans سـورئ شـوئ پرهار، زخم

peri- (gr. Perí): چارپیریال، شـاوخوا، د دایرې په ډول، حلقوي
Perianal د انوس شـاوخوا، د انوس چارپیره
Periarthritis د بندونو د شـاوخوا التهاب
Pericardium د زړه دشـاوخوا پوښ یا کڅوړه
Perichondrium هر هغه څه سـره چې دې غضروف
د شـاوخوا پوسـتکئ مخامخ وي یا ورسـره اړیکې ولري
Perikard هغه پوښ یا کڅوړه چې زړه په کې پروت دئ
یا د زړه کڅوړه
Perikardektomie د پیریکارد یا د زړه د کڅوړې لرې کول
Perikarditis د هغې پردې یا غشـا التهاب ته وایي
چې زړه یې پوښـلئ دئ چې ډېر وخت دې پیریکارد
له ارګوس«اګزودات» او پیریمیوکاردیتز یا د زړه د عضلې
د شـاوخوا له التهاب سـره یوځای وي چې په لاندې ډولونو
لیدل کېږي



www.ketabton.com

a_ Pericarditis sicca ( fibrinosa) چې بې له
ارګوس څخه وي
b_ Pericarditis exudativa چې له سیروفیبرینوز
هیموراهژیک او یا چرکلرونکئ یا قیح لرونکي التهاب وي
Perikardial هغه څه چې پیریکارد ورسره مخامخ
وي یا اړیکې لري
Perikorneal د سترګو د قرنې شاوخوا
Perimetritis د یوټیروس، رحم د شاوخوا سیمې التهابات
Perimetrium هغه پرده یا د صفاق پرده چې
رحم یې پوښلئ وي، رحم، دوګلاس خونه، جوف
Perinatal د زېږون یا ولادت وخت ته ویل کېږي
Perinatalperiode دا هغه وخت یا زمان ښيي چې دې 24
اونیو یا هفتو پیل څخه تر دې ژوندانه اومې (7) ورځې
(یعنې دې زېږون یا ولادت تر پای ته رسیدلو څخه) خینې
یې د اتویشتمې «28 »اونۍ او لومړی ورځې چې وروسته
له زېږون څخه ده ښيي
Perineo- (gr. Perineos = lat. Perineum) هغه سیمه ده چې
دې انوس یا مقعد او جینیټال سیمې تر مینځ پروت دئ
Perineal هغه څه چې پیرینیوم سره اړیکې لري
Perineum هغه سیمه چې انوس او تناسلي اورګان یې
سره نښلولي، لغوي معنی یې بند، سد، مانع

Periode (gr. Períodos ) څرخښ، دوران یو ټاکلئ شوئ
وخت یو معین وخت
Periodic هغه څه چې په منظم ډول تکرار کېږي
Periodontium د غاښ دې ریښې د ساتنې یا ټینګې
ساتنې محتویات لکه پوښ، د ریښې پوستکئ
Perioesophagitis د اویزوفګوز یا مري د شاوخوا التهابات



www.ketabton.com

Periost (gr. Periòsteos) = periosteum د هډوکي شاوخوا
د هډوکي د شاوخوا پوښ

Periostitis د هډوکي د پوښ، پوستکي التهاب یا د هډوکو
د چارپیریال التهابات

Peripher (gr. Peripherie) له یوه یوناني کلمه ده
چې یوګرده یا دایروي شکله جوړښت د یوې نقطې په
شاوخوا معنې ورکوي او هدف ترې د بدن لرې غړو ته چې
له مرکز څخه لرې قرار ولري لکه لاسونه او پښې یا له
مرکز څخه لرې عصبي سیستم چې دې اطراف
عصبي سیستم هم ورته ویل کېږي

Peripherie کوم غړي یا د بدن سیستم چې دې بدن
له مینځني یا مرکزي سیمې څخه لرې پراته وي

Periphlebitis د وینا یا تور رګ د اډوینسیا او د هغه
د شاوخوا د جوړښتونو یا سیمو التهابات

Perirenal د بډوډو شاوخوا، دې بډوډو چارپیریال

Perisalpangitis د پریتوان د هغې برخې التهاب ته
وایي چې د سالپینګ یا نفیر شاوخوا پوښوي

Peritoneo- (gr. Peritónaion) = Peritoneum د ابدومن
پرده ده، یوه سیروزي پرده چې له دو برخو جوړه شوي
یوه برخه یې دې ابدومن دننه غړي پوښیوي چې ورته
،پارس وېسیرالوایي او بله برخه یې د ابدومن دیوالي
جداري چې ابدومن او د پیلویز جوف یا خالیګاه پوښوي او
ورته پارس پاریټال ویل کېږي چې له یونانی کلمې
پیریتونایون څخه اخستلي شوي

Peritonitis د پریتوان یا پریتونیوم التهاب چې یا اکوټ
او یا کورونیک وي



www.ketabton.com

Peritonsillitis د بادام ډوله یا بادام ته ورته د ستوني غدې
چې تانسل ورته وایي چې دې دغو تانسلو د شاوخوا
سیمو التهاب ته پیریتانسیلیتز وایي
Perivesikal د متیازو یا ادرار د کڅوړې یا مثانې شاوخوا
Permanens پاتې شوونکئ، پاتې شوئ، باقیمانده
Peroral د خولې له لارې
Pertussis (lat. Tussis) ټوخئ، سرفه، شین ټوخئ
شنه ټوخله
pes, pedis (lat.) پښه، فورم یا شکل لکه د پښې فورم
Pexie, -pexie (gr. pexsis) په طبابت کې دې
جراحي عملیات په مرسته دې یوه غړي یا اورګان ټینګولو
یا تثبیتولو ته وایي
Mastopexie د جراحي عملیات په مرسته دې مما
یا تیوو (ثدیو) ټینګول، تثبیت کول
Kolopexie د کولون ټینګول، ګنډل، تثبیت کول
Omentumpexie د اومینتوم ټینګو
-phag, -Phagie, Phago-, -phag, -Phagus(gr. Phageín) انساني
خوړل په هغه ډول چې انسان په کراره او برابره خواړه خوري
او بل ډول حیواني خواړه لکه د حیواناتو په شان خوړل
Phagocyts خوړونکې ژوانکې، هغه ژوانکې چې
د خوړولو او له مینځه وړلو دنده لري
Dysphagie د خوړو او د اوبو د تېرولو ستونځې
Phagophobie هغه ناروغي ده چې د شیانو
له تېرولو څخه ویرېږي

Phako- (gr. Phakòs = lat. Lens) عدسې
Phalanges



www.ketabton.com

Phalango- (gr. = lat.phalanx) د لاسونو او پښو دې
ګوتو هډوکي، جوړښتونه لکه اوسا ډيجيتوروم مانوس
اوسا ډيجيتوروم پيډيز
Phalanx:Ossa digitorum manus, Ossa digitorum pedis
د ګوتو جوړښتونه لکه
phalanx distalis د ګوتو لرې پراته فلانکس
Phalanx medis د ګوتو مينځني فلانکس
Phalanx proximalis د ګوتو نزدې يا لومړني فلانکس

Phallo- (gr. = lat. Penis) د نارينه جنس تناسلي
غړئ، قضيب،آلت
Phallographie د خوب په وخت کې د اوينيس
د ايريکسيون پيريود يا ايريکشن پيريود ښوودنه د ګراف په
شکل چې اوس ډېر نه پکارول کېږي
Phallus (gr. Phallós = Penis) له يونانی کلمې فالوز
چې د نارينه جنس تناسلي آلې ته وايي اخستلې شوې ده
Phaenomen, (gr. Phaínesthai ) پېښه، ښوودنه، پديده
Phaenomenologie په طبابت کې هغه پوهه ده
چې دې ناروغيو پېښيدل يا مينځ ته راتلل څيړي يا څرګندوي
Phantom (fro. Fantôme) يوه فرانسوي کلمه ده چې خيال
ډار، وهم نومېږي خو همدارنګه په طب کې د اناتوميکي
موډلو زده کړو او تمرينونو ته وايي

Pharmako- (gr. Phármakon = Medikamentum) درمل، دارو
Pharmakologie په طبابت کې هغه برخه، مسلک
رشته ده چې په ځانګړې توګه دې درملو يا دارو د اثرات
يا تاثير بدلونونه دې درملو او اورګانيزموس ، وېشنه په جزئياتو،
طبقه بندي يي په فارمکوديناميک او فارمکوکېنيټيک څيړي



www.ketabton.com

Pharmakotherapie د ناروغيو درملنه د درملو يا دارو په مرسته، واسطه

Pharyngeus ستونئ، حلق
Pharyngitis د ستوني د سيمې التهاب چې په دوه ډوله پيښېږي
Pharyngitis acuta د ستوني  التهاب په حاده توګه چې لامل يې تر ډېره حده ويروس انفيکتونه دي او په ثانوي توګه باکتريا دي او په ندرت سره لومړنئ باکتريي پيښې لېدلې کېږي
Pharyngitis chronica د ستوني التهاب په دوامداره يا مزمنه توګ ه چې د تنباکو د پکارولو، الکوهول الکولو همدارنګه نمجنه يا مرطوبه هوا  او داسې نور لاملونه رول لري
Pharyngo- (gr. Phárynx = lat. Fauces) ستونئ، حلق، ګلو
Pharyngospasmus د ستوني شخوالئ، تشنج، کرمپ
Pharynx ستونئ، حلق
-Pharynx د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې ستوني يا حلق نومولئ شوئ دئ
Pharynxkarcinom د ستوني کارسينوم يا سرطان

Phase (gr. Phásis) پيدايښت، ظهور، حضور، پريکول،ټوټه قطعه، صف، رديف، تغير ،بدلون
Phasen des Menstruationscyclus مينستروشن سايکلوس فاز يا مرحلې، دوران شتون
phaso- د ويلو ژبه ، لسان، غږيدل
Aphasie د غږيدو نشتوالئ يا ناتواني، په ژبه يا غږيدو کې د هر ډول ستونځو اصلي لامل په مغزو يا دماغ کې د يوه تکليف له امله مينځ ته راځي



www.ketabton.com

Philie, -phil, Philia (gr. Phileîv ) مینه، تمایل، ګرانښت
chromophil د په هستولوژی د لږ رنګ اخستونکي
کمرنګ، لږ رنګ خوونکئ نومول شوئ
Philaemon, Blutegelgattung
Philo- (gr. Phílein) مینه، ګرانښت ، یو شي ته
تمایل،دې یو شي ته کړیدل
Haemophilie د وینې ناروغی، یو ډول ناروغي ده
چې ورسره مخامخ شوئ ناروغ
وینه ضایع کوي
Lipophilie د غوړو یا شحم د ولې کولو یا نحل کولو
حالت، د غوړیو د منحل کولو د استعداد یا قدرت درلودل
Phimos (gr. Phímosis ) د نارینه جنس
د تناسلي آلت دې سونتېدلو یا ختنه کیدلو د سیمې
د پوستکي یا جلد تنګوالي یا سریښوالئ د ګلانس پینس
او پریپوټیوم پینس تر مینځه سیمه کې ته وایي چې دا حالت
د عمر تر درې لومړیو کالنو پورې فیزولوژیک وي

Phlebo- (gr. Phlébs, Phlebòs = lat. Vena) د ناپاکې وینې
یا د کاربن دای اکساید لرونکې وینې رګ، ورید، د عوامو په
ژبه تور رګ ته وایي
Phlebalgie د وینا یا ورید درد
Phlebektasie = syn. Venektasie په پراخه توګه دې
وینا پراخوالئ
Phlebitis = Thrombophlibitis; Thrombose د وینا یا ورید
د سطحي برخو التهاب
Phlebogen هغه څه چې له وینا څخه سرچینه نیسي
Phlebographie د رادیولوژی د وړانګو په مرسته
د وینا یا وریدونو ښودنه



www.ketabton.com

Phlebopathie — د فلیبو یا وینا ناروغۍ

Phlebosklerose — د وینا یا ورید د دیوال یا جدار
د جوړښتونو بدلون چې دغه د ورید دیوال په منظم ډول ډبل یا کلک کېږي چې دې فلیبو له پراخوالي یا اکتازي سره یو ځاي وي

Phlebolith — د وینا یا د تور ورید تیګې، کلکه شوي وریدي ترومبوز بې له دې چې ناروغي یي ارزش ولري

Phlebothrombose = Thrombose — د ټیټو یا عمیقو وینا
په رګ یا رګونو کې د وینې لخته شوې ټوټه یا کوواګیل جوړیدلو ته فلیبو ترومبوز وایې

Phlebotomie = syn. Venae sectio — د وینا یا ورید پرانستل، خلاصول، باز کردن

phleg, Phlog, Phlegmon ( gr. Phlégma ) — په طبابت کې دې
د جوړښتونو تر مینځ یا انترسټېشیلو برخو کې د یوه پراخه یا منتشره التهابي انفیلټرشن لپاره پکارول کېږي او لغوي معنی یي فلیګما اور،آتش او فلوګیزین سوځېدلو ته ویل شوي

Phlegmatic = temperament — خوي، طبیعت، مزاج،حرارت

Phlegmone — ځووې یا قیح لرونکی التهاب دئ، چې په خپرونکئ یا منتشر ډول دې پوستکی لاندې یا دې عضلو تر مینځ او د بدن د جوړښتونو په انترستیشیل سیمو کې ځاي نیسي

Phlegmonoese — چرک یا قیح لرونکئ التهاب

Phlog — التهاب

Phlogistic — التهابي

phob, -phobie ( gr. Phóbos) — تېښته له یوه شي، ډار، ویره

Agoraphobie — ځای ویره، کوم شخص چې له یوه ځانګړي ځاي یا سیمې څخه ویره یا ډار لري



www.ketabton.com

Chromophobie پـه سـختـۍ سـره رنګ اخسـتل، له رنګ اخسـتلو څخه ویره یا ډاریدل

Phobic له ویرې یا ډار سـره اړیکې درلودل

Phobie د ناروغـۍ له کبله یا هغه ناروغي ده چې په هغه کې وېره او ډاریدل مخ په ډېرېدونکې حالت کې مینځ ته راغلې وي ویل کېږي

Phonophobie هغه ناروغي ده چې له غږېدو څخه وېرېږي لکه دې ژبې بندېدل یا د ژبې لکنت

Photophobie له وړانګو، روښانـۍ څخه ډار، ویره

Klaustrophobie هغه ناروغي ده چې له سـکوت،لږ غږېدو، یوه بندښ یا تړلي ځای څخه ویره لري یا ډارېږي

phon (gr. Phoné) غږ، صوت، آواز، ټون ته وایي لکه دغه لاندې

Telephon

Phonasthenie د غږ خرابوالئ، دې غږ ضعیفوالئ

Phonetic د غږ او صوت جوړېدنې پوهه یا فن

Phoniatrie د غږ او غږېدو یا ژبې ناروغـۍ پېژاندنه یا طب

Phonokardiographie د زړه دې غږونو نښـې له مایکروفون سـره او د زړه د قدرت یا قوت نښـې تر ډېره حده په ګډه توګه له الیکتروکاردیوګرافـۍ په مرسـته ښـودل

Phosphatase

photo- (gr. Phós, photós) وړانګې، روښـاني، ځراغ

Photodermatitis د پوسـتکي التهاب چې دې وړانګو د اثر له کبله مینځ ته راغلئ وي یا چې لامل یې وړانګې دي



www.ketabton.com

photodermatose کله چې د پدن پوستکئ یا جلد
ډير وخت یا په شدید ډول د وړانګو تر اثر لاندې شتون ولري
او یو غیر التهابي ډوله بدلون په کې راغلئ وي نو ورته
بیا فوتوديرماتوز وایي

phren روح، روان، پوهیدل چې باید له فرینس چې
حجاب حاجز څخه يې توپیر وشي
Phrenes ( gr. Phrén) هغه پرده چې تورکس او ابدومن
سره بیلوي یا حجاب حاجز
Phrenikus; Phrenicus یو لنډیز دې فرینیکوز عصب لپاره
ښودل کیږي
physiologie (gr. Phýsis = syn. Natur ) هغه پوهه ده چې
په طبعي یا نورمال ډول د ژوندانه پیښې، حادثې،بهیر او
د غړو د دندو سرته رسول څیړي یا ورڅخه بحث کوي په
تیره بیا له فزیک، دې اورګانیزموس دې دندو څخه، یعنې
دې بیوشیمي په مقابل کې شتوالئ

Physiologic هر هغه څه چې په نورمال یا طبعي توګه
دې ژوندون له بهیر، پیښو او یا حوادثو سره مخامخ کیږي
یا اړیکې لري
Physiotherapie = syn. physikalic Therapie فیزیوتیراپي
چې فیزیکي درملنه هم ورته وایي لکه دې سړو، تودو،
خوځښتونو، مساژونو، لامبو، اقلیم، وړانګو او برېښنا
په مرسته تر سره کیږي

pigment (lat. Pigmentum) یوه لاتینه کلمه ده چې رنګ
نومول شوئ
Pigmentepiethel = syn. Stratum pigmentosum



www.ketabton.com

pilaris (lat. Pilus), Pl. Pili یوه لاتینه کلمه ده چې وېښته یا موی نومول شوي

Pille (eng. Pill) = Kontraception, Hormonale له انګرېزي کلمې څخه اخستلې شوې چې هورمونونه دي یا له حمل څخه د اخستلو څخه د ژغورنې درمل یا ګولۍ

pilo- = syn. tricho- (gr. Tríx, trichós, lat. Pilus) پیلو نن ورځ ډېر لږ پکارول کېږي خو تر ډېره اوس تریخوو یا تریکوو چې وېښته نومېږي پکارول یا استعمال کېږي

Pilos پیلوز په بدن کې د وېشتو له حده زیات شتوالئ

Pilus (lat.) الف: وېښته، د وېښتو تویدل، ب:(باکتریایي) سیکسوال پیلوس، کانجوګیش

Arrectores pilorum

Arrector ( lat. Arrigere; arrectum) لوړول، برافراشتن سیخ کول، راست کردن، نصب کول د بېلګې په توګه موسکولوس اریکتور پیلي

Musculus arrector pili

Pisiformis(gr. pìsos) میوو یا ماش،نخود، ګرده په ډول یا شکل

Pisum نخود، مۍ

Placenta ( lat. ) : یوه لاتینه کلمه ده چې معنی یې کیک یا شریني (تازه)ده خو د حاملګۍ په وخت کې د یو مخ یې په رحم نښتئ وی چې مورنۍ خوا او بله خوا یې د ماشوم خوا ته چې د مور او ماشوم تر مینځه د اړیکو غړې ګڼل کېږي

Placenta accreta دلته د پلاسنتا کوریونونه د یوټیروس په عضله نښتې وي

Placenta adhaerens د پلاسنتا نښتل یا ټینګوالی چې د دندې له کبله نه بېلېږي



www.ketabton.com

Placenta cervicalis د پلاسنتا هغه ډول ته ویل کېږي
چې په سیرویکس کې شنه یا نښتې وي
Placenta circumvallata = Placenta Marginata
Placenta extrachorialis
Placenta incarcerata
Placenta increta دلته د پلاسنتا کوریونونه د یوټیروس
په عضله کې دننه ځای نیولئ وي یا ننوتلې وي
Placenta marginata
Placenta membranacea
Placenta percreta
Placenta praevia د پلاسنتا شتون په یوې غیر وصفي
یا غیر اناتومیکه سیمه کې چې دې یوټیروس یا رحم په
لاندیني سیګمنټ کې ځای نیسي چې ځلور مهم
ډولونه لري چې باید دې پېژاندني یا تشخیص لپاره ډېره
پاملرنه وشي ځکه چې ډېره سخته وینه ورکونه له ځانه
سره لري
Placenta succenturiata د پلاسنتا تر څنګ، د پلاسنتا
د بیلیدلو په وخت کې دې یوې دویمې پلاسنتا جوړښت
یا مینځ ته راتګ؛پرتله کېږي دې هګۍ دننه نازکې پردې
یا اکسترا امبریونیک میمبران یاپردې، غشا سره چې له
دوه فیټال برخې یعنې امنیون او کوریون او همدارنګه له
یوې مورنۍ برخې یعنې ډیسیدوا څخه جوړه شوې
Placenta circulation د پلاسنتا د وینې دوران

Planta ( lat.) د پښې تلې، کف پاي
Plantar د پښې تلې ته نسبت ورکونکی ته وايي، هر
هغه څه چې دې پښې تلې پورې اړیکې لري یا ورسره
مخامخ وي



www.ketabton.com

Plantaris هر هغه څه چې دې پښې تلې پورې اړه لري لکه د پښې فلیکسون یا دننه خوا قاتول

Plantarflexion قاتیدل، انحنا پیدا کېدل دې پښې تلې یا کف پا خواته پلنټارفلیکسیون وایي

Planus ( lat.) هواره، په یوه سطحه، صافه، مسطحه

Plasmalemma ( gr. = Cellmembran ) یوه یونانی کلمه ده چې خنډې، پوستکئ نومول شوې خو په طب کې هدف ترې د ژوانکو خنډې، پردې یا غشا ده

-plasie محصول، لاسته راوړنه، آفرینش،مینځ ته راوړل جوړونه، شکل ورکول

Hypoplasie دلته اورګان شتوالئ لري خو په طبعي توګه یا په مکمل ډول ئي وده یا نمو نه وي کړي

Hyperplasie د یوه اورګان د جوړښتونو لویدل، غټیدل چې د ژوانکو د شمیر د ډېروالئ په لحاظ وي اما د ژوانکو په غټوالي یا حجم کې بدلون نه راځي

Neoplasie نوي مینځ ته راغلي یا پیدا شوي جوړښتونه په یوه اورګان یا اورګانونو کې

-plasma / - plasmie ( gr. Plàsma) جوړونه، شکل ورکول

Protoplasma په ژوندي انسانانو، ژویو او نباتاتو کې د ژوانکې ټول محتویات چې د ژوانکې د پردې یا غشا په واسطه چارپیره شوي یا احاطه شوې وي

plasto- (gr. Plássein) شکل ورکول، نوئ جوړښت، بیل رغونه

Plastik (gr. ) د جراحي عملیات په مرسته نوي شکل ورکول، بیا رغوونه



www.ketabton.com

Rinoplastik = Rhinoplastic د پزې بیا رغونه او
د جراح په واسطه یو نوئ شکل یا جوړښت ورکول کېږي
-plegie د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې غړو
نه ښوریدل، فلج، ضربه
Diplegie د دواړو لینګیو فلج وروسته له د چې شوکي
نخا یا د مریو تیر له یوې ضربې یا تراوما سره مخامخ شوي وي
Hemiplegie د بدن دې یوې خوا فلج چې کیدای شي
دا یا په تولیزه یا مکمل ډول وي او یا په نسبي یا نامکمل
ډول پېښ شي
Tetraplegie د څلورو اندامو یا پښو او لاسو فلج
Triplegie د درې اندامو فلج ته وایي چې دې وینې
د رګونو دې ناروغیو له کبله په دماغ کې یا د مغزو د وینو
د رګونو د ناروغۍ له کبله مینځ ته راځي

Pleurá (gr. = lat. Pleura) : د سینې د قفس پوښ یا
د صدري غشا قفس
Pleuraparitalis د پلورا هغه پرخه ده چې دې سینې
د قفس دیوال یا جدار چې پوښتیو خوا ته شتون لري پوښوي
Pleurapulmonalis د پلایرا یا پلورا هغې پردې یا غشا
ته وایي چې سږي یا شش یې پوښلي وي
Pleuraempyem د پلورا د جوف په مینځ کې دې ځویو، چرک
یا قیح تولیدنه په تیره بیا د سږو د ناروغۍ له امله
لکه پنومونيي، پرانشیکتازیز، تومورونه او داسې نور
Pleurakarcinom د پلایرا یا پلورا د پردو په سر خپاره
شوې لېږدېدونکي یا میتاستاز راغلي تومورونه له
بیلابیلو لومړنیو تومورونو څخه لکه( برانښیال یا برانشیال تومور
مما کارسینوم، پروستات تومور او داسې نور)چې تردېره له ،
هیموراهجیک پلورا ایرګوز سره یوځای ویږ اندیکېشن
یا اسطتباب ئې پلایروډېز دئ



www.ketabton.com

Pleuralgie د پلورا درد

Pleurektomie د پلورا پریکول، لري کول
Pleuritis د پلورا التهاب
pleuro-(gr. Pleura : 1. pleura paritalis 2. Pleura visceralis = Pleura pulmonalis = جداري پلورا، حشوي پلورا), das Brustfell :
د لغوي معنی له مخې د بدن یا تنې، پوښتیو او
د سینې د قفس یوې خوا یا څنګ نومول شوئ دئ
دې سینې د قفس دننۍ پردې یا غشا ته وایي
Pleurodese د پلورا دې پردو (جداري او حشوي) چې
سره سرېښ شوې وي بېلولو ته وایي
Pleurodynie د پلورا درد
Pleurolyse د جراحي عملیات په مرسته د پلورا
هغه دوه برخې لکه پلورا پاریټالیز او وېسېرالېز چې
سره سریښ شوي یا نښتې او نه بېلېدونکې وی یو له
بله بیلېږي او درملنه یې د دواړو برخو لري کولو او په مینځ کې
یې دې انتی بیوتیکو د پودرو په شیندلو سره پاي ته رسېږي
Pleurotomie د دواړو پلوراو بیلولو ته وایي

-plexie (gr. Plexsis ) ضربه، ټکان، اصابت او د کلمې هغه
وروستۍ برخه ده چې له یوناني کلمې پلیکسیز څخه
اخستلې شوي ده چې ضربې، ټکان ته وایي
Apoplexie مغزي یا دماغي سکته، حمله
Plexus : شبکې، ځالې ته ورته یوځایوالئ ټولېدنه دې وینې
د رګونو، لمفاوي رګونو او عصبي رګونو ته پلیکسوس وایي
Plexus rectalis د ریکتوم د سیمې د بېلابېلو رګونو
ټولېدنه یا پلیکسوس
Plica ګونجې، ګنجې، چملکي
Plural ډېر شمیر



www.ketabton.com

Pneumo- (gr. Pneúma , pneùmatos = lat. Pulmo) : دوه معنى
لري 1: هوا، غاز، هوا اخستل يا تنفس 2: سږي ياشش چې
په يوناني ژبه کې پنومون يا پنايمون ويل شوي
Pneum سږئ بايد پنايوم يا نايوم چې هوا،ګاز معنى
ورکوي له پنايومون يا نايومون چې سږي معنى ورکوي توپير
يا تفاوت وپيژني
Pneumon پنايومون د سږو لپاره نومول شوئ
pneumono-(gr. Pneúmon, lat. Pulmo, pulmonis) سږي، شش
Pneumonektomie د جراحي عمليات په مرسته
د يوه سږی لرې کولو انديکېشن د سږو په کارسينوم
توبرکلوز اويا برانشيکتازي وي
Pneumonie د سږو التهاب،د عوامو په ژبه سينه بغل
Pneumonologie /Pulmonologie د سږو د ناروغی
خېړنه يا هغه پوهه ده چې د سږو د ناروغی او
د هغې تشخيص او درملنې خېړنه کوي
Pneumopathie د سږو ناروغی
Pneumothorax ګاز يا هوا لرونکئ تورکس، د هوا
شتون د تورکس په قفس کې
-pnoe (gr. Pnóe) د کلمې هغه برخه ده چې ساه، نفس
ساه اخستل، هوا اخستل، تنفس ورسره مخامخ يا اړيکې
لري نومول شوې ده
Dyspnoe د ساه اخستلو ستونځې، نفس تنګي
عسرت تنفس
Orthopnoe اورتوپنوی هغه ډېرې شديدې
نفس تنګی ته وايي چې يواځې هغه وخت لږ څه
اسانتياوې په ساه اخستيلو کې پيدا کېږي يا يې جبران
صورت نيسي چې ناروغ په سيخه يا مستقيمه حالت
کې ناست وي



www.ketabton.com

Ortho- (gr. Orthòs) د کلمې هغه برخه ده چې
سیخه، مستقیمه، راست ته ویل شوي
Tachypnoe د ساه اخستلو ګړندیتوب، سریع کېدل
چې لامل ئې ډېر اکسیجن ته ضرورت درلودل دي لکه په
تبه کې، د ډېر جسمي کار او فعالیت له کبله

Podalgie د پښې یا پښو درد
podo- (gr. = pes, pedis) پښه

-poese (gr. Poieín) د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
له یوناني کلمې څخه اخستلې شوې چې جوړونه، مینځ
ته راتګ،ښودنه نومولې شوې
Haematopoese د وینې جوړونه، وینه مینځ ته راوړنه
Erythropoese د وینې د سرو کرویاتو جوړېدل چې
د هډوکي یا هډوکو په مغز کې تر سره کېږي

poikilo- (gr. Poikílos) څو رنګه، څو ډوله رنګونه، رنګارنګ
Poikilodermie څو رنګه پوستکئ یا د بدن په
پوستکي کې بېلابېل رنګونه

pol (gr. Pólos = lat. Polus) پول له یوناني کلمې پولوز او
په لاتینه کې ورته پولوس وایي اصلي محور، تکیګاه، اتکا
نقطې ته وایي، په اناتومي کې د یوه اورګان پای ته ویل
شوي لکه سوپرا رینال پول، انفرا رینال پول یا قطب
poliklinik = Policlinic په یوه سیمه کې د ډېرو کلنیکو
شتوالئ چې بېلابېلو ناروغیو پلټنه او درملنه په کې کېږي

polio- خړ رنګ، د هیرو رنګ، خاکسترې رنګ



www.ketabton.com

Poliomyelitis د خړرنګه یا د هیرو رنګ ته ورته شوکي نخاع
د محتویاتو التهاب ته وایي
Pollakis (gr. Pollákis) تر ډېره حده، غالباً، زیات
Pollakisurie له نورمال حالت څخه ډېر ادرار کول په
لږ مقدار سره یعنې چې د ناروغ د ادرار کولو ضرورت زیات
او مقدار یې لږ وي
Pollex, pollicis د لاس غټه ګوته، انګشت شست

poly- (gr. Polýs): یو مخکښ دې ډېرو، غټو، لوړو، جګو، متعدد
ته وایي
Polyarthritis د ډیرو بندونو یا مفصلونو التهاب
(poly = ډیر arthr- = بندونه ,
-itis = د التهاب د کلمې پای)
Polyarthrose هغې ناروغۍ چې ډیر بندونه په
ارتروز اخته یا مصاب وي
Polychrom ډیر رنګیزه، یو شئ چې ډیر رنګونه لري
Polycystic د ډیرو کیستونو یا مجوفه کڅوړو لرونکي
Polydaktylie د ډیر ګوتو شتوالئ(هغه وخت چې له
پنځو ګوتو څخه ډیرې ګوتې په لاسو یا پښو کې
شتون ولري)هغه ته پولي دکټیلي وایي دې زېږون له وخته
د ډېرو ګوتو شتوالئ(په یوه غړي یا اندام کې له پنځو=5
زیاتو ګوتو شتوالئ) په لاسونو او پښوو کې
Polygalaktie له حده ډېره د پیوو یا شیدو جوړیدنه
تولید یا پرودکشن ته ویل شوي
Polymenorrhoe په ښځو کې د میاشتنۍ
وینې بهیدنه په لنډ واټن کې یا په میاشت کې دوه یا
درې وارې وي، چې په نورمال ډول دغه وینه بهیدنه په
څلورو اونیو یا هفتو کې یو وار یا یو ځلې پیښېږي

Polymorph بیلابیل ډولونه، مختلف شکلونه، څو شکلي
Polyneuritis = Polyneuropathie د پېریفیر او یا د مغزي
یا دماغي اعصابو ډیجینیراتیف التهابي بدلونونو ته ویل کېږي
Polyneuropathie د پېریفېر یا اطرافو د اعصابو ناروغۍ
چې تراوماتیکي او التهابي بڼه ونه لري
Polynuklaer د ډېرو هستو لرونکي
Polyp (gr. Polýpous ) له یونانی کلمې پولیپووز څخه چې
دې ډېرو پښوو لرونوکې معنی لري اخستلې شوې ده خو په
طبابت کې دې یوه خالي یا جوف لرونکي اورگان د موکوز څخه
د یوه سلیم تومور، بدلون، وده، نمو، ډېریدل، تکثیر،پاړسوب دې

Polypathie = syn. Multimorbiditaet په یوه وخت کې
یا همزمان دې ډېرو ناروغیو مینځ ته راتګ یا شتوالئ
Polyphagie دوه معنی لري یوه ئې خوړل، تېرول
د خوړلو اعتیاد لکه په ژویو کې او بله ئې ډېر خوړل
polypo- دې موکوز یا مخاطي غشا ډېریدل، پاړسوب،
غوټې یا غدې
polytop په ډېرو سیمو کې، په ډېرو ځایونو کې
polytrop په ډېرو ځایونو یا سیمو کې د مداخلې
یا حملې سېمې، نقطې یا هدف
Polyurie په پتالوژیکه توګه له حده ډېر د ادرار
په حجم کې ډېروالئ چې په ډیابیټیس انسیپیډوس
ډیابیټیس میلیټوس، د بډوډو ناروغۍ او داسې نورو ناروغیو
له امله پېښېږي

Pons, pontis پول، پل، د میټاانسیفالون پورې اړه لرونکې
د دماغ پورتنۍ برخه



www.ketabton.com

Poples ( lat. )´= Poplitealpunkt, Valleix- Punkt دا یوه
لاتینه کلمه ده چې د زنګانه شا خوا یا هغه سیمه
چې قاتېږي، کله چې زنګون قات شي هغه قات شوې
سیمې ته وايي چې همدارنګه پوپلیټیا نقطه، د والیکس
نقطه هم ورته وايي، پوک زانو

poro- (gr. Póros, „Pore“ = lat. Porus) پرانستل، خپرول
سورئ،دریڅه، منفذ
Porose د ناروغۍ هغه حالت ته ویل کېږي چه په هغه
کې د یوه غړي په جوړښت یا بافت کې سورکي میشته
وي یا ئي ځای نیولئ وي، رخنه ئي کړي وي لکه
پورینسفلي، اوستیوپوروزیس

Porta ( lat.) ور، دروازه، دریڅه، دریچه
Porus (lat. = gr. Pòros) سورئ، پرانستل، سپړل
Post (lat. Post) : شاته، تر شا، وروسته، عقب، پشت
Postmenopause وروسته له هغه وخته چې
په ښځو کې میاشتنۍ وینه بهېدنه یا خونریزي یا
مینستروشن خلاصه شي
posterio- (lat.) شاته، وروسته، عقب
Posterioanterior (lat.) د شا له خوا مخې خواته چې
ښودل شوي PA او یا p.-a په رادیولوژي کې په لنډه لیکنه دې
Posterior (lat.) شاته، د شاخوا
postho- (gr. Pósthion) په نارینه جنس کې د سنتیدلو
د سیمې پوستکئ، پوست ختنه ګاه
Posthepatic د لړمانه شاته، د لړمانه څخه وروسته
Poasthepatitis کومې پېښې یا ناروغۍ چې
وروسته دې لړمانه یا جګر له التهاب څخه مینځ ته راغلې وي

Posthitis د نارینه جنس د تناسلي آلت د سنتی
د سیمې پوستکی التهاب، پوست ختنه گاه التهاب
Postkoital (lat.) وروسته له جنسي یوځای کیدلو
یا مقاربت څخه
Postmenopause د وخت هغه واټن یا زماني فاصلې
ته ویل کېږي چې وروسته له مینستروشن پېښېږي
Postmenstruell وروسته له مینستروشن څخه
Poastovulation وروسته له اوولیشن
Poastovulatoric وروسته له اوولیشن یا د پخې
شوې هګي بیلیدل یا خیز وهل له اووم یا تخمدان څخه
Postremus(superlativ سوپرلاتیف posterior )
د وروسته، شاته مفهوم ورکوي

Prae-, prior, prius(lat. Prae) له لاتینې کلمې پرې
څخه اخستلې شوي ده چې مخکې معنی لري
Praeembryonalperiode د نطفې یا جنین د ودې
یا پرمختګ په درې لومړیو اونیو یا هفتو کې ویل کېږي
Praehepatic لکه په پورټال دوراني بهیر یا سیستم
کې، مخکې له لړمانه یا جګر څخه
Praeinfarktangina ډېر شدید درد او یو تحدید کوونکئ
د ټټر یا سینې تنګوالي احساس شتوالئ مخکې له دې چې
د زړه د عضلې ژوبلېدنه چې د اکسیجن نه رسېدل د وینې
په مرسته پېښه شي یا میوکارد انفارکت څخه مخکې
او همدارنګه معمولاً د بدن د استراحت په وخت کې
هم پېښېږي
Praekancerose مخکې د کانسر له مرحلې څخه
Praekardial (lat.) د زړه څخه مخکې، مخکې د زړه
د شاوخوا سیمو څخه



www.ketabton.com

Praemenopause دا هغه وخت یا مدت زمان
ویل کېږي چې مخکې له مینوپوز یا په ښځو کې دې
میاشتنۍ وینه بهیدنه ودرېږي یا قطع شي
Praemenstruell مخکې له مینستریشن څخه
Praemolar (lat. Molaris) = syn. Dentes premolares
دې ژامو غاښونه
Praeovulatoric مخکې له اوولېشن یا د هګۍ
له ټوپ، خیز وهلو څخه

Praeparare (lat.) په طبابت کې د بدن د جوړښتونو
ښودنه دې بیلګې په توګه د پینسټ او سکاپیل په مرسته
Praepartal مخکې دې زېږون یا ولادت له پیل څخه
Praepatellar د زنګانه تبۍ مخې سره، پیشروی
عینک زانو یا کاسه زانو
praeperitoneal مخکې د صفاق د پردې،د پریتوان مخکې
praerenal مخکي له بډوډو څخه
praesakral د متقاطع هډوکي مخکې یا سکروم
د هډوکۍ مخکې
Praesens اوسنۍ وخت، حال، حاضر
Status praesens کلینکي لاس ته راوړنه،د
ناروغۍ دپلټنو اوسنۍ ناروغیو لاسته راوړني
praeservativ = Condom هغه میخانیکي مواد چې
دې کانتراسیپشن یا دې حمل اخستلو څخه دې وقایې
یا ژغورنې لپاره پکارول کېږي چې عوام ورته پوقانه وایي

Praeter (lat.) پریټر په لاتینه کلمه ده چې برخلاف،په
ضد،مخالف، غیر له دې،له دې بهر ، نشت، نهي ته ویل کېږي
Praeter naturalis غیر طبعي، کوم چې
حقیقت ونلري لکه دغه لاندې غیر طبعي انوس یا مقعد

Praeter natatüral Anus — د کولمو پای یا اخرینۍ برخه د یوې بلې سیمې سره د هغه په پوستکي کې نښلوله کېږي. یو غیر طبعي انوس، انوس یا مقعد په یوه نه اناتومیکه سیمه کې یا مصنوعي انوس

prae (lat.) — پریې یوه لاتینه کلمه ده چې مخکې شتوالئ مخکې قرار درلودل نومول شوئ دئ

praetibial — د ټیبیا د هډوکي مخکې سیمه کې چې د لېنګي د لاندنۍ برخې مخکنئ هډوکئ دئ

praevertebral — د ملا د مریو د تیر مخې سره

presby- (gr. Présbys) — زړښت، لوی عمر، پیر، مسن

Presbyakusis — د زړښت له کبله د غږ نه اوریدل یا کڼیدل یا ستونځې درلودل

Presbyopie — د زړښت په وخت کې د لید د حالت ستونځې په نزدې لیدنه کې چې د لینز یا لیموو د الاستیکیت له مینځه تللو له کبله(سکلیروسیز)او د اکومودیشن د توانایۍ له لاسه ورکولو له کبله مینځ ته راځي

primaer (lat. Primarius) — هغه څه چې لومړیتوب پورې اړه لري لوړیتوب، لومړئ، د دویم، دریم، څلورم او نورو برخلاف لکه پرایمیر یا لومړنئ، سیکوندیر یا دویم او ټیرتیر یا دریم فولیکول په اووم یا تخمدان کې

Primaerherd — د یوې ناروغۍ لومړنۍ سیمه،چینه،منشه

Primaertumor — لومړنئ مینځ ته راغلئ یا پیدا شوې دانه، تومور، پاړسوب ته وایي چې له هغه څخه نورو سیمو ته لېږدونه یا میتاستاز خپرېږي

primi- (lat. Primus) — لومړئ، لومړیتوب

Primipara — هغه ښځه یا میرمن چې خپل لومړئ ماشوم نړۍ ته راوړي، اول باري مور



www.ketabton.com

Primus لومړئ، هغه څه چې لومړئ جوړ شوئ وي
یا پیدا شوئ وي
Prior, prius (Komperativ from prae) مخکې والئ
وړاندېوالئ، مخکې له دې،پخوانی چې د پرې کامپیراتیف ده
pro-(gr. Prò = Lat. Pro) مخکې، مخکنئ، پخوا، په مخکې
مخکې له وخته
Promyelocyt یوه ژوانکه، چې د میالوسیټ د رسیدو
تر وخته پورې په پرمختګ یا وده کې وي یعنې مخکې له د
چې ژوانکه میالوسیټ شي ویل کېږي
Processus( lat. Processus) : یو شئ چې وړاندې خوځېدلئ
وتلئ وي،لږی لرونکي، ادامه، څوکه لرونکې، دنباله
برآمدګي لکه دا لاندې

Processus articularis
Processus coacoideus

Processus mastoideus
Processus pterygiodeus
Processus spinosus
Processus styloideus
Processus transversus
Processus xiphoideus
pro die (lat.) ورځنی، هره ورځ، روزمره
procto-/prokto-(gr. Proktós = lat. Rectum) د غټو کولمو
هغه برخه ده چې د سیګموئید او د انوس تر مینځه پرته ده
Profundus ټیټ شتوالئ، عمیق قرار درلودل



www.ketabton.com

Prognathi (pro-; gr. Gnàtos) ګناټوز یوه یونانی کلمه ده
چې ژامه یا الاشه نومېږي، پروګناټي یوه انومالي ده چې
په هغه کې یو پراخه واټن یا فاصله د پاسنۍ او لاندنۍ
ژامې تر مینځه شتون لري

Prognose (gr. Prógnosis) وړاندوینه، له مخکې پوهېدنه
د ناروغۍ په تګلارې پوهېدنه او مخکې له مخکې پوهیدنه

Prokto- (gr. = lat. Rectum, anus) مقعد،د کولمو اخرینۍ برخه

Proktalgie د ریکتوماو انوس درد

Proktektomie د ریکتوم او یا انوس لرې کول

Proktitis د ریکتوم او انوس التهاب

Proktodynie د ریکتوم او انوس درد

Proktologie هغه پوهه ده چې د ریکتوم او انوس
ناروغۍ او درملنه څېړي

Proktostase (Rectum) په ریکتوم کې د کوټ
یا غایطه موادو دریدل، توقف، دریدنه

Prolaps (lat. Prolapsus له اناتومیک حالت څخه دیوه غړي)
یا اورګان بیځایه کیدل او مخښکته ځوړندیدل یا مخ وړاندې
ځوړندیدل

prolapsus ani = syn. Analprolaps د انوس بېځایه کېدل
ځوړندېدل

Prolapsus Recti = syn. Rectumprolaps د ریکتوم
ځوړندېدل، بهر ته وتل

Prolapsus Uteri et Vaginae = syn. Descensus uteri et vaginae
د رحم او واګینا بې ځایه کېدل، سرچپه کېدلو بهر ته وتل
ا

Diskus prolaps د ملا د مریو ترمینځ پرتو موادو
یا محتویاتو یوې خواته وتل



www.ketabton.com

Prominens (lat.) له خپل ځایه بهرته په غیر اناتومیک
ډول وتل، تېره څوکه، برجستګي لکه د تورې څوکه یا اغزئ
برامدګي، دویمه معنی ئې اداره کوونکئ

prominentia (lat.) دا هم یوه لاتینه کلمه ده چې د بهرته
وتلو ته وایي،سرلوړولو ته ویل شوي لکه پرومینینسیا لارینجیا
Prominentia laryngea دا هغه جوړښت دئ چې
په نارینه جنس کې د ځینو سړیو یا هلکانو په غاړه کې
د کریکوئید غضروف بهرته یا د باندې ډېر وتلئ وي
Prominentia vertebra د ورمېږ د اومې مرۍ
یا فقرې څخه وتلې تېره څوکه
Promyelocyt یوه ژوانکه چې له ګردې تر هګۍ ډوله
یا اووال، بیضوي شکله هستې په لرلو په (1-2)نوکلیولون
کې، هغه چې د پرمختګ یا ودې په حالت کې وي مخکې
له هغې چې اصلي یا پخې شوې میالوسیت ژوانکې
ته رسیدلې وي د پېژاندنې وړ کېدای شي
Pronator هغه عضله ده چې د( لاس)شا خوا،باندې، بهر
خواته تاوولو دنده په غاړه لري
Prophylaxe (gr. Prophylássein) ژغورنه، مخنیوئ، وقایه له
یوې پېښې یا ناروغۍ څخه لکه د واکسین پکارول تر څوچې
له ځینو ناروغیو څخه مخنیوئ وشي
Proprius :
ad usum proprium

prostato- (gr. Prostàtes) د پروستات غده، د یوه واړه چهارمغز
په اندازه کلکه اګزوکرینه غده چې دې مثانې لاندې شتون
لري پروستات نومول کېږي



www.ketabton.com

Prostata (gr. Prostátes ) پروستاتا له یونانی کلمې
څخه اخستله شوي ده چې لغوي معنی ئې رئیس، ناظر ده
او په اصل کې موخه يي د پروستات غده ده چې په
نارینه جنس کې شتون لري

Prostataadenom د پروستات د غدې يو بې ضرره
يا سليم تومور يا پاړسوب دئ

Prostatabiopsie د ناروغی دې څېړنې او د هغې
د تشخیص او درملنې لپاره د يوې ټوټې يا پارچې
اخستله کېږي

Prostatahyperplasie د پروستات غټیدل يا لويدل
چې دغه غټوالئ دهرې ژوانکې يا حجرې په حجم کې
نده بلکي دې ژوانکو په شمیر کې ډېروالئ مینځ ته راځي

Prostatahypertrophie دلته د پروستات غټيدل په
پرلپسې توګه د هري ژوانکې د حجم د غټوالي يا لويوالي
له کبله مینځ ته راځي. په ¾ برخو نارينو کې د پروستات
غټيدل له 50 کلنی څخه ډېر ورورو يا په تدریج سره پيل کېږي

Prostatakarcinom, Prostatacarcinom پروستات
کارسینوم (سرطان)يو وصفي يا تيپيک ًحالت د ًپاخه عمر،زاړه
عمر سرطانٍ دئ چې نسبتاً ورورو يا په تدريج سره وده کوي

Prostataresektion د پروستات ادینوم چې وړوکئ
وي کیدای شي چې د ادرار کولو د نل يا احليل له لارې پريک
او وويستل شي. د پروستات ريزکشن يا پريکول دې
ترنس يوريترال له لارې په ښه بري سره سرته رسېږي

Prostatektomie, Prostataadenom د پروستات
دې غدې پريکول او لرې کول د خفک کولو په طريقه
سرته رسېږي

Prostatitis د پروستات د غدې التهاب



www.ketabton.com

Prostatopathie د پروستات د غدې بیلابیلي ناروغۍ
Protein په بیوښیمي یا بیوشیمي کې دې وکتل شي
Proteinurie د پروتین شتوالئ په ادرار کې
د پروتین ترشح په ادرار کې
proteolytic د پروتین تجزیه او ټوټه کول،پروتین هضم کول

proto- لومړئ، مخکنئ
Protodiastolic(gr. Protodiastolè) مخکې له
ډیاستول څخه، ډیاسټول یوه یوناني کلمه ده چې پراخېدو
دننه بهر خواته دحجم په حساب لویدلو ته وایي،روډییاسټالیک
د زړه د لاندنۍ خونو یا وینټریکیلو د پراخوالي څخه دمخه
ته وایي
Protoplasma د ژوانکو محتویات
ماده (لومړنئ تصویر، اصلي تصویر)ته وایي
Protos لومړنئ، لومړئ
Prototyp لومړنئ تصویر، اصلي تصویر
Proximal هر هغه غړي چې د بدن مرکزي سیمې یا تنې
ته نزدیوالئ لري
distal هر هغه غړي چې له تنې څخه لریوالئ لري
لکه لاسونه او لینګي
Proximalis نظر هغې سیمې ته چې په کې شتون
لري، هر هغه اورګان چې تنې ته نزدې قرار ولري

Pruritus (lat. Prurrire) د پوستکي یا جلد خارښت
چې په جبري توګه دګرلو یا خاریدن ته انسان هڅول
کېږي پروریټوس، پروریټوز ویل کېږي او بیلابیل ډولونه
او سېمې لري لکه پروریټوز اني، پروریټوز ګراویډاروم



www.ketabton.com

pseudo- (gr. Pseúdein, pseùdos ) دروغ، غلط، یو بل شي
سره غلطول، چې ظاهري بڼه یي اصلي بڼې ته ورتوالی
ولري هغه چې اصلي نه وي

Pseudoarthrose هغه بندونه چې اصلي نه وي

Pseudocyte غلطه مثانه یا مثانې ته ورته پوکانه

Pseudograviditaet هغه ګراویډیټیټ یا حمل
چې واقعیت نه لري، یواځې ځینې نښې وي

Psoas = Musculus Psoas یو لنډیز دې پسواس د عضلې ده

Psycho- (gr. Psyché) روح، روان، احساس

Psychiatrie روان پیژاندنه، د روان پېژاندنې طب
رواني ناروغیو پیژاندنه

Psychiatric دغه رواني ناروغی کیداي شي چې
په ماشوم توب کې هم پیدا شي یا ښکاره شي

psychogen رواني ناروغي یا حالت چې کورنی، ارثي
یا د ګین یا جین مانیپولاسیون یا بدلونو له کبله مینځ ته راځي
یا هغه لاملونه چې د رواني ناروغی مینځ ته راوړونکې دي

Psychologie هغه پوهه ده چې رواني ناروغی او
د هغې د درملنې د لارې پیدا کول څېړي یا له روان او روح
څخه بحث کوي

Psychopathologie د هغه پوهه یا علم دئ چې
د انسان روحي یا رواني تجربې او رواني ناروغیو اړیکې
در بر نیسي او پلټنه یي کوي

Psychopharmaka داسې دارو درمل شته چې
په روحي، رواني حس باندې اثر لرونکي دي یا په
رواني ناروغیو اثر لرونکي درملو ته ویل کېږي

Psychopharmakologie دا هغه پوهه ده چې
د ځانګړئ درملو څیړي او د هغو اثر په رواني ناروغیو
روښانه کوي او یایې په کار اچوي



www.ketabton.com

Psychose روانی ناروغی، ذهني او سوچي
یا فکري ناروغی، د روان یو غیر نورمال حالت. البته تر
دې موضوع لاندې ټولې غیر نورمالې پېښې نه راځي
بلکه یواځې یو شمېر ځانګړې پېښې یا پوهونه ده
Psychosomatik د روح یا روان او د بدن تر مینځ
د اړیکو بدلېدل یا بدلونونو ته ویل شوي
Psychotic هغه ناروغی چې د رواني، ذهني او فکري یا
عقلي حالت سره اړیکې لري یا رواني ناروغی،عقلي ناروغی
psychotrop پسیښوټروپ یا سایکوټروپ هغه پېښه
یا پدیده ده چې رواني حالت ورسره مخامخ وی

pterygo- : وزرونه یا بال، بڼکې یا پر
Processus pterygiodeus د وزرونو لړی یا ادامه، دنباله
Pterygoma, pterygomatis وزر، بڼکه
Pterygoideus وزرونو ته ورته شکلونه

-ptoe (gr. Ptýein) د کلمې هغه وروستی برخه ده چې
له یوناني کلمې پټین څخه چې توکول، د خولې لاړې
د خوړو توکول، تف کردن
Haematoptoe د وینې توکول

Ptose, -ptose (gr. Ptósis) لوېدل، سقوط، ښکته کېدل
ځوړندېدل، غرقیدل
Kolopoptose د کولون ښکته کېدل،له ځایه بېځایه کېدل
Nephroptose د بډوډو ښکته کېدل، له خپل
اناتومیکې سیمې بیځایه کېدل
Splanchnoptose (gr.) = enteroptose یوه یونانی کلمه
ده چې ډوبېدل، ټیټېدل ښکته کېدل نومول شوئ



www.ketabton.com

Ptosis (gr.) لغوي معنی يې د يوه اورګان ځوړندېدل، مخ ښکته کېدل، سقوط ته وايي

-ptysis له يوناني کلمې څخه اخستلې شوې ده چې د کلمې وروستۍ برخ ده دلته موخه ترې د سترګو د پورتنيو پلکو يا ليد ځوړندېدل دي

Haematoptysis

pubo- (lat. Pubes) د ښځينه جنس جنسې او تناسلي عضوې بهرنۍ او پورتنۍ سيمه چې له وېښتو څخه ډکه وي دې هغې سيمې هډوکئ

Suprapubic د پوبيس پورتنۍ برخې يا سيمې ته وايي

Pubes, pubis: بلوغ عمر، د وادکولو عمر

د حيا يا تناسلي سيمه

Corpus ossis pubis

Pubofemoralis

Ligamentum pubofemorale

Pudendum = Pudendus هر هغه څه چې د تناسلي عضوې پورې اړه لري يا ورسره مخامخ وي لکه د پوډينډوز عصب او نور

Puer ماشوم، نوئ ځوان، ځلمئ، ځلميتوب

Pulmo- / Pulmono- (lat. =gr. Pneumo-/ pneumono) :

سږي، شش، ريه

Lingula pulmonis sinistri د کينې خوا د سږي ټوټه يا ژبه

Pulmo dexter ښئ خوا سږئ،راسته شش

Pumonal هغه څه چې سږو يا شش پورې اړه لري يا ورسره مخامخ وي

Pulmonalarterie د سږو دې وينو رګونه



www.ketabton.com

Pulmonalis هغو شیانو سره چې سږي مخامخ وي
Pulmonal Valva (Valva trunci pulmonalis) د پولمونال
یا د سږو دې رګ یا ورید پردو ته وایي
Pulmonal Valva insuffecience د پولمونال د وینې د رګ
د پردو د دندې ښه سرته نه رسول یا عدم کفایې ته
وایيPulmonal Valva stenose د پولمونال دې رګ
د پردو تنګوالي ته وایي
Pulmonologie هغه پوه ده چې سږي او دهغو
ناروغۍ او د درملنې لارې څېړي یا تر بحث لاندې نیسي
Pulmo sinister د کینې خوا سږئ
Vena pulmonalis د سږو یا ریوي ورید

Pulpa dentis (lat. Pulpa ; dens, dentis) دا یوه لاتینه کلمه
ده چې پولپا غوښې او ډینز یا ډینتیز غاښ ته وایې،غاښ مغز

pulsus (lat.) = Puls یوه لاتینه کلمه ده چې ضربې
وهلو، نبض ته وایي او په لاندې ډولونو دي
Pulsus aequalis هغه د زړه ټکان یا ضربان یا نبض
ته وایي چې یوشانته کیفیت یا کوالیټیټ لري
Pulsus alternans د نبض یو غیر منظم حالت
یا آی ریګولاریز وي
Pulsus altus = Pulsus magnus یو غټ، لوړ نبض
Pulsus capricans هغه د نبض ضربې دي چې په
هغه کې د اطرافو د نبض څپې ډېرې لوړې وي، د نبض
د ضربې څپه مخکې له نورمال حالت څخه راځي یا رسمېږي
Pulsus celer ګړندئ نبض، هغه نبض چې
د فشار له لوړېدلو سره یوځاي وي، د کیلر یا سیلر او الټوس
د فشار په نامه هم یاد شوئ او د اورټا د پردو د دندې د ښه
نه تر سره کولو یا عدم کفایه په پېښوو کې لېدل کېږي



www.ketabton.com

Pulsus contractus یو قوي، سخت نبض له یوه واړه نبضي امپلیټوډ سره
Pulsus deficiens د غیر منظم نبض یو ډول دئ
Pulsus dircrotus = syn. Dikrotie دا هغه ډول نبض دئ چې دوه وارې یا ډبلې ضربې یا تیګې وهي
Pulsus differens د ښی او کینې متې یا لاس تر مینځ د نبض توپیرونه په تېره بیا د نبض د کیفیت له مخې لکه د اورټا د انیوریزمل په درې ډولونو کې اورټاانسوفیسینسیا یا عدم کفایه او سبکلاویان سټیل سندروم کې
Pulsus durus یو ډېر سخت، تند، شدید نبض دئ او دا یواځې هغه وخت چې زړه تر ډېر فشار لاندې وي لکه په ارټېریال هایپرتوني کې
Pulsus filiformis = syn. Pulsus undulosus د یوه تار په شکل، په اسانی نه لمس یا پالپابل یا په بل عبارت په ندرت سره د لمس وړ وي چې له ورو‌کي امپلیټوډ او تر ډېره حده د لوړ فریکونس لرونکئ ویپه تېره بیا په اکوټ سیرکولېشن انسوفیسسینسیا( کولاپس، شاک) کې
Pulsus fortis = syn. Pulsus magnus یو لوړ نبض له لوړ امبلیټود سره
Pulsus frequens هغه نبض چې فریکونس یې لوړ وي
Pulsus intermittens = P. Deficiens = P. irregularis
Pulsus irregularis یو اریتمیک یا غیر منطم نبض دئ چې ډېره یې د زړه د اریتمی له کبله پېښېږي
Pulsus magnus = Pulsus altus; P. Fortis یو لوړ نبض هغه نبض چې له لوړ امپلیټود سره وي، او په لوړه درجه د وینې د فشار د امپلیټود له کبله لکه تبه، هایپرتیریوز د اورټا د پردو د دندې د ستونځو له کبله پېښېږي



www.ketabton.com

Pulsus mollis دېر پوست او نرم نبض ته وايي چې
د لږ فشار له امله مینځ ته راځي
Pulsus oppressus = Pulsus contraus
Pulsus paradoxus دا هغه ډول نبض دئ چې
د نبض د امپلیټود د ټیټوالي یا لږوالي درجه د ساه اخستیلو
یا تنفس په وختکې له 10ملیمتره چې جي ډېر لږ وي
Pulsus parvus هغه ډول نبض ته وايي چې
د نبض امپلیټود وړوکئ وي
Pulsus penetrans یو منظم او یا ریګولیر ضرباني نبض
Pulsus rarus د نبض فریکونس ډېر ټیټ وي
Pulsus regularis منظم، ریتمیک او یوشانته نبض
Pulsus tardus هغه نبض چې له ورو ورو(هواره، هموار) فشار
لوړېدو سره وي
Pulsus vibrans دیوه ښورېدونکي نبض احساس
او کله ناکله هم لکه دې پاڼو د ښورېدلو د شرهر غوندې
غږ چې د وینو په رګونو کې د وینې د جریان له کبله
هغه اړیکې چې د هغه له دیوال سره پیدا کېږي مینځ ته
راځي اورېدل کېږي
Punktion (lat.) له لاتینې کلمې څخه چې ستنې وهل
نومول شوې ده خو په طبابت کې موخه ترې په یوه
جوف لرونکي اورګان کې د ستنې یا یوې بلې تېرې
آلې ننویستل او له هغه څخه د اوبو یا مایع لکه وینه، یورین
اویا د څېړنیزې پارچې لاس ته راوړل دي چې دا یا انټرا وېنوز ،
لومبال پانکسیون چې د کنولو،تروکرو په مرسته تر سره کېږي

Pupilla , Pupille لېمه، د سترګو تور، مردمک چشم
dilatator pupillae د لېمو یا د سترګو د تور پراخوالئ
Pupillareflex د لېمو عکس العمل



www.ketabton.com

pupillaris هره هغه پېښه یا ناروغي چې لېمو
یا د سترګو تور سره اړه لري

Pus, puris( lat.= gr. Pyo- ) چرک،قیح،چرک لرونکې اوبه،ځوې
Pyaemie د وینې ټول هغه مکروبونه چې له چرکینو
یا قیحي لاملونو سره یوځاي وي
Pyurie ډیر شمیر د وینې د سپینېو ژوانکو
شتوالئ په ادرار کې
Pyonephrose د چرک یا قیح ټولیدنه د بډوډي
په حویظه کې

pyelo- (gr. Pýelos = lat. Pelvis) پیالو له یوې یوناني
کلمې پیالوز څخه اخستلې شوي چې په لاتینه ورته پیلویز
وایي چې تغاره، د خاصرې لګن، حوصله،حویظه معنی ورکوي
Pyelographie د رادیوګرافی په مرسته
دې بډوډو حویظې ښودنې ته پیالوګرافي وایي
Pyelolith د بډوډو په حویظه کې دې تیګې شتوالئ
Pyelolithotomie د بډوډي د حویظې پرانستل دي
چې له دغه ځای یا سیمې څخه د تیګې لرې کولو لپاره
سرته رسېږي
Pyelonephritis د بډوډي او د بډوډي د حویظې التهاب
ته پیالونیفریتیز وایي چې له لوړې تبې، بې اشتهایي او
تندې یا تشنګي سره یوځای وي.چې همدارنګه له یو
پټ فشار لرونکي احساس ورسره یوځای کېږي یا شتون لري
Pyeloplastic د اوپیراتیفي عملیات په مرسته
د بډوډی دحویظې یا لګنچې بیا رغونې ته وایي
Pyelotomie د اوپیراتیفي عملیات په مرسته
د بډوډي د حویظې پرانستل



www.ketabton.com

Pyelorospasmus د پيالو تشنج

pyloro- (gr. = lat. Pylorus) د معدې اخريني سيمه
يا د معدې د وتلو خوله، د معدې رهبري كوونكې خوله
Pylorus د معدې د وتلو لاره يا
د وتلو خوله، اخريني سيمه
Pylorusstenose د معدې دوتلو د لارې
يا خولې تنګوالئ البته په قطر كې

pyo- (gr. Pýon) چرک، ځوې، قيح
Pyogen ځوې جوړونكي، چرک جوړونكي
Pyohaematopneumothorax د قيح، وينې او هوا
يوځاي ټوليدنه په كوګل يا د سينې په قفس، په توركس
كې (په تېره بيا د پلورا په مينځ يا جوف كې) ته ويل كېږي
Pyometra د ځوو يا چرک ټولېدنه په رحم
يا يوټيروس كې
Pyonephrose ځويو لرونكې د بډوډي حويظه
د ځويو يا قيح ټولېدنه د بډوډو په حويظه كې او د ځويو ټولېدنه
د بډوډو له جوړښتونو څخه
Pyopneumothorax ځوو او هوا شتون د پلورا په مينځ كې
Pyosalpinx د ځوو يا چرک ټولېدنه په ټيوب
يا د هګي د لېږدونې لارې يا نلكه كې
Pyothorax د چرک ټولېدنه د پلورا د دو پردو
تر مينځ ته پيوتوركس وايي

Pyramis, pyramidis, pyramid (gr. Pyramìs) په مصر كې
د تاريخي هرم ، حرم ته ورته د بدن شكلونو، جوړښتونو



www.ketabton.com

ته نسبت ورکول شوي یا نومولي شوي، نو پیرامیسز ته
هرم وایي اما هدف ترې په طبابت کې د عصبي ناروغیو
عکسل العملونه د طبي پلټنو په درشل کې دي

Pyramis renalis د بډوړو هرم

Pyromanie اور سوځونکي نیرو، تحریک یا د اور د تحریکولو
په زور د یو شي یا یوځاي سوځېدل،محرک آتش افروزي

pyurie معمولاً دوینې د یوشمیر سپینو ژوانکو شتوالئ
په ادرار کې چې د چرک لرونکي یا قیح لرونکي التهاب له
امله چې په بډوړي یا بډوړو کې په تیره بیا د بډوړو په
حویظه کې مینځ ته راځي پیوري بلل شوئ

# Q

quadrangularis (angulus) = زاویه، کنجونه — څلور کنجه
څلور زاویه لرونکی شکل لکه مربعه، مستطیل

quadratus — څلور کنجه

quadriceps (-ceps له caput) — څلور ککریزه، څلور سره

Musculus quadriceps — هغه عضله چې څلور ککري لري

quadrigeminus — څلورګووني، هغه مور چې په یوه وار
څلور ماشومان نړی ته راوړي یا راوړي وي، چهار ګانګي

Lamina quadrigemina — په دماغ کې د څلورو
وړو غونډیو ډوله جوړښت

quartus (IV = Ordinalzahl ) — څلور(4) ترتیبي
یا جوړونکئ عدد

quarter, viermal — څلور واري

quarttuor (IV = Kardinalzahl) — د څلور عدد یا اصلي عدد

quinque (V = kardinalzahl): — د پنځه عدد چې اصلي عدد



www.ketabton.com

quinquies پينځه واري، پنځ برابر
quintus (V = Ordinalzahl) د پنځه عدد په ترتيبي ډول

## R

R., Ramus (د اعصابو يا د وينې د رګونو څانګه، څانګې)
Rabies (lat.) = Tollwut د سپي د داړلو ناروغۍ په نامه
هم ياده شوې چې د وحشي ژويو لكه د ګيدړې د داړلو له كبله مينځ ته راځي
rachio- /rhachio- (gr. Rháchis ) ملا، د مريو ستون
د ملا مري د ملا تير
Rachitis د ملا التهاب، د ملا د تير يا د فقراتو د ستون التهاب

Radio- (lat. Radius) =وړانګه هغه بدلونه چې
د يوې ناروغي له كبله ميځ ته راځي او د راديولوژي په عكس يا كليشه كې ليدله كېږي چې دا دې راديولوژي د يوې برخې دندې پوري اړه لري
radial د راډيوس د هډوكي خواته يا طرف ته راډيال ويل شوي
radiatio- (lat.) د وړانګو ځلېدل، ځلا، ځلېدل،د وړانګو په مرسته درملنه
Ligamentum radiocarpeum dorsale هغه پړي
يا وندني يا بندونه چې د راديوكارپيوم د شا په سيمه كې پراته يا تثبيت دي
Radiocarpus د راډيوس د هډوكي تنې يا جسم ته وايي
Radiocystitis ادرار د كڅوړې يا مثانې د التهاب چې لامل
يي د وړانوګو په مرسته درملنه وي مينځ ته راغلې وي
Radiodermatitis د كوتان يا پوستكي التهاب چې لامل
يي وړانګې وي، د وړانګو د اثر له مخې دې كوتان التهاب



www.ketabton.com

radiogen هغه څه يا ناروغۍ چې د وړانګو له کبله مينځ ته راغلئ وي

Radiologie هغه پوهه ده چې وړانګې، د وړانګو اثرات په بدن او د وړانګو له کبله پېښې شوې ناروغۍ او همدارنګه هغه ناروغۍ چې د وړانګو په مرسته يې درملنه کېږي،او يا د وړانګو طب څرګندوي

radiologic هر هغه څه سره چې د وړانګو طب مخامخ وي

Radionekrose د ژوانکو مړينه يا وژل د وړانګو د درملنې له کبله يا وروسته د وړانګو د درملنې څخه ته راډيو نکروز ويل کېږي

Radiotherapie د وړانګو په مرسته درملنه

Radius (lat.) د مړوند يا د لاس د لاندنۍ برخې هغه هډوکئ دئ چې د لاس لومړئ ګوتې يا غټې ګوتې په خوا يا جهت پروت دئ

Carpus radi د راډيوس د هډوکي تنې يا جسم ته وايي

Radiusfraktur د راډيوس د هډوکي ماتېدنه

Radix (lat.) په لاتينه ژبه کې ريښې، ريښه،ريشه بيخ ته وايي او په اناتومي کې بيا د بدن د يوې برخې يا غړي منشه، ريښه يا بيخ ته وايي چې هغه برخه ترې جوړېږي د بېلګې په توګه غاښ، عصب او نور

Radix anterior = syn. Radix motoria مخکنۍ ريښه

Apex radicis dentis د غاښ د ريښې څوکه

Radix dentis د غاښ ريښه

Radix posterior = syn. Radix sensoria شا خواته يا وروستنۍ ريښه



www.ketabton.com

Rami = Rr. (څانګې، شاخه ها)

Ramus د اعصابو او د وينې د رګونو څانګه، څانګې

Ramus communicans د يوځاى شوې يا اړيکې

لرونکې څانګې چې د سيمپاتيکوس عصبي پړی يا تناب د څنګ حخه چې له يا دې سپينال يا سپاينل نيرف يا اعصابو خواته پراته دي ويل کېږي

Ramus descendens مخ ښکته خوا پرتې څانګې

Ramus mandibulae د منديبولا يا لاندنۍ ژامې په مسير کې پرتې څانګې

Ramus perforans (lat.) د وينې درګونو يا د اعصابو د څانګو هغه برخې چې په پروته يا مستعرض ډول يا ترانسورز ډول په يوه بله اناتوميکي جوړښت کې روان وي او هلته ميشته کېږي

Raphe, Rhaphe,-rrhaphie (gr. `raphè) ګنډل، دوخت، کوک په اناتومي راهف تار، او ګنډلو ته ويل شوي

Blepharorrhaphie = syn. Tarsorrhaphie يوه برخه يا په ټوليزه(مکمل)ډول د سترګود پورتنۍ او لاندنۍ پلکو ګنډلو ته وايي

Herniorrhaphie د چوره، هيرنيا يا اختناق رغوونه د جراحي عمليات په مرسته

re- (lat. Re) رې يا د کلمې هغه مخکنۍ برخه ده چې د تکرار،نوي کيدل،بيا بيرته مينځ ته راتلل، بازګشت نومول شوئ

Reanimation (lat. Animatio) رې انيماشن له لاتينې کلمې رې انيماسيو څخه اخستلې شوې چې بيا روغېدنه، بيا رغوونه د بېړنيو تدابيرو په عاجلو يا دفعتاً پېښو شويو پېښو له کبله د زړه او د تنفسي سيستم د دندې په ټپه درېدلو کله چې ناروغ شعور له لاسه نه وي ورکړئ تر سره کېږي،تمديد مجدد



www.ketabton.com

Reinfarkt = syn. Recidiveinfarkt د زړه سکته
په تکراري توګه، په تکرار ډول د یوه نوې د زړه د هغې سیمې
د عضلې مړینې یا د سکتې حملې ته وايي چې په زړه
کې همهغې سیمې یا عضلې ته د اکسیجن لرونکې وینې
نه رسېدلو له امله پېښېږي

Recessus هغه جوف یا ځوړنده خونه ده چې د تخرګ
یا اکزیلار د مینځني لیکې په لاندنۍ برخه کې شتون لري
او په هغه کې د پلایرا یا پلورا مایع ټولېږي چې د پنکشن
یا پونکسیون لپاره د اهمیت وړ دئ

recto-(lat. Rectus = gr. Rekto-) دا یوه لاتینه او یوناني کلمه
ده چې سیخه، مستقیمه، بې له قات یا ګونجو څخه ته
وايي او ریکتو یا ریکتوم د غټو کولمو هغه اخرینۍ برخه ده
چې په سیخه توګه یا مستقیمه توګه د سیګموئید او انوس
تر مینځ پروت دئ

rectal له هغو شیانو سره چې ریکتوم مخامخ یا مصاب وي

Rectalis هر هغه څه چې ریکتوم پورې اړه لري

Plexus rectalis د ریکتوم د سیمې پلیکسوز یا
د عصب، ورید او شریان یوځایوالي شتون ته وايي

Rectum / anus (lat. = gr. Prokto-) یوه لاتینه کلمه ده
چې د ریکتوم پای یا اخرینۍ برخه ده چې په یوناني ژبه
ورته پروکټو وايي

Rectus(lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې
سیخه، مستقیمه معنی ورکوي

Recurrens (arteria, nervus) بیرته ګرځیدنه، بیرته تاویدل
لکه بیرته تاوشوي عصب یا دې وینې رګونه



www.ketabton.com

Arteria recurrens بیرته ګرځیدونکي
چې پاکې وینې لرونکي رګونه چې په ورمېږه یا غاړه کې
یې ډېره برخه لیدله کېږي

Febris recurrens د تبې بیرته راګرځیدنه
یا د تبې تکرار چې بابېږئ

Nervus recurrens بیرته راتاو شوئ عصب ته وایي

Reflex یو غیر ارادي عکسل العمل په منظمه توګه
د یوه ښه او بري لرونکي یا نورمال اورګان د یوه تخریش له
امله یا له کبله په فزیولوژیک ډول په یوه مناسب وخت کې
تر سره کېږي، بیرته راګرځیدنه

re- (lat. Re) رې د یوه لاتینې کلمې لومړۍ برخه ده
چې شاته، تکراري په شا، بازګشت معنی ورکوي

-flux (lat. Fluere) د یوې لاتینې کلمې وروستۍ
یا هغه برخه ده چې د بهیر، روان،رود، سین ته وایي

Refluxoesophagitis د خوړو د تیرولو لاره
یا نلکه یا میري التهاب ته وایي چې د معدې د تیزابو د
بیرته راګرځیدلو له کبله چې اویزوفګوز یا میري ورسره په
تماس کېږي چې د ګسټر د کاردیا د سستي یا د دندې
د ښه نه ترسره کېدلو له امله چې معملاً د هیاټوس هیرنیا
ورسره په یوه وخت کې شتوالئ لري چې اهمې نښې
یا سیمپټوم یې د سیمې سوځېدل یا سوزش، ایروفاژي
ډیسفاژي، ریګوریتشن یا د ګسټر د تېزابو د بېرته ګرځېدنه او
د اپپی ګسټرال د سیمې درد شتوالئ وي

Refraktur د هډوکي یا هډوکو بیا له سره ماتیدل
چې لامل یې مخکې له وخته پکارول یا تر فشار لاندې راتلل

Reflux ( lat. Reflectere ) د بدن د غړو یو فزیولوژیک
عکسل العمل دئ چې د یوې بهرنۍ یا غیر طبعي پېښې
په مقابل سرته رسېږي



www.ketabton.com

Pupillaerreflux د پیوپلیر ریفلوکس د سترګو
د تور یا لیمو، مردمک چشم تنګوالئ د وړانګو یا روشانی
له کبله مینځ ته راځي
Regeneration (lat. Regenerare) بیا رغوونه
نوې جوړونه، تجدید، ترمیم
Regio, regionis (lat.) سیمه، محل، ځاي
په اناتومي کې بیا موخه ترې د بدن سیمې دي
Reinfarkt د زړه نوې حمله یا سکته
Relaparotomie د ځینو ستونځو له کبله چې
وروسته له جراحي عملیات څخه مینځ ته راځي جراح
دې ته هڅول کېږي یا مجبورېږي چې ابدومن بیا له سره
پرانیزي یا یي خلاص کړي
Reluxation په تکراري ډول د یوه بند یا بندونو
بې ځایه کیدل چې بې وخته پکارول یا تر فشار لاندې راتګ
rekto-, Rektum = recto- = Rectum ریکتوم د کولمو
اخریني برخه ده چې تقریباً 15 سانتي متره اوږدوالي لري
Rektoskop (gr.skopeín) په اصل کې سکوپي
لیدنې، کتنې، مشاهدې ته ویل کېږي هغه آله چې د ریکتوم
د لیدلو لپاره پکارول کېږي
Rektoskopie هغه عملیه ده چې د هغې په
مرسته د ریکتوم دننه کتنه یا اندوسکوپي پلټنه له یوې
ځانګړي یا مخصوصې نرمې یا د انعطاف وړ تیار شوې آلې
په مرسته تر سره کېږي چې (ریکتوسیګموئیدوسکوپي)
هم ورته ویل کېږي
Rektosiegmiodeoskopie د اس ډوله یا سیګما ته ورته
د غټو کولمو یا کولون او ریکتوم د لیدلو لپاره یا انعکاس ته وایي
Rektumbiopsie له ریکتوم څخه یوه ټوټه
یا پارچه اخستله کېږي او وروسته له پتالوژیکي څېړنې
د ناروغۍ تشخیص کېږي تر څو چې اصلي درملنه وشي



www.ketabton.com

Rektumkarcinom د ریکتوم سرطان

Ren (lat., Niere ) = syn. Nephros: بډوړۍ
Ren dexter ښۍ بډوړۍ
Ren sinister کین بډوړۍ
renalis هر هغه څه چې له بډوړي سره اړیکې لري او یا بډوړی ورسره مخامخ وي
reno- /nephro- بډوړو څخه هدف ده
Renographie د رادیوګرافی د وړانګو په مرسته دې بډوړو ټولیز جوړښت او د بډوړو د پرانشیم او دننه جوړښتونو ښوونه یا لیدنه
renotrop هر هغه څه چې په بډوړي پورې اړه لري یا ورسره مخامخ وي
renovaskulaer هر هغه څه سره چې د بډوړو د وینې رګونه مخامخ وي

Respiratio هوا یا ساه، نفس
Respiration (lat. respiratio) هوا اخستل، تنفس کول
Rete (lat., Pl., retia, Gen., retis, Pl. Retium) ریټ یوه لاتینه کلمه ده چې جمعه یې ریټیا یا ریسیا چې جینیټیف یې ریټیز او جمعه یې ریټیوم ده چې جاله، ځاله، جال شبکه نوموله شوې ده
Retina (lat. Rete) هغه شبکه یا جال چې موخه یې یا هدف یې د سترګې شبکې څخه ده
Retinitis د سترګو د شبکې التهاب ته وایي
Retinopathie د سترګو د شبکې هغه ناروغیو ته وایي چې التهابي نه وي
retro- (gr. Retro-) شاته تګ، بیرته ګرځیدنه، شاته



www.ketabton.com

Retrocaecal ځکوم یا کیکوم تر شا
Retrograd په شاتګ، دې طبعیی بهیر
یا جریان په مخالفه خوا یا مخالف جهت
Endoskopic retrograd cholangiopankreatikographie
د اندوسکوپي عملې په مرسته له لاندې خوا مخ پورته خوا ته
د پانکریاس د لارې او د صفراوي لارې لیدنه، ښودنه او
څېړنه څرګندوي
Retrokardial دزړه شاته، هر هغه څه چې
د زړه د شا برخه کې شتون لري
Retrokolic د غټو کولمو تر شا سیمه
Retropatellar د زنګانه د عینکې شاته یا هغه
پلن هډوکئ چه دزنګانه په مخ پروت دئ د هغه شاته
Retroperitoneal د ګېډې د پردې یا پریتوان شاته
Retropharyngeal د ستوني یا حلق شاته
Retropubic د پوبیز شاته
Retrosternal د سترنوم شاته
Retrotonsillaer د تانسلو شاته
Retrouterin د رحم، یوټیروس شاته

rhachio- / rachio- (gr. Rháchis = lat. Columna vertebralis)
د ملا تیر، د فقراتو ستون
Rhachitis د ملا د تیر یا د فقراتو د ستون التهاب
Rhachischisis د ملا تیر کې یا د ملا په مریو کې
چاود یا درز، بیلونې

-rhag-, -rrhagie (gr. Rhagás) څیرې شوئ، پارګي، درز
Rhagade وچ او چاودیدونکئ پوستکئ لکه په لاسونو
پښوو، د شونډو په کنج کې ته راهګاد یا چاود او درز وایي



www.ketabton.com

Haemorrahgie وينې بهيدنې يا خونريزی ته وايي
چې دې وينې د يوه رګ دې چاودېدنې يا درز له کبله مينځ
ته راځي، ډېره زياته يا شديده بيړنۍ وينه تويدنه
Metrorrhagie ميټروراهژي دې رحم څخه هغه
وينه بهيدنې ته وايي چې د دوه مينسټروشن تر مينځ
پېښېږي يا له وخته دباندې يا د عوامو په ژبه خارج له
مياشتنۍ عادت څخه وي
- rhagie چاود، درز
Rhaphe تار، ګنډل، دوخت
rhaphie : ګنډل
Kolporrhaphie د واګينا ګنډل
Blepharorrhaphie يوه برخه، نيمايي سيمه
يا په ټوليزه توګه يا مکمل ډول د سترګو د پاسنيو او لاندنيو
پلکو لنډول د ګنډلو په مرسته په تيره بيا د پلکو چاودونو
يا درزونو کې لکه په فاسيالېز فلج کې
Herniorrhaphie د چوره، هيرنيا يا اختناق، فتق
جراحي عمليات او دهغه ګنډل او ترميم ته وايي

Rhexis (gr.) يوه يوناني کلمه ده چې چاود، درز نومولی شوې
rhexie /rhexis, Myorrhexie د عضلې چاوديدنه، په عضله
کې د درز پيدا کيدل

rhino-,rhin-,Rin-,Rino-(gr. Rhís, rhisos = lat. Nasus) پزه،پوزه
Rhinitis د پزې التهاب په تېره د پزې د موکوز
يا مخاط التهاب ته ويل کېږي
rhinogen هر هغه څه يا ناروغی چې
له پزې سر چينه نيسي
Rhinopathie د پزې ناروغی، ناکراری



www.ketabton.com

Rhinopharyngitis د پزې او ستوني التهاب

Rhinoplastik د پزې پلاستیک یا مصنوعي جراحي یا رغوونه

Rhinorroe په اکوټ رهینیتز کې معمولاً د موکوز ډېر زیات افرازات مینځ ته راځي (پزې بهیدل) چې ورته رهینورې ویل کېږي

Mucoseabsonderung دموکوز یا مخاط افرازات یا بهېدل لکه د پزې بهېدل

Rhinorrhagie د رهینوراهژي یا رهینوراګي پر ځاي اوس اپیټکسیز ویل کېږي

Rhinoscopie د پوزې دې سینوزونو د ناروغیو د پېژاندنې او ښودنې لپاره د ستوني – پزې – غوږونو ډاکتر له رهینوسکوپ څخه ګټه اخلي

rhinotrop د پزې سیمې

Rhinovirus د پزې ویروس

rhoe, (gr. Rheín په تیره بیا -rrhoe) د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې بهیر، روانیدلو، جریان ته وایي

rhythmo- (gr. Rhythmós = Rhythmus, Takt) یوشانته یوه اندازه، منظم لکه د زړه د یوشانته یا منظم خوځښتونو یا حرکاتو یا تقلصاتو ریتم، مقیاس، ریتم

Arhythmie, arrhythmie د زړه حرکتونه په نامنظمه توګه

Rhythmus په یوه اندازه، په یو ډول شکل، واټن

Rima (lat.) چاود، درز، په مقایسه د فیسورا

Rima ani د ناستي ځاي، یا د انال په سیمې کې چاودونه، درزونه



www.ketabton.com

Rima oris — د خولې کنجو یا څنډو کې
چاودونه، درز یا درزونه
Rima palpebrarum — د سترګو په پلکو کې چاود یا درز
Rostrum (lat.) — مښوکه ، منقار
Rotation(lat. Rotatio)=Syn. Torsion — تاوه ول،دورداذن،ټورزیون
Rotator — تاوونکئ، ټورزیون کوونکئ
Rotundus (lat.) — ګرد ، دایروي، مدور
**RR** = **R**iva-**R**occi — آر آر یو لنډیز نوم دی دې ریوا راچي
چې هغه ایتالوي طبیب وه چې دې لومړي ځل لپاره یې
د وینې فشار وټاکه او هغه یې معلوم او تثبیت کړ چې له
هغه وروسته په طبابت کې دې ده په نامه په ورځنیو طبی
پاڼو او راپورونو کې په لنډیزه توګه لیکل کیږي
Rr., Ramie — څانګې، شاخچې
-rrahag-, -rhag (gr. Rhagás) — درز، چاود، چاودونه
-rrhagie, - rrhagie — ځیرول، پاره کردن
-rrhaphie, -rrhaphie, -rhaphie (gr. Rhaphé) — تار، ګنډل
ترمیم، دوختن د کلمې وروستۍ برخه ده
-rrexie, -rhexie (gr. Rhéxis) — د کلمې وروستۍ برخه
ده چې چاودېدلو ته وایي
-rrhoe — بهیر ، روانیدل

Rubella (lat. Rubellus) — سور رنګه، سوروالئ، سرخي
Rubeola (lat. Ruber) — چې شرئ ، سرخکان ته نسبت
ورکولی شوی دی
Ruber , rubra, rubrum (lat.) — روبر یا روبرا له لاتینې
کلمې څخه اخستلې شوې ده چې سور، سور رنګ
معنی ورکوي اما موخه ترې یا هدف ترې دلته شرئ
یا سرخکان دئ


www.ketabton.com

Ructatio (lat. ructare) اړرمئ، ارګمئ، عارق زدن
Ructus (lat.) = Syn. Ructation (ructatio-) اړرمي ته وايي
چې په معده کې د هوا د زياتوالي له کبله په مقايسه
دې سينګولتوز يا هک کپ، هکک ډېر مينځ ته راځي لکه
په ايروفاژي يا هم په شيدو رودونکو ماشومانو کې
Ruga (lat. ) ګونجې، چين و چروک،د بدن د پوستکي ګونجې
Ruptur(lat. Ruptura ) روپټور، رپچر له لاتينې کلمې
روپټورا څخه اخستلې شوې ده چې چاودېدلو، څيرې کېدلو
شلېدلو ته وايي لکه د بندو شلېدنه، د اورتا چاودېدنه يا رپچر

## S

s.-c. (subcutan) د پوستکي يا جلد لاندې
Sacciformis کڅوړې ته ورته شکل، فورم
خلطي ډوله، بوجۍ شکله
saccus کڅوړه، خلطه
sacer, sacra, sacrum (lat. ) سکر، سکرا، سکروم لاتينه
کلمه ده چې سوچه، پاک، مقدس
sacralis هرهغه څه چې مقدس وی، همدارنګه
کوم شي چې سکروم هډوکي پورې اړه لري
Crista sacralis mediana د سکرال د هډوکي
د مينځنۍ برخې ژۍ يا تېره څنډه
sagittalis (lat. Sagitta) ساجيټا يوه لاتينه کلمه ده چې
غيشئ يا تير معنی ورکوی خو په اصل کې د دوه سطحو
تر مينځ لیکې يا درز دئ ، او ساجيټاليز د غيشي په لوري
يا جهت قرار درلودلو ته وايي



www.ketabton.com

Sagittalebene, Median(sagittal)ebene = sagittal plane
د ساجيټال هم سطحه، ساجيټال سره موازي او
هواره سطحه، مینځنۍ لیکه یا سطحه لکه سوټورا سجیټالیز
Sutura sagitalis دا هغه منځنۍ لیکه یا درز ده چې
د سر د دوه هډوکو تر مینځ پرته ده چې د سوټورا فرانټال
له پای څخه پیل او تر اوکسیپیټال هډوکي پورې رسیږي

sakro- (lat. Sacer) لغوي معنی یې سوچه، مقدس، صلیب
او په طب کې هدف ترې د سکروم هډوکئ او د هغه سیمه ده
Sakralanaesthesie د ساکرال یا صلیبي هډوکي
د سیمې په کانال کې د بې حسۍدرملو پکارول یا تطبیق
کول او د دغه صلیب ته ورته سیمې ویده او بې حسه کولو
ته ساکرال انیستیزي وایي
Sakralgie د ساکرال، سکرال د هډوکي او سیمې درد
Sakrum هدف ترې د سکروم هډوکي دئ
چې صلیب ته ورته حالت لري
Sal (lat.) یوه لاتینه کلمه ده چې مالګې، نمک ته وایي

saliva (lat. = gr. Sialo-) د خولې لاړې، لعاب دهن

salpingo- (gr. Sálpinx = tubo-, Trompete = Tuba uterina هګۍ
لېږدونکې لاره، نفیر سالپینګو له یوناني کلمې څخه اخستلې
شوې چې په ښځینه جنس د رحم نلکې،د هګي لېږدونوونکې
لارې چې ټیوبا یوټیرینا هم ورته وایي نومول شوي
Salpingektomie د ټیوبا یوټیرینا، د هګۍ لېږدونکې
لارې پریکول، لرې کول
Salpingitis د ټیوبا یوټیرینا التهاب
Salpingographie د رادیولوژۍ په مرسته
د هګۍ لېږدونکې نلونو یا نلکو ښودنه



www.ketabton.com

Salpingotomie د سلپنګس پرانستل او دهغه ليدنه
Salpinx, -salpinx (gr. = lat. Tuba uterina) هګۍ لېږدونکې نلکې يا لارې
sanguis, sanguinis (lat.) وينه، خون
sanitas, -tatis روغتيايي، صحت، تندرستي
sanus روغ، سالم، تندرست
Corpus sanum روغه تنه، سالم بدن
Mens sana له لاتينې کلمې څخه اخستلې شوې چې روغ روح په روغ ه تنه يا جسم کې لکه چې وايي سليم عقل په سالم بدن کې وي
sarko- (gr. Sárx,sarkós , Sarco- = lat. Caro) غوښه ميزانشيږم، ګوشت
Sarkom د ميزانشيوم د جوړښت څخه مينځ ته راغلئ ماليګنانټ تومور، پاړسوب، دانه چې ډېر مخکې د وينې له لارې يا هيماټوګين ميتاستاز يا لېږدونه ورکوي

scabies (lat. ) , Skabies يوه د پوستکي يا جلدي ناروغۍ ده چې لامل يې سارکوپتيز سکابيي ده چې عوام ورته جرب هم وايي
scapula (lat.) د ولي يا اوږې د هډوکئ هغه برخه يا ټوټه چې بيلکه شانه په درۍ ژبه ورته وايي
Collum scapulae د سکاپولا ورمېږ، ميرکنډي، غاړه
Levator scapulae د سکاپولا جګونګي يا پورته کوونکي، لوړونکي لکه عضله او نور
schisis, -schisis بېليدنه، درزونه، انشعاب،يو شئ په خپل مينځ کې په څو برخو ويشل يا تقسيمات
Kranioschisis د جمجمعې، کوپړۍ د هډوکو بيل شوي درزونو ته وايي



www.ketabton.com

Kraniorhachischisis د کوپړۍ او د ملا د مریو
یا فقرې په ګډه سره بیلونې، تقسیمات، انشعاب، درزونه

Rhachischisis د ملا په مریو یا فقرو بیلیدنه، انشعاب
schizo- (gr. Schìzein) بېلیدنه، انشعاب، درزونه
Schizoonychie = Syn. Onychoschisis مشابه نوم
یې اونیکوشیسیز ده چې بېلولو، ویشلو ته وایي
Schizophreni e(gr.) = Dementia praecox هغه رواني
ناروغی ده چې په هغه کې د فکر،عقل او احساس ستونځې
هلوسینیشن یا پرته ویل،هزیان ویل غیر ممکنه عقیده
او نظریې پیدا کیدل همدارنګه په یوه موضوع پریکړه
نشي کولای په اصطلاح دوه زړه والئ یا دو دوله وي په یوه
وخت کې مثبت او منفي یو ځای وي د دغه ناروغۍ او یا په
هغه ناروغي چې شیزوفریني هم ورته وایي نښې دي
Sclera (Skler-) د سترګو هغه برخه چې چرمي
پوستکي ته ورته جوړښت لري
scrotum (lat.) = Skrotum , anat. Nomienklatur د خوټو
یا خصیو کڅوړه، خلطه
sectio-( lat. Sectio caesarea) = پریکول، شق کول
سیکسیو دې کلمې هغه لومړنۍ برخه ده چې له
لاتینې کلمې سیکسیو کیزاریا په لنډیز ډول پکارول کېږي او
دې جراحي هغه عملیات دئ چې د هغه په مرسته د
ماشوم زېږون د بیلابیلو لاملونو له کبله چې په طبعیی
توګه ستونځمن وي د ګیډې یا ابدومن له لارې یعني
د لپراتومي په مرسته ترسره کېږي ورته وایي او لغوي
معنی یې په لاتینې ژبه کې د چړې په مرسته پریکول یا
شق کولو ته وایي



www.ketabton.com

Sectio caesarea د هغو ستونځو له کبله چې مور
نشي کولائ خپل ماشوم په طبعي ډول دنیا ته راوړي نو
بیا ضرورت پیښېږي چې له جراحي عمل څخه ګټه پورته
شي او دا کلمه له دې څخه اخستلې شوې چې د لومړي
ځل لپاره څېزا یا کېزا چې د روم کیزا وه زېږون په طبعي
ډول ستونځمن یا ناشونئ وه نو بیا دهغه وخت د طب
ډاکترانو پریکړه وکړه چې دې مور د ابدومینال شق له
لارې ماشوم ژوندئ دنیا ته راوړي نو ځکه د هغه په نامه
یاد شوئ دئ

Section(lat. Secare) له لاتینې کلمې سېکار څخه چې چاړه
وهل ، شق کول ، پریکول معنی ورکوي اخستلې شوې ده

Secundaer دویم، ثانیاً

Secundaerinfection دویم مکروب یا انتان، ثانوي مکروب

secundus( ordinalzahl II) په ترتیبي ډول دې
دوه(2) عدد ته وایي

Sediment (lat. Sedimentum) رسوب، ترسب، دې
مایعاتو رسوب، یا ټیټ کیناستل لکه د یورین رسوب

Segment ( lat. segmentum ) له یوې لاتینې کلمې
سیګمینټوم څخه اخستلې شوې چې یوه ټوټه، قطعه
پارچه نومولې شوې لکه د سږي یوه برخه، ټوټه یا یوه قطعه

Pulmonalesegment د سږو یوه ټوټه، یوه قطعه

sella (lat.) زین، د اس زین، د پزې هغه برخې ته چې
زین ته ورته جوړښت لري

semel

semen (lat.) = Sperma سیمین یوه لاتینه کلمه ده چې
ورته نوم یې سپرم دئ

Semi- (lat. Semis) سیمي دې کلمې هغه لومړۍ برخه ده
چې له لاتینې کلمې سیمیز څخه چې نیمایي یا نیمه
برخه ورته وایي نومولې شوې ده



www.ketabton.com

Seminifer د سپرم لاربښوود، د سپرم رهبري کوونکئ
Tubuli seminiferi د سبرم د لاربښونې نلکې یا کانالونه
Tubuli seminiferi contorti د تستس یا خوټو، خصیو سیخه
یا مستقیم واړه کانالونه، په مقایسه د تستس اړروفي

senectus = Syn. Gero- لوړ عمر، لوړ سن
senex = Syn. Geronto- د لوړ عمر لرونکئ انسان
Senilitas , senil (lat. Senilis) = Senium (lat.), -tatis زړښت
کهولت، پیري
Sensibil (lat. Sensibilis) حساسیت، د حساسوالي استعداد
Sensibilis حساس،احساساتي، ډیر زر خپه
کېدونکئ خو دلته موخه ترې د بدن یا غړو حساسیت په
مقابل د بېلابیلو شیانو ښودل شوي
Sensibilitaet(lat. Sensibilis) حساسیت، حساسوالئ
زر څوریدل، د عوامو په خبره د نازکه زړه لرونکئ
Sensibilasion د یوې پېښې له امله د هغې پېښې
په مقابل کې ډېر شدید عکسل العمل ښودل
sensitiv (lat. Sensere) احساس کول، حس کول، درک کول
لمس کول
sensus حس، چې جمعه یې حواس دي لکه دا لاندې
Sensus auditus د اوریدو حس یا غوږ
Sensus gustus د خوند حس، د ذایقې حس یا ژبه
Sensus olfactus د بویولو حس یا پزه
Sensus tactus د لمسولو حس یا لاسونه
Sensus visus د لیدلو حس یا سترګې



www.ketabton.com

sepso- (gr. Sépsis) = Septikaemie ورسټېدل، خرابيدل
پوسيده، دا يوه يوناني کلمه ده چې د وينې زهري کيدل
د وينې مسموم کيدل، د وينې تسموم ته ويل کېږي په ټوليزه
توګه انفيکشن او د يوې ناروغۍ مينځ ته راتګ ته ويل شوي
Sepsis د وينې زهري کيدل، دې وينې تسموم
Asepsis پاک، سوچه، له مکروب څخه تش او خالي
-sepsis د کلمې وروستۍ يا هغه برخه ده چې ناولتيا
ککړتيا،ګندګي، عفونت نومول شوې ويل کېږي چې ورته
نوم يې د عوامو په ژبه د وينې زهري کيدل نومول شوي دئ
Antisepsis د مکروب ضد موادو ته وايي

septo- / septiko- سيپتو يا سيپتيکو د کلمې لومړۍ
برخه ده چې په طبابت کې پکارول کېږي. يو طبي ډاکتر له
يوې سيپتيکې تبې يا يوې لوړه درجې په درلودلو سره چې
د وينې په اصطلاح زهري کيدلو له کبله مينځ ته راځي غږېږي
septem (kardinalzahl VII) دې اوه يا 7 عدد
septic # aseptic(Keimfrei) مکروبيوالی، په مکروب
اخته شوې دې بدن يو غړی يا سيمه
septimus(ordinazahl VII)
septulum (lat.), Pl. Septula : وړوکي ديوال يا سد، مانعې
ته ويل کېږي لکه
Septula testis
septum (lat. Saeptum) ديوال، دې بېلولو ديوال، څوون
د لرګيو ديوال،مانعه،د همدارنګه په اناتومي کې هم دې ديوال
تيغه،د دو ګاونډيو اورګانو تر مينځ ديوال، جدار لکه سيپټوم انټر
وينټريکولار، سيپټوم اټريووينټريکولار ته ويل کېږي
depressor septi (Muskulus depressor septi) موخه ترې
په ماکزيلا کې فوسا اينسيسيفا سر چينه ده



www.ketabton.com

Septum interventriculare د زړه د لاندنیو کوټو یا خونو
تر مینځ بیلونکئ دیوال
Septum orbitale د دواړو سترګو تر مینځ دیوال
یا پردې کومې چې مخکنئ جوف یې د هغې له څنډې بېلوي
sero- (lat. Serum) د وینې سیروم یا د وینې اوبو ته
ویل شوي پدې معنی چې دې وینې هغه مایع برخه ده چې
د وینې د علقه کیدلو یا لخته کیدلو یا کواګولیشن په پای
کې له وینې بیلېږي او نه لخته کېږي یا په پورتنی سیمه
کې د اوبو یا مایع په شان پاتې کېږي
Seroes دا یو صفت دئ چې د وینې سیروم ته ورته یا
مشابهت لرونکي مایعات یا مواد لکه ایرګوز، د پونکسیون
څخه لاس ته راغلي مایع یا مواد،د پرهار سکریټ یا
افرازات نومول شوي

Serologie سیرولوژي د امیونولوژي یوه برخه
ده چې وینې د سیروم د جوړې شویو محتویاتو د هغوی
دې دفاعي سیستم فزیولوژکي او پتالوژیکي بدلونونو پلټنې او
پوهنې ته وایي
Serotympanon مایع تولیدل یا ارګوس شتون
په ټیمپانون کې، دې ټیمپانون د جوف ډکېدل دې سیروزا
دې وینې یا دې اوبو څخه ډک ټیمپانون ته وایي
Seromukotympanon د غوږ د مینځنی برخې
ډکېدل د سیروموکوز له سیکریټ یا افرازاتو څخه په
کرونیک اوټیټیز میډیا پېښو کې یا هغه افرازات چې ډېره
برخه یي اوبه یا مایع جوړوي ویل کېږي
serra اره، دندانې لرونکې



www.ketabton.com

serratus (lat.) اره شوې
Ora serrata د پولې یا سرحد لیکه لکه د معدې کارډیا
چې دې ایزوفاګوز او د معدې د ننوتلو خولې تر مینځ پوله
پرته سیمه ده

Serum (lat. Serum) سیروم یوه لاتینه کلمه ده
دې لخته شوې وینې څخه دې بېلې شوې اوبو یا مایع چې
ده او دې سیروم له مخې دې ناروغیو تشخیص یا ډیاګنوزیس
د هغو موادو په مرسته کېږي چې د سیروم په جوړښت
کې شتون لري لکه انتي بادي یا د بدن دفاعي سیستم
Serumdiagnose
sex (kardinalzahl VI) دا یو رومې عدد دی چې
شپږ(6) نومولی شوی او دې کاردینال عدد په نامه یادېږي
sextus (ordinalzahl VI)
sialo- (gr. Sìalos = lat. Saliva) د خولې لاړې، لعاب دهن

Sigma سیګما یو یوناني توري یا.“S„ ته وایي
Sigmoid سیګموئید د “S ته ورته شکل ته وایي
“S- förmig„, اس توري
په کلینیک کې Sigma„ یا “Sigmoid„ ویل کېږي یا نومول کېږي
Colon sigmoideum د غټو کولمو هغه وروستی
برخه چې له ریکتم سره یوځای کېږي او دې اس د توري
یا حرف په ډول ښکارېږي کولون سیګموئید نومول شوئ
Sigmiodektomie د سیګموئید لرې کول-S
sigmoideus=Sigma formm سیګما S حرف ته ورته شکل
Sigmioditis = Kolitis د غټو کولمو یا کولون سیګموئیدیوم
التهاب ته چې ورته نوم یې کولیټیز هم نومولی شوی ده وایي
similis ورتوالئ، شباهت درلودل، متشابه



www.ketabton.com

simplex (lat.) ساده، اسانه، د پوهې وړ
sinciput (lat. ) تندئ، تڼډه، د سر مخکنۍ برخه
sincipitis د سر د مخکنۍ برخې التهاب
singultus هک اپ، هک اپ، چې د حجاب حاجز يوه غلطه
تنبيه د دې لامل ګرځي چې فرينيکوس يا حجاب حاجز
ګړندي يا سريع تقلصات يا کانسټرکشن وکړي او دغه
حالت مينځ ته راولي، د عوامو په ژبه هکک
sinister, sinistra, sinistrum کين، کينه ، چپه
Lingula pulmonis sinistri د کينې خوا دې سږي
د پورتنۍ ټوټې لاندنۍ اخره برخه

sinus (lat. ) سينوس يوه لاتينه کلمه ده چې لغوي
معنی يې کږېدل او پراخيدل، غوچ يا عميق، جوفونو
د انحناجوړيدل،خميدګي، انحنا نومول شوې خو په په
اناتومي کې همدارنګه تړل شوي نلکې يا کانالونه، د وينا
يا وريدونو او لمفاوي رګونو پراخيدل او هوا ساتونکي خونې
په هډوکو کې نومول شوي او په طبي ژبه کې سينوس
د پزې، د پوزې د څنګ وړو، وړو سورکو ته وايي
Sinus anales هغه عمق، ټيټ ننوتلي يا فرورفتګي
چې د کولومنا اناليز په مينځ کې شتون لري
Sinus aortae=pl. Sinus Valsalvae هغه انحنا يا پراخوالئ چې
داورتا په ديوال کې د اورتا د پردو يا والوو شاته شتون لري
Sinus coronarius د زړه دې شا په سيمه کې
(فيسيس پاستريور) کې د اټريوم او وينټريکولوم تر مينځ پرته
يا شتون لري
Sinus frontalis د ټنډې يا وچولي سينوزونه يا سورکي
د پزې تر څنک سورکي
Sinus maxillaris د پزې تر څنګ سورکي چې
د ماکزيلا په هډوکي کې يا په پاسنۍ ژامه کې شتون لري



www.ketabton.com

Sinusitis د یوه سینوز التهاب ته وایي چې یا اکوټ یا کورونیک التهاب د پزې د څنګ د سورکو کې له قیح او د احتمال په صورت کې آمپیوم جوړ کړي یو کرونیک یا اوږد محاله سینوزیټیز کولای شي چې تر شا جدي ناروغۍ مینځ ته راوړي تر ټولو ډېر خطرناکه ناروغي مینانجیټېز یا مینانګیټیز اوسټیومیالیټېز او سیپسیز یا د وینې زهري کېدل

sitis, sites (lat.) تنده، تشنګي، غوښتنه، هیله، تقاضا ته وایي

situs (lat.) سیټوس لاتینه کلمه ده چې سیمه، موقعیت حالت ښودل شوئ لکه د یوه اورګان شتون په یوه معینه سیمه یا موقعیت په بدن کې د بیلګې په توګه دې فیټوس یا ماشوم شتوالئ په یوټېروس کې

in situ په یوه (طبعي) سیمه کې یا په یوې طبعي موقعیت کې شتوالئ

Situs viscerum د اورګانونو سطحې او سیمې ښودنه او لېدنه

Skelett(gr. Skeleton) اسکلیټ له یوې یوناني کلمې اسکلېټون څخه اخستلې شوې ده چې هډوکي نومول شوئ دئ چې د کوپړۍ اسکلیټ، د تورکس هډوکي،د لاس او پښو هډوکي د ملا د تیر مرکۍ او داسې نور واړه او غټ هډوکي جوړوي

sklero- (gr. Sklerós) یوناني کلمې سکلیروز څخه اخستلې شوې چې وچوالئ، کلک، کلکوالئ ته وایي

Sklera, sclera

Sklera ikterus د سترګو د سکلیرا زېړ رنګ د بیلګې په توګه په اکوټ هیپاټیټېز کې

Sklerektasie وروسته د التهاب څخه په تېره بیا په مطلقه ګلوکوم یا ابسولوټ ګلاوکوم کې د یوې نرۍ یا نازکه او ندبه لرونکي سکلیرا پراخوالي ته وایي



www.ketabton.com

Sklerektomie د سکليرا (د يوې برخې) لرې کول
د ګلاوکوم ناروغۍ کې ويل کېږي
Skleritis د سکليرا التهاب ته چې په سيميز يا
په ټوليزه توګه پېښېږي وايي
sklerose کلکوالی، سختوالی نومول شوئ
Arteriosklerose د روښانه وينې لرونکي
رګونو يا ضرباني رګونو کلک کېدل چې د منګ سريښ کېدل
يا نښتل، چسپيدن د رګونو په ديوال يا جدار پورې چې
د رګونو د ديوال الاستيکيت له مينځه ځي او تنګېدلو
ته ارټيريوسکليروز وايي
Sklerodermie د يوه اوټواميون ناروغيد رګونو او
د جوړښتي سيستم ته وايي لکه د پوستکي د برخې
کلک والئ يا نرمي او الاستکيت له مينځه تګ ته وايي
Sklerotomie د سترګو د سکليرا پرانستل او ليدنه

skolio-(gr. Skolióse) کږوالئ، د هډوکي کوږوالئ، خميدګي
د ملا د تير ايا د فقراتو د ستون ثبيت شوې غير نورماله وده
يا ډيفارميشن تثبيت شوې ودې ته ويل شوي
Skoliose د ملا د ټير يا د فقراتو د ستون کږوالئ
په يوه خوا يا يوې خواته د ملا د تير کږوالئ

skop, -skop (gr. Skopeìn) ليدنه، کتنه، د ناروغۍ پلټنه
Endoskop هغه اله ده چې د هغې په مرسته
هغه پلټنې يا معاينات تر سره کېږي چې په بدن کې
دننه سيمې ليدلې کېږي
Laparoskop لاپاروسکوپ هغه طبي آله ده چې
د هغې په مرسته يو طبي ډاکتر د ابدومن دننه برخه
په انعکاسي توګه د ابدومن دننه غړو تصوير ويني او ناروغه يا
غير اناتوميکه سيمه څېړي او پيدا کوي او بيا د درملنې لارې



www.ketabton.com

پلټې
-skopi (gr. skopìa) لیدنه، تصویر، انعکاس
Laparoskopie د ابدومن دننه  کوټې یا جوف لیدنه
Oesophagoskopie د خوړو د نلکې یا د خوړو د تیرولو
د لارې دننه برخې د تصویر لیدل
Rektoskopie د ریکتوم د جوف  دننه سیمې لیدنه
skrotal هر هغه څه سره چې د هیسټیز کڅوړه مخامخ وي
Skrotalabscess د سکروټوم په کڅوړې کې د پیوو
یا ځوویو، چرک ټولېدنې ته وایي
Skrotalherni, hodensackbruch د سکروټال
د کڅوړې چوره یا اختناق چې د اینګوینال د سیمې هیرنیا
یو ډول شکل، فارم دئ او ورت هیرنیا سکروټالیز هم وایي
Skrotitis د سکروټوم د کڅوړې التهاب

sol (lat. Solutio) ; kloid سول له لاتینې کلمې سولوسیو
څخه چې منحل کولو یا محلول معنی ورکوي لکه کلوئید

solidus (lat.) سولیدوس یوه لاتینه کلمه ده چې ټینګ
او کلک، سخت معنی ورکوي

solitaer (lat. Solitarius) سولیټیر له لاتینې کلمې
سولایټیریوس خستلې شوې چې یواځې،تنها نومولئ شوئ

-som, -soma, somato- (gr. Sóma, sómatos = lat. Corpus) د
کلمې هغه برخه ده چې بدن، تنه، جسم معنی ورکوي
Soma, Somata تنه، بدن ،جسم، کالبد
Somatogen د تنې یا بدن په خاطر، د بدن له
امله پیښه شوې ستونځه
Somatotrop د بدن ستیمولیشن، د بدن
عکسل العمل، رې اکشن



www.ketabton.com

د هيپوفيز يو هورمون( هغه غده somatotrop hormon
چې په دماغ پورې ځوړنده ده)هغه رې اکشن ښيي چې د
هغه په مرسته بدن وده يا نمو کوي
د کلمې هغه برخه ده چې له somno- (lat. Somnus)
لاتينې کلمې سومنوس چې خوب،ويده، خواب نومولئ شوئ
په خوب کې ګرځيدل، په خوب Somnambulismus
کې له خپل ځائ څخه جګيدل او بلې خواته تلل
خوب لرونکئ حالت Somnolence (lat. Somnolentia)
او په رواني حالت غير توازون او سستي يا خواب آلودګي
بېخوبي، د خوب نه درلودل Insomnie

سونو د هغې کلمې مخکنۍ sono-( lat. Sonare )، Ton.
برخه ده چې غږ، صوټ، لوړ غږ او ټون ته وايي
د وړانګو په مرسته مينځ ته راغلئ Sonogram
انعکاسي عکس، تصوير، د غږ مافوق تصوير
سونوګرافي له Sonographie (lat. Sonare, graphie)
لاتينې کلمې سونو چې غږ، صوټ نومېږي او ګرافي
چې ښيې، خيال رسمولو ته وايي اخستلې شوې ده او
په ټوليزه توګه سونوګرافي په فيزيکي تعريف سره
داسې ښودل شوې چې هغه لانجيټوډينال څپه يا څپې
او يا تر فشار لاندې راغلې د هوا څپو ته ويل کېږي او
په طبابت کې د هغې پلټنې يا مايعناتو پروسه يا تګلاره
ده چې په هغه کې له هغو غږيزو يا صوتي څپو څخه
ګټه اخستلې کېږي چې په بدن کې دننه پرتو غړو
يا جوړښتونو تصويرونه د څپوو په څېر رسم او ښودنه يي کوي

غږ ورکونکئ، طنين اچونکئ Sonor (lat.)



www.ketabton.com

Spondylodese د جراحي عمليات په مرسته د ملا د تير
د جوړو شويو برخو یا سيګمينټو ټينګوالئ په دې توګه چې
د مريو يا فقرو وړوکيو يا کوچنيو بندونو د انټرفيکسيشن يا
په خپل مينځ کې ټينګول دې فلزي نريو ميلو په مرسته سره

spasmo- , Spasmus, -spasmus (gr. spasmós) شخي
تشنج ، د عضلې شخي يا انقباض
Geniospasmus د زنې د عضلاتو شخوالئ يا کرمپ
Koronarspasmus د زړه د تاج ډوله د وينې د رګونو
شخي يا د کورونار د رګونو تشنج
Kardiospasmus د معدې د ننوتلو د خولې شخي
يا تشنج يا د کارديا د سيمې شخي
Pylorospasmus د معدې د وتلو يا اخرينۍ برخې
يا پيلور شخي يا تشنج
Spasmogen هغه څه يا مواد چې د شخۍ ، کرمپ
يا انقباض مينځ ته راوړونکي يا لامل ګرځي
Spasmolyticum هغو درملو ته ويل کيږي چې د شخۍ
يا تشنج له مينځه وړلو دنده په غاړه لري
Spasmolytic يو صفت حالت دئ چې شخي
يا تشنج له مينځه وړونکئ نومول شوئ دئ
Spasmophil شخۍ يا تشنج سره مينه درلودل
يا تمايل درلودل
Spasmus, - spasmus لغوي معنی يې
شخوالی، کرمپ دی خو په اصل کې موخه ترې دې
عضلې شخي، د ماهيچې شخي يا انقباض
Spastic شخي لرونکي،
تشنجي



www.ketabton.com

spatium (lat. ) pl. Spatia ځای، سیمه، محل،کوټه
یا خونه، فضا، تر مینځه فضا یا خونه ، د دو اورګانو تر مینځ
یا د دو شیانو تر مینځ سیمه، فضا
Spatium subarachnoideum د اراکنوئیدیوم لاندې
سیمه یا کوټه، قفس

sperma, spermato- (gr. = lat. Semen) نارینه جنس سپرم
Spermata سپرم
Spermatocell
Spermatogenese د سپرم وده او پرمختګ
دې امبریوجینیزی څخه تر رسیدو یا بلوغ پورېپه نارینه
جنس کې په بېلابیلو حالتونو او بدلونونو کې
Spermiogenese = Spermatogenese
Spermatorrhoe د سپرمونو بهېدل د ادرار له لارې یا
احلیل څخه بې له دې چې شهوت یا شهواني احساس
شتون ولري چې دا دې ډوکټوس اجلکولاټوریوز د ضعف او
ناتوانۍ یا اینسوفیسینز له کبله د ډیفیکشن او میکسیون
یا میکشن سندروم له کبله پېښېږي
Spermaturie په یورین یا میتیازو کې د سپرمي
ژوانکو شتوالي ته وایي
spermio-, spermo- and Spermato- (gr. Spéra, spérmatos =
Samen) سپرم
Spermiogenese = Spermatogenese د سپرمي ژوانکو
پخېدل ، وده او پرمختګ کول
Spermium د سپرمو ژوانکي

spheno-
sphenoidalis



www.ketabton.com

Os sphenoidale
sphenomandibularis
Ligamentum sphenomandibulare
sphincter (gr. sphinktèr) له یونانی کلمې څخه اخستلې
شوې ده چې د تړلو عضله نومېږي، یعنې هغه عضله چې
د تړلو دنده په غاړه لري د بیلګې په توګه اوډډي- سفینکتېر
M. spincter د تړلو عضله، هغه عضله چې د تړلو
دنده په غاړه لري لکه دغه لاندې عضله
sphincter ani هغه عضله ده چې د انوس د تړلو
دنده په غاړه لري

spino- (lat. Spina = Dorn) یوه لاتینه کلمه ده چې اغزئ
تېره څوکه، تیغ، د فوټبال د بوټو میخ لرونکئ تلې ته وایي
خو په طب کې موخه ترې د ملا تیر، د مریو ستون دئ
Spina اغزئ، تیغ، د فقراتو ستون
Erector spinae هغو عضلو ته وایي چې د سپینا د
ټینګولو،سیخه یا مستقیم کولو، پورته کېدلو دنده په غاړه لري
Spinalganglion (Ganglion sensorium nervi spinalis)
Spinalnerv (Nervus spinalis) د ملا دې تیر په مینځ
کې پروت عصب
spinosus اغزي لرونکي، تیغه لرونکي
spiro- (lat. Spirare ) د لاتینې کلمې سپاییریر څخه
اخستلې شوې هغه برخه ده چې هوا اخستل یا تنفس
له هوا ډکې پوکانې معنی ورکوي
Spirometrie = Spirographie د هوا اخستلو یا تنفس
اندازه کولو ته وایي لکه انسان یا ناروغ په عمیقه توګه
څومره هوا اخستلی او بیرته ویستتلی شي ته وایي



www.ketabton.com

splancho- (gr. = lat. Viscera)
Splanchnologie
Splanchnoptose

Splen, splenis (gr. , lat. Lien = synonym lien) تورئ، طحال
Hypersplenismus د توري يا سپلين له طبعی
یا نورمال حالت څخه ډېر کار له حده ډېر فعالیت
Splenektomie = Splen exstirpation د جراحي عمل
په مرسته دتوري لرې کول لکه د توري د چاودېدل دې تراوما
له امله
splenogen هغه پېښې يا ناروغی چې د سپلين
څخه پېښې شوې يا يې سرچينه نيولې وي
Splenographie د راديو ګرافی د ورانګو او کانترستې
موادو په مرسته د سپلين يا توري ښودنه
Splenomegalie د توري غټوالئ، لويوالئ، پاړسوب
Splenicus هر هغه څه چې توري پورې اړه لري
spleno- (gr. = lat. Lien) تورئ، تيلي، طحال
Splenohepatomegalie د توري او ځيګر/لېرمانه غټوالئ، لويوالئ

spondylo-(gr. Spóndylos =lat. Vertebra) د ملا مری، فقرې
د ملا د تیر جوړښتونه
Spondylarthritis = Spondylarthropathie د فقراتو
د مفاصلو التهاب
Spondylitis د فقراتو التهاب ته وايي چې ځانګړې
ناروغي يي اوستيوميالیتیز ده
Spondylodese د ملا دې مريو د تير ټينګول ته وايي
چې دې يوه جراحي عمل په مرسته چې د فقراتو
دې التهابي ناروغيو له کبله مينځ ته راځي او مرۍ
يا فقرې ژوبلوي يا تخريب کوي



www.ketabton.com

-dese (gr. Deín) د کلمې هغه برخه ده چې له
یوناني کلمې ډين څخه چې نښلول، اړيکې ورکول او
ټينګول نومېږي اخستلې شوې ده

Spondylogen هر هغه څه يا ناخوالې چې د ملا
دې مريو له خوا مينځ ته راځي

Spondylopathie = Spondylose د ملا د مريو يا
د فقرات د تير ناروغۍ

squama (lat.) يوه لاتينه کلمه ده چې دکب يا ماهي فلسونو
ته وايي، د سر د پوستکي پټوکي يا پخې نومول شوي

stapes, stapedis سټاپيس په اناتومي کې رکاب ته ويل
شوي او همدارنګه هغه پورې اړه لروونکي واړه هډوکي
او غضروف ته وايي

staphylo- (gr. Staphylé ) سټافيلو د يوناني کلمې هغه
برخه ده چې د انګورو وښکي يا خوشه انګورو ته ورته شيانو
ته ويل کېږي

Staphylokokken = Staphylococcus (gr.) د انګورو
وښکي په شان ګرد يا کولوله باکتري يا باکتريا ته وايي

Staphylodermie د سټافيلوکوکوس له کبله مينځ
ته پيښ شوې پيودرمي يا قيح لرونکی د پوستکي التهاب
يا ناروغۍ ته وايي

Stase (gr. Stásis) درېدل، بندېدل، تراکم، توقف لکه
د وينې په ټيه درېدل په هيموډيناميکو ستونځو کې

-stase, Stand (gr. stàsis) د دوينې درونه يا توقف
د بېلابيلو ميتودونو په مرسته لکه دې درملو يا په جراحي
عمليات کې دې وينې دې رګونو په بيخ کې ليګاتور په مرسته

-stase ، -ase! د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
معمولاً له -ايز ! سره بدلېږي يا په اشتباه سره پکارول کېږي



www.ketabton.com

Cholestase — د تریخي د موادو یا صفرا په تېره درېدلو یا بندېدلو ته وایي

Haemostase — د وینې درېدل،توقف، تم کیدل،بندېدل

Koprostase — د غایطه موادو دریدل، قبضیت

Proktostase — قبضیت، د کوټ یا غایطه موادو درېدل یا بندېدل په ریکتوم کې ته پروکټوستاز ویل کېږي

Stasophobie — ناروغي لروونکئ ډار له تم کېدلو، دریدلو یا پاتیکېدلو څخه یا یو ډول ناروغي ده چې له تم کېدلو څخه ډارېږي

Station (lat. Statio) — تم کېدل، پاتې کېدل، دې اوسېدنې سیمه، ټاټوبئ، دلته موخه ترې روغتون دئ

Stationaer — په روغتون کې پاتې کېدل یا بستر کېدل برخلاف د امبولانټ یا ورځني کلینیک چې بسترونه نه لري او وروسته له پلټنې او درملو ورکول، درملنې رخصت کېږي

status (lat. status) : — پاتې شوئ، حالت، موقف، وضیعت

Status epilepticus — د ایپیلیپسي یا میرګیو د پېښو یا حملو مجموعي حالت

Status idem — په حقیقت کې بدلون نه موندونکي یا تغیر نه لرونکي لاس ته راوړنې یا موندنې، پایلې، نتیجې یا خو دې طبي ازموینې بایلې،نتیجې، تشخیص

Status praesens — کلینیکي روانې یا اوسنۍ پایلې، نتیجې

in status nascendi

steno- (gr. stenós ) — سټینوز یوه یوناني کلمه ده چې دې تنګوالئ، تنګېدلو، نرۍ شي یا سیمې مفهوم ورکوي

Stenokorie — د پوپیلو، حدقو یا لېمو تنګوالئ یا وړکوالي ته وایي لکه میوسیز



www.ketabton.com

Aortavalvusstenose د اورټا د پردو یا والوو تنګوالئ
Enterostenose د وړو کولمو یا نریو کولمو تنګوالئ البته
د قطر له مخې
Pylorusstenose د پیلور یا د معدې دې وتلو په
هغې لارې کې تنګوالئ چې له ډیوډینوم یا د وړو کولمو
له لومړۍ برخې سره یوځای کېږي
Dakryostenose د اوښکو بهیدلو د لارو تنګېدل

Stenose د زېږون له وخته یا په کسبي توګه
د یوه خالي ځای یا جوف لرونکي اورګان تنګوالی یا د وینې
د رګونو په قطر یا لومن کې تنګوالئ، تنګ، نریوالي ته وایي
stercus, stercoris (lat.) کوټ یا غایطه مواد
sternal, Sternum هر هغه څه سره چې ستېرنوم
یا د سینې د مینځنۍ برخې هډوکي پورې اړه لري
یا خو ورسره مخامخ وي
Sternalgie د ستېرنوم دردونه
Sternalpunktion د ستېرنوم د هډوکي پانکشن
د هډوکي د مغز د پلټنې یا معاینې لپاره
Sternoclavicularis هر هغه څه سره چې
د ستېرنوم هډوکي او د ترقوې هډوکي مخامخ یا اړیکې ولري
Ligmentum sternoclaviculare هغه لیګامینټ
یا بندونه چې ستېرنوم له ترقوې سره نښلوي

Sternocleidomastoideus
Musculus sternocleidomastoideus
Sternohyoideus
Sternotomie د ستېرنوم د هډوکې په مینځ کې بېلونه
Sternum (gr.) د ټټر یا د سینې د مینځ هډوکئ
Steroidhormon



www.ketabton.com

stetho- (gr. = lat. Pectus) ستېتو دې يوناني کلمې لومړۍ برخه ده چې په لاتينه کې ورته پيکټوس ويل شوي او معنی يې ټټر، سينه، صدر ده

stheno- (gr. Sthénos) قدرت، توانائي، قوت

asteno- بې له قوته، ناتوانه، بې انرژي

Astenospermie بې قوته او کمزوره سپرم په دې معنی چې د لږ خوځښت قوت لرونکي سپرمونه يعنې د سپرمو د فعاليت لږوالئ

stom- (gr. Stóma, stómatos ) د يونانی کلمې لومړۍ برخه ده چې له ستوما يا ستوماز څخه اخستلې شوې او خوله اړيکې،پرانستل، يو بل سره نښلول ترې موخه ده

Gastroduodenostomie د ګستر او ډيوډينوم تر مينځ د جراحي عمليات په مرسته نوې لاره يا يوبل سره نښلول

Stoma لغوي معنی يې پرانستل، خلاصول او په جراحي کې يوه نوې خوله يا لاره پرانستل يا دې يوه خالي يا جوف لرونکي اورګان پرانستل بهر خواته لکه د کولمو يوه نوې خوله، لاره د ابدومن پر مخ يا له يوه بل خالي اورګان سره

**پاملرنه**

**زمونږ په هيواد کې دې ستوما کلمه په ډېرې اشتباه سره پکاروله کېږي او هغه دا چې دوی دې ستوما اصلي مفهوم بل څه څرګندوي له دې غاښو طب ته ستوماتولوږي وايې چې په رسمي توګه د روغتيا او دې لوړو زده کړو د وزارت له ستوماتولوږی هم په پوهنتون او هم دې هغه په کلينيک کې ليکلي دي چې په اصل کې هغه ډينتولوږي ده هيله ده چې چاروواکي ده ټکي**



www.ketabton.com

**ته پاملرنه وکړي څکه چې نړيوالو ته د ډېرې انديښنې وړ دا ده چې په افغانستان کې چې د يوې جوړې شوې يا مصنوعې خولې او غاښ تر مينځ توپير نشته نو دې هغوي طبابت تر سوال لاندې ده**

-stoma د کلمې وروستئ برخه ده چې پرانستلو ته وايي

Stomacho-, stomachus (gr. = lat. Ventriculus ) معده

Stomato-, stom-, -stoma (gr. =lat. Os, oris) خوله، دهن

Stomata خوله، دهن

Stomatitis د خولې د موکوز د طبقې التهاب

Stomatogen هره هغه پېښه چې د خولې له جوف څخه سرچينه نيولې وي

-stomie (gr. Stòma) په اوپيراتيفي ډول يا جراحي عمل په مرسته يوه نوې خوله ورکول يا پرانستل، پيوستون دې دو خالي اورګانونو تر مينځ

Gastroduodenostomie د ګسټر او ډيوډينوم تر مينځ دې نوې لارې پرانستل يا جوړول

stratum (lat. stratus) هواره، دې ژوانکو هوارې او هم سطحه طبقې يا هوارولی

Stratum corneum, Hornschicht

Stratum pigmentosum, Pigmentepithel (choroidea)

پيګمينټ اپيتيل له کوروئيد يا سره په اړيکه تماس ، ضميمه پيوست کې وي

strepto- (gr. Streptós) غسټريپټو د هغې کلمې لومړی برخه ده چې په يونانی ژبه سټرپټوز ورته وايي او غاړکی، له مريو يا مرغلرو جوړه شوې غاړکی، د غاړې لاکت ترې موخه يا مقصد دی



www.ketabton.com

Streptokokks ستریپټوکوک ګرام پوزیټیف چې په اصل
کې نه خوځېدونکي یو ډول کولوله یا ګرد شکله باکتري
دي چې د مریو روغې شوې یا اوبدل شوې امیل یا غاړکۍ
په شکل وده کوي
Streptodermie د بدن د پوستکي هغه ناروغۍ چې
لامل يي ستریپټوکوک وي لکه پیودرمي، ایکټیمل، ایریزیپل

Stress فشار، اضافه بار، نارامي په تېره بیا دې یوه اورګانیزم
رې اکسیون یا عکسل العمل ښکارکوونکئ حالت ته ویل
شوي چې په کې د سیمپاټیکوس د فعالیت ډېروالئ
د کاټیکول امین د افرازاتو ډېروالئ، د وینې د فشار لوړوالئ
او داسې نورې ډېرې نښې په کې د لیدلو وړ وي

stria ټیټې، عمیقې،لارې یا لیکې یا خطونه، دغه لیکې
یا نښې په پریګنانسي یا حامله دارۍ دوره کې د مور د ګیډې
یا نس په لاندنۍ سیمه کې ډیرې د لیدلو وړ وې یا لیدل کېږي
Striae gravidarum = Striae cutis atrophicae
Strictura (lat.) تنګېدل،سره نزدې کېدل،سره یو ځای کشېدل
Strictura urethrae د میتیازو یا د ادرار د وتلو د لارې
یا احلیل تنګېدل یا تنګوالئ
Stridor (lat.) اشپلاق، شغ شغ اما په اصل کې
دې هوایي یا تنفسي سیستم یا لارې د پورتنۍ برخې
دې تنګوالي، بېځایه کېدلو له امله د انسپایریسیون حالت
کې اشپلاقي ډوله هوایي غږونو ته وایي
Stroma (gr.) یوه یوناني کلمه ده چې د یوې
سیمې غټېدلو، پراخېدلو ته وایي چې په اصل کې د یوه
اورګان دې بنسټ، زېربنا، د جوړښتونو، د دندې د ترسره کولو
دې جوړښتونو( پرانشیم)، د ساتنې د جوړښتونو په مینځ
کې ځای نیسي او غټوي ئې یا پړسوي ئي په تېره یو تومور



www.ketabton.com

(Parenchym)

Struktura ( lat. Structura ) بنسټ، بنیاد،جوړښت، ساختمان

Struma (lat.) سټروما یوه لاتینه کلمه ده چې له اناتومیک یا نورمال حالت څخه د غاړې د غدې یا د جاغور د غدې لویوالي، غټوالي یا پړسوب ته وایي البته طبی اصطلاح یې ټایروئید او په انګریزي کې ورته ګواټر وایي دې دغه غدې پړسوب یا غټېدل چې په ټولیزه، مکمله یا نیمګړې نامکمله توګه چې پتالوژیک نه وي او نورماله دنده سرته رسوي. همدارنګه له سټروما سره کېداي شي چې غده نورمالې دندې یا آیتېریوز میټابولیزم ولري او یا هایپوتیریوز، هایپرتیریوز وي

stylo- یوه یوناني کلمه ده چې تیر، غیشی، تېره څوکه لرونکی معنی ورکوي

styloglossus

Musculus styloglossus

Processus styloideus

styloideus

Stylomandibularis

Ligamentum stylomandibular

sub- (lat. Sub) د کلمې هغه مخکنۍ برخه ده چې د لاندې ترې لاندنۍ، ټیټه سیمه نامکمله حالت لپاره پکارول کېږي

Subarachnoidealroom (Spatium subarachnoideum) د دماغ د اوبو یا مایع خونه یا جوف

Subchondral د غضروف لاندې

Subcutan د پوستکي لاندې، دپوستکي د طبقاتو لاندې

Subfebril (lat. Febris) د لږ شانته تبې درلودل، د بدن د تودوالي د درجې لږ شانته لوړوالئ چې د 37،1- 38،0 درجه د سانتیګریډ( د تخرګ یا اکزیلار اندازې له مخې) ته وایي



www.ketabton.com

Subgingival د غاښو د ووريو يا غوښو لاندې، تحت بيره
Subicterus ساده يا لږشانته زېړئ، زردي
Subileus د کولمو هغه بندښ چې په نيمګړي
توګه يا نا مکمل ډول وي
Subinguinal د غولنګو يا انګوينال د سيمې لاندې
Subkonjunktival د سترګو د کانجونکتيف لاندې
Sublingual تر ژبې لاندې
Submandibular د لاندنۍ ژامې لاندې
Submucoes د موکوز يا مخاط لاندې
Subperiostal د هډوکو د پوښ لاندې
Subphrenic د فرينيک پردې يا حجاب حاجز لاندې هغه برخه
يې چې د ابدومن خوا ته قرار لري ويل يا ښودل کېږي
Subskapulaer د ولي د هډوکي، بيلک شانه
يا سکاپولا لاندې سيمه کې

Substantia (lat.) يوه لاتينه کلمه ده چې
د روحې، ماهيت، ذات، جوهر ، کيفيت، ماده معنی ورکوي
Substantia grisea خړ،د هيرو په رنګ،هيرې رنګه مواد
Substantia alba سپين مواد،سپين رنګه مواد،ماده
Subtotal ټوليزې يا مکمله توګې ته نږدې والئ
Subungual د نوکانو لاندې
sudor ( lat.) خولې، عرق
sudorifera (lat.) د خولو رهبري کوونکې،
خولې جوړوونکي يا مينځ ته راوړونکي موادو ته وايي
Glandulae sudoriferae د خولو د جوړولو، توليدولو
يا رهبرۍ کوونکې غوټې يا غدې



www.ketabton.com

Suizid (lat. Suus, sui,-zid) ) ځان وژنه، ځان په خپله
قصدي وژني،خود کشي چې له لاتيني کلمې سوی د ځان
په معنی او زيډ د ځان په ضد عمل څخه اخستلې شوې ده
suizidal ځان وژنې پورې اړه درلودل
-zied : وژونکي، وژنکئ يا کشنده
Bakterizid د باکتري يا مکروبونو وژونکي
Fungizid د فنجايو يا پوپنکو وژونکي مواد
Viruzid ويروس غير فعال کول، له فعاليت څخه غورځول

sulcus (lat.); Pl. Sulsi وياله،بياله، جوي
Sulcus costae د پوښتيو د هډوکو په اوږدو کې
ويالې يا فرورفتګي ته ورته لارې
Super (lat.) د پاسه، پورته، ډېر ښه، لوړ، له پاسه، پر مخ
لکه دې يوه اورګان د پاسه، سطحي، عالي
Superficies پورتنۍ برخه يا سطحي سيمه، برخه
د مخ د پاسه
Superlativ عاليترين، ډېر لوړ، ډېر ښه
Superior( lat.) ډير لوړ قرار درلودل، ډېر لوړ مقام
عالي، پورته، لوړ، بلند
Superius پورتنۍ، لوړوالئ

Supination ( lat. Supinare) په شا خوا تاويدل
مخ پورته خواته کرېدل لکه د لاس ورغوی چې مخ پورته
خواته ونيول شي چې مقابل جهت يې پرونسيون ده لکه
د لاس ورغوی مخ ښکته خوا قرار ولري، قاتېدل
Supinator تاوونکئ، بهر خواته تاوول، هدف
له هغو عضلاتو يا عضلې څخه ده چې د لاس د بهر
يا باندې خواته تاوولو دنده په غاړه لري



www.ketabton.com

supra- (lat. Supra) پاس، پاسنۍ، پورته، پورتنۍ، بالاتر
Supraclaviculaer کلاویکولیر یا د ترقوه د هډوکي د پاسه
Supraorbital د سترګې د کاسې له پاسه
suprapubic د پوبیک د هډوکي د پاسه یا بهرنۍ سیمه
suprarenal د بډوډو څخه د پاسه، دې بډوډو په پورتنۍ برخه کې
suprasternal د سټیرنوم د هډوکي د پاسه
supravaginal د واګینا د پاسه، د واګینا پورتنۍ برخه
Supremus, (superlativ دې Super) عالیترین

Sutura (lat.) درز، بخۍ، بخیه، همدارنګه
نه ښوریدونکي درزونه یا بخۍ دې کوپړۍ یا سر د هډوکو تر مینځ چېرته چې دغه هډوکي سره یوځاي کېږي، چیرته چې دوه هډوکي سره نزدې قرار لري او د ځانګړیو جوړښتونو په مرسته دې ودې یا نمو په وخت کې سره ټینګ نښلي لکه دې سر په کوپړۍ هډوکي
Sutura fasciarum
Sutura sagittalis د غیشي په شان درز یا تېري بخۍ
چې د کوپړۍ د هډوکو د ښۍ او کینې خوا تر مینځ قرار لري

sy-, sym- ورسره، سره یوځاي، په ګډه، مشترکه
Symbiose (gr. Sxmbìosis) یوځای ژوند کولو ته وایي
چې له لاتینې کلمې سیمبیوسیز څخه اخستلې شوې ده
Sympathikus = vegetativen Nervensystems
Parasympathikus له هغو درې ویجیټاټیف
عصبي سیستم څخه ده چې په خپل سر یا دې ارادي عمل لرونکي نظام دی چې د سیمپاتیکوس په مقابل جهت عمل کوي چې تر ډېره د بدن دننه اورګانو او دې وینې دې بهیر دنده په غاړه لري



www.ketabton.com

Sympatic (gr. Sympatheín ) خواخوږي كول يا درلودل همدردي
Symphysis pubica = Symphyse; Discus interpubicus
Symptom (gr. Sýmptoma) دې ناروغۍ شكايتونه او نښې، اعراض و علايم
Symptomatic د سيمپټومو يا اعراض او نښو شمير،مقدار، مجموعې ته ويل كېږي
syn- (gr. Sýn = sym- ) د كلمې هغه لومړنۍ برخه ده چې له لاتينې كلمې څخه اخستلې شوې ده چې له يو بل سره يوځاي معنى وركوي
Synalgie د درد شتوالئ او حساس والئ په هغه سيمه كې چې له ناروغې سيمې څخه لري پرته وي، يعنې له ناروغه اورګان سره روغ اورګان هم ځورېږي لكه چې په درى كې وايي
چو عضوي روزګار آورد به درد دګر عضوها را نماند قرار
Synaps (gr. synapsis) اړيكې درلودول، ارتباط، اتصال

Synchron په يوه وخت كې، همزمان
Syndaktylie د زېږون له وخته دې لاسو او پښو دې ګوتو په غير طبعي يا اناتوميكې سيمه كې شتون او وده چې په نيمګړې يا ټوليزه توګه دې ګوتو نښتل دې پوستكي يا جلد سره وي په تېره بيا دې هډوكو انومالي شكل كړې وګې، بد شكله
syndesmo- (gr. = lat. Ligamentum) بندونه، مزي، پړي، اوتار
Syndesmosis tibiofibularis
Synergi په ګډه سره كار كول، مشترك كار، يو شانته دنده سرته رسول لكه د عضلاتو او يا دې بدن دننه افرازي غدې په مقايسه د اسينيرګى، انټاګونيسموز



www.ketabton.com

Synostose د وړو هډکو منحل کېدل یا یوځاي کېدل دي
دوو یا ډېرو هډوکو تر مینځه : 1. د زېږون له وخته لکه متقاطع
یا صلیبي فقرې، د لاس د ورغوي هډوکي او د پښو
د بیخ هډوکي نادراً د اوولنا او راډیوس په 1/3 پروکسیمال
یا لومړنۍ برخه کېږ 2. وروسته له ټراوما یا ژوبلېدنې څخه
او داسې نور

syn- (gr. Sýn) سره نږدې کېدل،یوځاي، یوځایوالئ، ټولیدنه

Synthese سره یوځاي کول، سره نښلول

Synthese (gr. Synthesis) یوځاي کول، ترکیب
سره وصل کول، نښلول

Syphilis = Lues (venerea) یو تناسلي یا جنسي ناروغي
ده چې لامل یې ټریپونیما پالیدیوم دئ که چېرې وپېژانده
شي باید روغتیایي مسوئلینو ته خبر ورکړي ځکه چې دا
یو لوي مکلفیت دئ

System

System lamphatic لمفاوي سیستم

Systole (gr. Systolé) د یوه جوف لرونکي اورګان د عضلاتو
سره نزدې کېدل، یوځاي کش کېدل، تقلص، د زړه
د وینټریکالونو کانټراکسیون فاز یا مرحله

# T

tabes, tabis (lat.) = Tuberkulose ټابیس یوه لاتینه کلمه
ده چې لږ کېدل، ضعیف کېدل،ټکېدل یا تکیدګي د ناروغۍ
له کبله لکه توبرکلوز

Tabes dorsalis د شوکي نخاع یا حرام مغز توبرکلوز

tachy- (gr. Tachýs ) بېړه، بېړنئ، سریع، سرعت



www.ketabton.com

brady- (gr. Bradýs ) وروو، لږ سرعت
ټخي دې کلمې هغه لومړۍ برخه ده چې له يوناني
کلمې ټاخيز څخه اخستلې شوې چې ګړنديتوب، بېړه
يا سرعت معنی ورکوي او د براديز چې وروو نومول شوئ
په مقابل کې پروت يا قرار لري
Tachyarrhythmie ګړنديتوب، سريع،په غير منظمه
توګه د زړه خوځښتونه يا حرکتونه يو په بل پسې
Tachykardie د زړه د خوځښتونو د ريتم يا حرکتونو
ناخوالې يا ګډوډي له يوه ګړندي فريکونس چې له سلو
فيصدو = 100٪ څخه ډېر ګړندي او يا ډېر سريع وي
Tachyphagie په بېړه سره د خوړو يا غذايي موادو
خوړل، ژر،ژر يا زر، زر، په عجلې سره خوراک
Tachypnoe ګړندۍ ساه اخستل، سريع تنفس
چې د آکسيجن د ډېر ضرورت او يا د لږ آکسيجن ضرورت
له امله پېښېږي

Takt, Rhythmus = rhythmo-
Tactus (lat. ) لمس، تماس، احساس، د احساسولو حس
Sensus tactus د لامسې حس
Talocalcaneus
Ligamentum talocalcaneum

Talus (lat. ) = Ossa tarsi ټلوس يو هډوکی دی چې
دې پوندې د هډوکئ په مخامخ کې يعنې د پښې په
پورتنۍ برخه کې يا پورته خوا کې شتون لري چې دې
خيز وهلو هډوکي په نامه هم يادېږي
Talusfraktur د خيز وهلو يا ټوپ وهلو د هډوکي ماتېدنه
Talusluxation د ټالوس يا د ټوپ وهلو د هډوکي
بې ځايه کېدل



www.ketabton.com

-taxis (gr. Táxis) ترتیب، تنظیم، په ښه استوار، پایدار
Chemotaxis د کیمیاوي موادو یا ښېموټاکسین له اثر
پیدا شوي ټکسیز یا د ژوانکو د یوه هدف لپاره له فاګوسیټوزي
خوځښتونه په بل عبارت کیمیاوي مواد دې دغه تنظیمي حالت
لاملونه کېږي چې ورته ښیمو ټکسیز یا کېموټکسیز ویل کېږي
Tegmen, tegminis پرستن، لحاف، بام، د کوټې چت
Tegmen tympani د غوږ د مینځنۍ برخې د هډوکي چت
Tegmentum پرستن، سرپوښ، ، چت، بې ځنډو خولۍ
tela (lat.) = Pl. Telae جوړښتونه، د ټوټو یوځایوالی
بافتونه د جوړښتونو طبقې
Tela subcutanea = Syn. Hypodermis د پوستکي
لاندنۍ برخه
Tela submucosa دا هغه جوړی شوې طبقې دي
چې د لامینا موسکولاریز موکوزا او ټونیکا موسکولاریز تر مینځ
پرتې وي لکه په ګسټر یا معدې، او کولمو لارې یا سیستم

tele (gr. Télos) لرې، پراخ، سورور ( gr. = téle) پای، آخر، هدف
Teleangiektasie د پوستکي د پورتنۍ یا سطحي
برخې کې د وینې د کوچنیو یا وړکیو رګونو پراخوالئ
Telemetrie په یوه اوږد واټن کې د لېږدېدنې
یا انتقال د اندازې کولو یا متر کولو ارزش او اهمیت یعنې
د یو شي یا د عصبي عکسل العمل واټن چې له پیل څخه
تر پای پورې د هغه لېږدېدنې اندازه چې په یوه معین زمان
کې تر سره کېږي
Telencephalon, Enkephal = Cerebrum د مغز
اخرینۍ برخه، لوي مغز

Telephon
Teleskop
Television



www.ketabton.com

Temperamente (lat. Temperamentum) په اصلي او معينه
اندازه، ښه يوځايوالئ يا ښه ترکيب، ټيټوالئ، تخفيف،تسکين
Temperatur (lat. Temperatura) د تودوالي درجه
لکه د بدن د تودوالي درجه
Temperatura septic د سيپتيکې ناروغی
له امله د بدن د تودوالي د درجې لوړوالئ
Tempora, Temporum (Pl.) د سر د کوپړۍ دې هډوکو
د ځنکو يا د شقيقې سيمې
Temporalis هر هغه څه چې د کوپړۍ د ځنګو
دې هډوکو پورې اړه لرونکي وي
Os temporale د کوپړۍ يا د سر دځنګو هډوکي
Tempus, temporis وخت، زمان

teno-, tendo-, tendino- (gr. Ténon = n. Lat. Tendo ) دا دې
يونانی کلمو هغه مخکنيو تورو برخې دي چې پړي،قوي بندونه
وتر، اوتار نومول شوي
Tendineus وتريز، وتر لرونکي
Tendinitis د اوتارو التهابونه
tendinogen له يوه ټيندو يا وتر څخه راوتلې
يا پيښ شوي حالتونه
Tendinopathie = Insertionstendopathie, Enthesiopathie
د اوتارو يا تيندو بېلا بيلې ناروغی
tendinoes هر هغه څه سره چې تيندو
يا اوتار مخامخ کېږي يا پرې مصاب کېږي
Tendinose and او Tendinopathie د اوتارو يا د عضلو
د پړو ته ورته سروکو يا څوکو ناروغی
Tendinosus هغه جوړښت يا اورګان چې له اوتارو
يا وتري ريښو څخه ډک وي



www.ketabton.com

Tendodynie د تیندو دردونه
Tendomyopathie د تیندو یا د عضلو د سروکو
چې ډېرې قوي دي ناروغۍ یاستونځې
Tendovaginitis د تیندو یا اوتارو هغه التهاب
ته وايي چې باکتریايي منشه نه لري
Tenodese د وتر یا اوتارو ټینګول یا تثبیت کول
Tenorrhaphie د وتر یا اوتارو ګنډل
Tenotomie د تیندو یا اوتارو پرانستل دې هغو په
اوږدو کې، شق کول او د هغو لیدنه
tensio-, tono- (gr. Tónos, lat. Tendere ) ټینسیو یا ټینزیو
کشولو، فشار،هیجان،تشنج، د پوتینسیال اختلاف، دې
سترګو دننه فشار ته وايي
tensor کش کوونکئ، تشنج پیدا کوونکئ د سترګو
دننه د فشار ورکوونکئ
M. tensor fasciae latae
tenuis (lat.) نرمه، نازکه، ډنګره
ter درې وارې، درې مرتبې، ثې بار
tera بیلیون وارې
terato- (gr. Téras, tératos) ټیراتو دې کلمې مخکنۍ
برخه ده چې له یوناني ژبې ټیراس یا ټیراتوز څخه
اخستلې شوې چې په غیر طبعي، غیرنورمال ډول یا دې
یوې انومالۍ په ډول دې یوه اورګان مینځ ته راتګ، د عوامو
په اصطلاح معجزه دې یوه معیوب ماشوم زېږونه
Teratoblastom یو په ګډه جوړ شوئ تومور
یا پاړسوب چې له نه رسیدلو، اومه یا خامو او انومالي
ترکیبونو، جوړښتونو ته ټیراتوبلاستوم وايي
Teratocarcinom, maligne Teratom(Tetrakarcinom) یو
مالیګنانټ ټیراټوم همدارنګه ټیراټوم کارسینوم
هم نومولئ شوئ



www.ketabton.com

teratogen ټيراټوګين هغه څه يا مواد دي چې
غير طبعي يا انومالي وده ماشومان ته دې مور په ګېډه يا
رحم کې کوي او وروسته معيوب زېږول کېږي
Teratogenese بد شکلي، سوئشکل، د انومالۍ
پيدايښ، بروز، مينځ ته راتګ ته وايي
Teratologie هغه پوهه ده چې د انومالۍ
يا سوئشکل څېړنه کوي او دې لاملونو، د مخنوي او
درملنې لارې پلټي او ترې بحث کوي
Teratom ټېراټوم د زېږون له وخته يو انومالي
يا غير طبعي غړئ، غړي، تومور، پاړسوب، يوه غلطه وده
او جوړښت له بېلابيلو ډولونو سره، د بدن د جوړښتونو
يا غړو انومالي حتی تر دې چې په وېښتو کې هم ليدل کېږي
Teratospermie د سپرمو د ژوانکو انومالي
يا سوئشکله مينځ ته پېښېدل

termino- (lat. Terminus ) پاي، پای ته رسيدل، پولې يا سرحد
terminal هر هغه څه چې په پای کې شتون ولري يا
د پای برخه کې ورسره مخامخ وي په تېره پوله يا سرحد
Terminologie ټرمينولوګي يا ټيرمينولوژي په ټوليزه
يا عمومي توګه په يوه مسلک يا ځانګړي او تخصصي
رشتې کې يوه ځانګړې ژبه او د هغې کلمات او
محتويات پکاروي او ځرګندوي، د بېلګې په توګه د اناتومي
د ټرمينولوژئ محتويات د بدن يا جسم د غړو يا جوړښتونو
ټولې ښودلې شوې کلمې له 1998 کال څخه په ټړيواله
يا يوه ژبه يا په يوه نوم د اصطلاحاتو شمېر تقريباً د(7000)
په شاوخوا کې يا په حدودو کې نومول شوي دي
Terminus (lat.) پای، پوله، آخر، سرحد، خاتمه
tertiaer څلورم برخه، څلورمه سيمه، څلور خواته



www.ketabton.com

testikulaer هر هغه څه سره چې ټیسټیز پورې اړه لري
او یا ورسره مخامخ وي یا پرې مصاب وي
Tertius (Ordinalzahlen for III) = tres, tria (Kardinalzahl III)
ټیرټیوز یو اصلي شمېر دې درې (3) عدد لپاره
Testis (lat.) ; syn. Orchis یوه لاتینه کلمه ده چې موخه
یا هدف یې خوټې یا خصیې دي او ورته یا متشابه نوم
یې اورکېز یا اورښېز دئ
tetra- د څلورو عدد، څلور = 4
Tetraparese د ټولو څلورو اندامو یعنې د لاسونو
او لېنګیو د عضلاتو دې خوځښتونو ستونځې او مشکلاتو
ته وایي یعنې یو نیمګړئ فلج یا اینکامپلیټ فلج
Tetraplegie په ټولیزه توګه یا کامپلیټ ډول
د څلورو اندامو یا غړو یعنې د لاسونو او لینګیو
نه خوځښت چې ورته فلج کېدل هم وایي
Thelo- (gr. = lat. Papilla mammae) دا دې یوې یونانی
کلمې مخکنی برخه ده چې په لاتینه ورته پپیلا مما
نومول شوې چې دې تیوو یا ثدیو څوکې ته وایي
Therapie (gr. therapeìa) یوه یونانی کلمه ده چې
درملنه، پالنه نومولې شوېده او هغه درملنه چې وروسته
له هرې ناروغۍ څخه تر سره کېږي که په اساسي یا لاملي
توګه وي او که په سیمپټوماتیک یا عرضي ډول او داسې نور
chirurgic، syn. Operative هر هغه عمل یا کار چې
یو جراح یې د یوه جراحي عمل یا اوپیراټیف کار په مرسته دې
ناروغۍ دې درملنې لپاره یا دې طبی څېړنو لپاره تر سره کوي

causale اساسي، اصلي، هغه درملنه چې
له اصلي لاملونو یا سببونو سره جګړه یا مبارزه کوي او
له مینځه یې وړي یعنې د ناروغۍ لامل له مینځه وړل
ترې موخه وي



www.ketabton.com

هغه درملنه چې په هغه کې یوازې درمل conservative
پکارول کېږي بې له دې چې جراحي عملیات تر سره شي

رېښتینې درملنه، هغه درملنه چې دې curative
هغې په مرسته دې ناروغۍ اصلی لامل له مینځه لاړه شي

یوازې عرضي یا palliative = Symptomatic Therapie
سیمپټوماتیکه درملنه لکه دې درد یا کوم بل شکایت لرې کول

له درملو سره درملنه Pharmakologic
یا د درملو په مرسته درملنه
فیزیکي درملنه Physiotherapie = Physicaltherapie
لکه تودوالئ، سوړوالئ، خوځښتونه، حمام
مساژ، اتوموسفیر، اقلیم، وړانگې، برېښنایي آلاتو او
داسې نورو موادو څخه گټه پورته کول
د رواني ناروغیو درملنه Psychotherapie
په ځانگړې توگه، په خاصه توگه او په طبابت specific
کې موخه ترې دې ناروغۍ د لاملونو یا اسبابو ضد عمل
تر سره کولو ته یا انتیگونست ته وایي
هغه ناروغي چې د خپلو نښوو او symptomatic
اعراضو، علایمو په مرسته روښانه او واضح د پېژاندنې
وړ وي، لغوي معنی یې عرضي، نښې لرونکې
لغوي معنی یې غیر وصفي ده یعنې unspecific
په عمومي ډول غیر وصفي درملنې تې وایي

تېرمو د کلمې هغه لومړۍ برخه ده thermo-, -thermie
چې تودوالي، د حرارت درجه په طبابت کې د بدن
دننه تودوالئ، درجه د حرارت ته وایي



www.ketabton.com

Hypothermie له نورمالې درجې څخه ټیټه درجه
په اصل کې دې پدن دې حرارت ټیټه درجه
Thermanaesthesie د تودوالي یا حرارت په مقابل
کې د احساس یا حساسیت له لاسه ورکول یا نشتوالئ
thermogen تودوالئ یا حرارت مینځ ته راوړونکئ
Thermographie د تودوالي (د بدن د پوستکي تودوالئ یا
حرارت) د ګراف رسمولو ته یا د بدن د تودوالي درجې د عکس
یا تصویر ښودنې ته وایي
Thermolabil (lat. Labi) یوه لاتینه کلمه ده چې
رېږدېدونکي یا ناثابته معنی ورکوي ټېرمولابیل دې
تودوالي ښویدنې یا لرزش ته وایي یعنې چې په یوه
معینه درجه نه پاتې کېدوونکې وي، تل بدلون په کې
وي، لوړې درجې سره حساسیت ښوودنه
Thermometer د تودوالي د درجې د اندازه کولو آله
Thermostabil (lat. Stabilis); دا هم ټینګ، مقاوم
یوه لاتینه کلمه ده چې دې تودوالي یو ډولوالئ یا ثابت والئ
د لوړې درجې په مقابل ثابت او مقاوم پاتې کېدل
Thermotherapie د تودوالي یا د حرارت په مرسته درملنه
thorako- (gr. Thórax = lat. Pectus) ټټر،د ټټر قفس،سینه،صدر
thoracal هر هغه څه سره چې تورکس
مخامخ یا اړیکې لري
Thorakodynie د تورکس یا دې سینې ټټر دردونه
Thorakotomie د یوه جراحي عملیات په
مرسته دې ناروغۍ د پېژاندنې یا تشخیص او درملنې لپاره
د تورکس پرانستل
Thorax (gr.) ټټر، د ټټر قفس، صدر
Thoraxempyem د تورکس په کوته یا جوف کې
د آمپیوم یا ځویو یا قیح ټولېدنه



www.ketabton.com

Cavitas thoracis د تورکس جوف یا د تورکس
خالي کوټه، خونه
-thorax د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې تورکس
یا د سینې قفس پورې اړه لري
Haematothorax د وینې ټولېدنه د تورکس په جوف
کې یا د دوو پلورا یا د پلایرا د جوف په مینځ کې
Haematopneumothorax د وینې او د هوا ټولېدنه
د پلایرا یا پلورا د جوف په مینځ کې
Pneumothorax د هوا یا ګاز شتون د پلایرا
په خالي کوټه یا جوف کې
Pyothorax د پیوو یا ځویو ټولېدنه د پلایرا په جوف
کې یا چرک لروونکئ پلایریټیز
Pyopneumothorax د ځویو یا قیح او هوا شتوالئ
د پلایرا په جوف کې
Pyohaematopneumothorax په تورکس کې
د ځویو، وینې او چرک شتوالئ په ټېره بیا د پلایرا په جوف کې

thrombo- (gr. Thrómbos) دا له یوناني کلمې ترومبوز
څخه اخستلې شوې ده چې په ټولیزه یا مکمل اویا نیمګړې
یا نسبي توګه دې ارټېریا یا شریانو او وېنا یا وریدنو او
همدارنګه د زړه د جوف دې یوې برخې بندېدل چې دې
رګونو په دننه کې دې وینې دټینګېدلو له امله او د وینې
دې غوټه کېدلو له کبله یعنې د ترومبوسیټو د یوځایوالي
تراکم او فیبرین سره په ګډه جوړېږي نومول شوئ
Thrombangiitis د وینې د رګونو دې دیوال التهاب چې
د وینې د ټینګېدل یا لخته کېدلو سره یوځاي وي



www.ketabton.com

Thrombektomie د جراحي عمليات په مرسته دې
وينې د رګونو څخه د وينې د غونډاري يا کولوله شوې وينه
يا د وينې علقې لرې کولو ته وايي
Thrombocyt هوارې، بشقاب ډوله د وينې هغو ژوانکو
ته چې هسته نه لري او د هډوکو په مغز کې جوړېږي
ويل کېږي
Thrombocytopenie د ترومبوسيټو لږوالئ نسبت
نورمال شمېر ته ترومبوسيټوپيني وايي
Thrombocytose په وينه کې دې ترومبوسيټو
دې شمېر ډېروالئ له نورمال حالت څخه
Thrombogenese د وينې غونډارئ ،علقه
يا کواګول جوړېدل او مينځ ته راتګ
Thrombolyse کله چې د وينې د رګونو لومن
يا لاره د وينې د لختې يا ترومبوز په واسطه بنده وي نو بيا
د درملو په مرسته کېداي شي چې دا ترومبوز منحل او
له مينځه لاړ شي
Thrombophlebitis د ټيټو يا عميقو تورې ونې لرونکو
رګونو يا وېنا، وريد التهاب ته ويل شوي
Thrombose د وينې ټينګېدل کلکېدل، لخته
يا علقې ته وايي چې دې بدن د يوې ناروغۍ هغه
حالت څرګندوي چې په هغه کې د وينې يو رګ دې وينې
د يوې لختې په مرسته تنګېږي يا بندېږي
thrombotic هر هغه څه سره چې يو ترومبوز
مخامخ وي يا ورسره اړيکې لري
Thrombus ټينګه شوې د وينې ټوټه، د وينې لخته

thyr(e)o- (gr. thyreós) = Thyreoidea= glandula thyroidea
جاغور، د جاغور غدې چې ورته ګلاندولا تيروئيد يا هم وايي
thyroepiglotticus



www.ketabton.com

Musculus thyreoepiglotticus

Thyreose د جاغور دې غدې هغه ناروغۍ چې
التهابي نه وي

Hyperthyreose د جاغور یا تیروئید، تایراید
د غدې هغه ناروغي چې په هغه کې دې جاغور غده له
حده زیات هورمونونه جوړوي یا تولیدوي، پروډکسیون کوي

Hypothyreose د جاغور د غدې دنده په ټیټه کچه
یا دې دغه غدې د فعالیت او هورمونو جوړونې لړوالی

thyrogen هره هغه ناروغي چې لامل یې
له تیروئید یا د جاغور له غدې سرچینه نیولې وي

Thyreokardiopathie تایروکاردیوپاتي دا هغه کلمه
ده چې سربېره د زړه دې نورو ناروغیو په څنګ کې دې
زړه اریتمي (غیرمنظمه خوځښتون)، ټاکي کاردي کېدای
شي چې د جاغور دې ناروغیو له کبله مینځ ته راغلې وي

thyreoido- تایروئیدو د کلمې لومړۍ هغه برخه
ده چې د جاغور غده نومولې شوې ده

Cartilago thyreoidea د جاغور د غدې غضروف

Thyreoidektomie جراحي عملیات په مرسته دې
تیروئید یا جاغور غده په مکمل ډول لرې کول چې تر ډېره
حده د تیروئید د کارسینوم د شتوالۍ له کبله تر سره کېږي

Hemithyreoiddektomie د جاغور د غدې یوه برخه
یا نیمایي برخه لرې کولو ته وایي

Thyreoiditis د تیروئید یا د جاغور د غدې التهاب

Thyroideus د جاغور د غدې ته ورته فورم، شکل

Tibia (lat.) د لینګي د لاندنۍ برخې د مخې سیمې
قوي هډوکئ یا د پښې د ساق هډوکئ

Tibiofibularis هر هغه څه چې د ټیبیا هډوکي او
دې هغه تر څنګ د فیبولا هډوکي پورې اړه لري



www.ketabton.com

Ligamentum tibiofibulare هغه لیګمنټ یا قوي
پړي، وندني چې ټیبیا او فیبولا سره نښلوي

Tibiafraktur د ټیبیا د هډوکي ماتېدنه
tibial هر هغه جوړښتونه چې د ټیبیا هډوکي
خواته پراته وي یا شتون ولرى یا ورپورې اړه ولري
tomo- (gr. Tomé) ټومو له یوناني کلمې ټوم څخه
اخستلې شوې ده چې پریکول،پریک شوئ، بریدګي ته وایي
-tom د کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې دې پریکولو
آله نومولې شوې ده لکه چاړه، سکابیل او نور
-tomie دا دې کلمې هغه وروستۍ برخه ده چې
پریکول، پرانستل او یا یو شئ په اوږدو کې شق کول ترڅو
چې دې هغه دننه محتوي ولیدله شي
